


Download From: Aghalibrary.com


بسم الله الرحمن الرحيم

# دکتاب پېژندنه:

نوم: زمامناظره دیوه عیسایي راهب سره

مناظر اولیکوال: عبدالغفارجُبیر

برېښنالیکونه:

jubair_akcc@yahoo.com

M_muzzammel@yahoo.com

کمپوزر: المزمل کمپوزنګ مرکز

دچاپ کال: ۲۰۱۲ میلادی

دچاپ شمیر: ۱۰۰۰ ټوکه

دچاپ لړۍ: لومړۍ

دچاپ شمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

خپرونکی: صدیقی خپرندویه ټولنه کانسی روډ کوټه

دکتاب ټول حقوق دلیکوال سره خوندی دي.




**دأمت مسلمه ودرې خدای بخښلو**

**مناظره کوونکوهستیوته:**

**۱: داظهارالحق لیکوال علامه مرحوم مولانا**

**رحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه.**

**۲: علامه مرحوم سیدجمال الدین افغان**

**شهیدرحمة الله علیه.**

**۳: علامه مرحوم احمددیدات**

**رحمة الله علیه.**

# منښه ! ! !

ډاکټرنثاراحمدصمد کاناډا

زاهدجلالی پیښور مفتی

ډاکټرمحمدامین برازیل

محمدعلی عمری مسلم باغ

محمدالرحمن ګوجران والا پیښور

خالدهادی دیینواویب پاڼې مشرامریکا

عبدالله احسان کاکړ دلراوبرویب پاڼې مشردامستردام

محمدطارق بزګرددعوت مجلې اوویب پاڼې مشرناروی

اوټولوهغوویب پاڼواوبلاګونوڅخه چې دامناظره ئې په ډېره مینه سره دنړۍ ترګوټ ګوټ پوری ورسول اوخپره ئې کړل.

دټولوهغوګرانوورورنواوخویندوڅخه چی وموږته ئې ددې مناظرې په هکله خپل ښکلی، په زړه پوری، معلوماتي اواسلامي نظرونه اواحساسات راولېږل.

(جُبیر)

## لړليک

| لړ: | مضمون: |
|---|---|
| ۱: | لومړی تقريظ |
| ۲: | دوهم تقريظ |
| ۳: | دريم تقريظ |
| ۴: | دسرخبرې |
| ۵: | دمناظرلپاره اړينه ده |
| ۶: | دعيسايي مبلغينواومبشرينوتاکتيکونه |
| ۷: | دبناغلی جيمز(James) ځواب |
| ۸: | په عيسايت کی مطالعه |
| ۹: | دعيسايي راهبانواواسقفانوسره مناظرې |
| ۱۰: | دمولاناعبدالعزيزدهلوی (رح) اوپادری مناظره |
| ۱۱: | دمولاناسندهی (رح) اوعيسايي پادری مناظره |
| ۱۲: | مولانارحمت الله کيرانوی الهندی(رح) اوپادری فنډر |
| ۱۳: | امام فخرالدين رازی(رح) اوعيسايي پادری |
| ۱۴: | مولاناصفدراوکاړوی (رح) اوعيسايي پادری |
| ۱۵: | يومسلمان عرب اوعيسايي راهب |
| ۱۶: | جناب خالدمحمودصاحب اوعيسايي پادری |
| ۱۷: | دمرحوم شيخ احمدديدات مناظرې |
| ۱۸: | دکيتي پيټر (Cathy Peter) دسوال ځواب |
| ۱۹: | ديوې عيسايي ميرمنی يوحنامريم دسوالونوځوابونه |
| ۲۰ | وامت مسلمه ته لاربښوونه |
| : | مناظره اودمناظرې دعلم پيژندنه |
| ۲۱: | مناظرې ته ولی مناظره وايی؟ |
| ۲۲: | مناظره، مجادله اومکابره |
| ۲۳: | دمناظرې دعلم تدوين |
| ۲۴: | دمناظرې حکم |
| ۲۵: | ديوه عيسايي راهب سره زمامناظره |
| ۲۶: | دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه دمناظرې په هکله نظرونه |

## سنت کول ، فرض بایلل !

عیسویان د تثلیث یعنی درېِ ګوني توب په غلطه ګروهه دي ، چې هغه خدای ، زوی او روح القدس دی . د دوی په نظر حضرت عیسی (ع) د خدای زوی دی ( نعوذ باالله ) . څنګه چې عیسی (ع) واده نه وو کړی ، نو له همدې امله اکثره عیسوي راهبان او پادریان ( نرینه یا ښځینه ) واده نه کوی بلکې د دوی په نزد ګواکی د عیسی (ع) سنت پلی کوی.
څه موده مخکی د امریکا او برتانیې په مختلفو ښارونو کی د اسلامی او عیسوی علماوو تر منځ د همدې مسألې په سر مناظرې او مباحثې رواني وې. کله به دوی هغوی رابلل او کله به هم هغوی دوی وربلل. کله چې عیسوي پادریان او اسقفان د مسلمانو علماوو میلمانه سول ، نو یو اسلامی عالم د روغبړ پر مهال د هیّت مشر ته وویل چې کورنۍ او ماشومان دی څنګه دي ؟ عیسوي عالم ځواب ورنکړ. خو دغه مسلمان بیا ورځخه وپوښتل چې اولادونه دی څنګه دي ؟ هغه بیا هم په اصطلاح تله تیره کړه یعنی ځان یې ناګاره واچاوه . مسلمان عالم دریېم ځل ورځخه وپوښتل چې څو بچیان لرې او هغوی څنګه دي ؟ دا مهال عیسوي راهب سخت غبرګون وښود او داسی یې ورته وویل: آیا ته خبر نه یې چې موږ عیسوي اسقفان واده نه کوو ؟ نو چې واده مو نه وی کړی ، اولادونه به مو له کومه وی ؟ خو ته بار بار همدا سوال راځخه پوښتې !
دا مهال مسلمان عالم په نرمۍ او عاجزۍ سره ورته وویل چې ته د اولاد لرنه ځانته دومره بده او شرم ګڼې ، نو الله ته په کوم دلیل اولاد منسوب کوې ؟ د دې عقلی او منطقی لنډ دلیل په اورېدو سره پادري پټه خوله او ډېر شرمنده سو .

هو ، ځکه نو وايو چې عيسوی راهبانو د « سنت » په کولو سره فرض بايللی دي. له همدې امله زياتره اسقفان او پادريان لواطت او همجنس بازي کوی ، آن خپل ځان د جنسی پلوه د بل په واک کی ورکوی ( فاعتبروا يا اولی الابصار ) !

په هر صورت ، دا نن علمأ او منطقأ ثابته سوې ده چې ننني انجيل نه د الله تعالی کلام دی او نه هم پخپله د عيسی (ع) تأليف دی ، که نه قرآن مجيد به نه نازليدئ. بلکې ننني انجيل او تورات دواړه د نوم ورکو اشخاصو ليکنی او راټولونی دي چې ناحقه يې عيسی (ع) او موسی (ع) ته منسوبوي.

د انجيل د متن او جملو ټکرونه ، تحريفونه او غلطۍ دومره ډيری دي چې د سلګونو پوله يې ماته کړې او زرګونو ته رسيږی. دا غلطيانی او نيمګړتياوی لومړی ځل د ۱۹۵۷ د سپټمبر پر اتمه د « وينبتيا » په نوم د يوې عيسوۍ مجلې څخه را وټوکيدې ، او بيا د ۱۹۷۴ کال د ډسمبر پر ديرشمه د « ټايمز » معتبری مجلې د « انجيل څومره رښتيانی دی ؟ » تر سرليک لاندی بربنډ کړل. خو نن د انجيل د متن دا ټکرونه ،اختلافونه ، تحريفونه او تناقضونه آن تر پنځوس زرو هم اوښتی دي چې ښاغلی جبير يې په دې مغتنم اثر کی څو بيلګې راوړی دي.

مهمه خبره دا ده چې اسلام تر عيسويانو هم حضرت عيسی (ع) ته ډير درنښت او منښت لری. خو د دواړو عمده فرق دا دی چې عيسويان حضرت عيسی (ع) د خدای زوی بولی ( نعوذباالله ) ، مګر مسلمانان يې د خدای پيغمبر او بنده بولی. د يو تريخ حقيقت په توګه پخپله عيسی (ع) هم قطعأ دا نه دي ويلی چې زه خدای يا د خدای زوی يم او ګواکی زما عبادت وکړئ. په ټول انجيل کی داسی څه نسته. خو

عیسویان په لوی لاس دغه انحراف او تحریف ته اړم دي. څو مثالونه به یې دلته ذکر کړو چې عیسی (ع) څه ویلی دي:
زما پلار تر ما ستر دی (یوحنا ؛ ۱۴ : ۲۸ ).
زما پلار تر ټولو لوړ او ستر دی (یوحنا ؛ ۱۰ : ۲۹ ).
کېدای سی چې هغوی رښتینی خدای وپیژنی ، لکه زه چې هم هغه رالیږلی یم (یوحنا ؛ ۱۷ : ۳ ).
د حیرانۍ خبره لا دا ده چې عیسی (ع) پخپله اعتراف کوی چې زه د نورو پیغمبرانو د دندو د بشپړتیا په خاطر راغلی یم (انجیل متی ؛ ۱۷ باب ، ۵ـ ۲۰ ).
تریخ حقیقت خو دا دی چې پخپله ننني عیسویت هم تثلیث نه منی . د مقدس کتاب د متن یو لیکوال د عیسی (ع) څخه وپوښتل چې تر ټولو لومړنی الهی حُکم کوم یو دی ؟ نو عیسی (ع) د موسی (ع) خبره ورته تکرار کړه یعنی : « خدای پاک ؛ زموږ خدای یوازی خدای پاک دی » ( مرقس ؛ ۱۲ : ۲۹ ).
نو ویلای سو چې نننیً عیسویت یو فسخ سوی او مسخ سوی دین دی او فقط په مراسمو ، تشریفاتو ، نمانځنو او ظواهرو کی شتون لری . پیروان یې هغه څه نه منی چې کتاب یې وایی او کتاب یې بیا هغه څه نه منی چې پیروان یې وایی. ځکه نو په دې مناظره کی پر همدغه تخیل او تجاهل باندی رونړا اچول سوې ده.
هو ، ګرانه لوستونکې ، ښاغلي عبدالغفار جُبیر په صداقت او متانت سره دغسی ترخه حقایق سپړلی ، شنلی او څیړلی دي چې کېدای سی په افغانستان کی یې د مرحوم او مغفور شیخ احمد دیدات او علامه ډاکټر عبدالکریم ذاکر نایک د لارې لاروئ وبولو .

که څوک دا لنډه مناظره په غور ولولي ، نو ورته معلومه به سي چې محترم جبیر څومره فراست او نفاست ښوولی ، څومره تحقیق او تدقیق یې کارولی او څومره اهلیت او لیاقت یې لورولی دی. زما هیله دا ده چې ښاغلی جبیر خپل دغه یون او پرمخیون ته پایښت ورکړي او د لا زیاتو خیرنو او سپړنو باعث ورګرځي.

د ښاغلي جبیر دا مناظره به افغانانو ته هله ګټوره وي چې د هغې په متن او بطن ښه ځانونه پوه کړي ؛ یعنی د عیسویت په نیمګړتیاوو کی د اسلام بشپړتیاوي ومومي ، د عیسویت په مضارو کی د اسلام مفاد ولټوي ، او د عیسویت په لاس وهنه کی د اسلام پوهنه ووینی.

زه د ځوان بلندوي ښاغلي جبیر دا اثر زموږ تشتت ځپلو ځوانانو ته یو عقلی ، نقلی او تاریخی دلیل بولم او هیله من یم چې د لویدیځی یعنی هغه دیموکراسۍ مینانو او عاشقانو ته چې د همدې عیسویت د نیمګړی عقیدې او فلسفې څخه راټوکېدلې ده ، د عبرت درس وي. نو ځکه حق لرم چې ځوان اسلامپال او هېوادپال جبیر صاحب ته د دې ګټور او منور اثر د خپرېدو له امله د زړه له تله مبارکي ووایم. الله تعالی دی یې پر حرکت برکت او پر محنت منفعت ولوروي ، انشاالله

احقرالعباد نثار احمد صمد
له هېواده دوولس زره کیلومتره لیری ، کاناډا

## دوهم تقریظ

## ان الدين عندالله الاسلام

الحمدلله رب العالمين والعاقبة للمتقين والصلوة والسلام على سيدالانبياء والمرسلين وعلى آله واصحابه اجمعين.

دالله جل جلاله په نزد اسلام یوائنی الهی دین دی چې دټول بشریت لپاره ئې انتخاب کړیدی، بل هردین دالله جل جلاله په نزددمنلوړ نه دی، نودایو حقیقت دی اسلام یوائې الهی او اسماني حق دین دی.

رښتیاچې ډیرمسلمانان دننۍ نړۍ دعصري ودې اوپرمخ تللی انټرنیټی میدانوکی مخ په وړاندی ګامونه اخلی، وینوچې څومره مسلمانان اوددوی اولادونه له دینی احکامو، شعائرو اودخدای دنازولی خوږپیغمبرصلی الله علیه وسلم دسیرت اولارښوونو سره نابلده کیږی؛ هغه لارې اوښوونې چې اسلافوبه پرې ګامزن وو، اودنړۍ ټول ادیان، ټولنې اوتمدنونه به ورته ګوته په غاښ ؤخواوس یې پرې ایښی اومخه ئې ورڅخه اړولی ده، اواوسنی نسل په ځانګړی ډول سره ځوانه طبقه دخپلو اسلافودارزښتونوپه وړاندی خپله بې اعتنایی اوبې پروایی ښي.

لهذا ! دغه ځورونکی چاپیریال اومحیط ورځ په ورځ زموږپه اسلامي ټولنه کې خپل اثررسوخ اواغیزې پریږدی، برعکس وبل لورته کفري مطبوعاتی ادارې اوعیسایی مشنری په ډیرشوراوځوږسره لګیادی چې دمسلمانانوټولنه ، چاپیریال ، نسل اومذهبی ولولې دسیکولری

مفکوروپه قثافتواوناولواغیزوککړې کړی اوپه اخلاقي نیمګرتیا ووئې اخته کړی؛ چې دهمدی موخولپاره ئې شپه اوورځ پوره هلې ځلې اوکوښښونه روان کړی هم دی اوبل داچې دخپلې سرمایې یوه برخه ئې هم دبې دینه انقلاب راوستولولپاره ځانګړې کړېده، ترڅوبیا خپل شومې ارادې، نقشې ،موخې اوخوبونه (خدای مکړه ) پرې رښتني کړی اوکفری کرغیړن ټغرپرمسلمانه نړۍ وغوړوي، اواسلامی ټولنه دخپل لوی خدای جل جلاله دنعمت، رحمت اودښه ژوندڅخه بې برخې اویا په ګڼلی ډول سره محروم کړي.

ددې په خاطردشوموارادواونامراده نقشودمخ نیول اوپه دې لیاره کې اغزی جوړیدل دااسلامی داعیانوفریضه اووجیبه ده چې خپل علمي، عملي، ذهني، اسلامی اوکلتوری استعدادونه په کارواچوی اوخپله اسلامی ټولنه دنړۍ له مصنوعی اوبې معنویاتواغیزو، چپاواودبې دینې نړۍ د طوفانوڅخه ئې وژغوری اودهدایت اوداسلافوپه نقش قدم ئې روان کړی؛ په بیلګې کی ئې یودهغوداعیانوڅخه چې په دې لاره کی پوره هلې ځلې کوی هغه محترم لیکوال مولاناعبدالغفاجُبیرصاحب هم ده، چې ټول اسلامي اثارئې په پوره عرق ریزۍ اوډیروسترړیاوو په ګاللوسره لیکلی دی، خدای جل جلاله دی دده دا کوښښونه او زحمتونه دپوره اُمت مسلمه لپاره درهنمایی اودسباوون دڅرک په شان لارښوداوښکلی سبب وګرځوی، دنوموړی داکتاب چې ستاسوپه لاسوکی دی هم دیوه پادری صاحب سره دهغه مناظره ده، دپادری صاحب پراسلام اوپه نازولی پیغمبرصلی الله علیه وسلم باندی اعتراضونه داسی عکس العمل رامنځ ته کوی لکه چې یوکس وسپوږمۍ ته ورتوکی نوخپلې ناړې ئې پرخپل مخ باندی راپریوځی.

محترم لیکوال عبدالغفاجُبیر صاحب په خپلو دلائلو کی دا پوره کوښښ کړی دی چې مدعا ئې په خپلو مضبوطو دلائلو او براهینو سره روښانه کړی، ترڅو پادری صاحب دهدایت لارې ته راوبولی او ښه ئې ورته روښانه کړی.

نو خدای جل جلاله دی وکړی چې دلوستونکو تنده په دې کتاب پرې ماته شی، معلومات ئې په ډیرشی، دپوهې سمندرئې په څپوشی، دسترګو دیدئې په اضافه شی، دزړه نورئې په ډیرشی، داحساسا تو څپې ئې په ولولوشی او دمخ درڼا سبب ئې وګرځی. نو له همدی کبله زه امت مسلمه د دې کتاب ولوستلو ته رابولم.

والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته

مفتی ابو تقی محمد الرحمن

فاضل جامعة العربیه احسن العلوم کراچی وتخصص فی الفقه واصوله، تعلیم القرآن کراچی.

دریم تقریظ

## له نصراني سره د جُبیر صاحب د مناظرې په اړه څو کرښې

د جبیر صاحب په پخواني کتاب مې لیکلي وو چې زموږ په ټولنه کې یې لامثاله کار کړی او د ده ټول کارونه همداسې دي، دا دی اوس دا خبره په دې مناظرې کې په اثبات ورسېده. جبیر صاحب به ښایي زموږ په ټولنه کې لومړی کس وي چې له نصراني سره یې مناظره کړې، که څه هم د اسلامي نړۍ ډېرو علماو له نوروراهبانواوپادرایانو سره ډېرې ښې اودمعلوماتو نه ډکې مناظرې کړې دي.

علامه احمد دیدات مرحوم له علامه مولانا رحمت الله الهندی رحمة الله علیه څخه -متاثر شوی و او جُبیر صاحب له علامه احمددیداته. زه په دې باور یم چې جُبیر صاحب به په راتلونکي کې په دې لاره کې تر دې سترې لاسته راوړنې اوسوکالۍ ولري. خو افسوس پر دې راځي چې زموږ د ټولنې علما لاهم پخپلومنځو کی په اختلافونوکی راګیردی اوپخپلومنځوکی مناظرې هم کوي که څه هم زه دغه مذهبي مناظرو ته تللی نه یم، خو له ډېری ملګرو مې کیسې اورېدلي، هغوی به داسې ویل چې په پای کې پلانی وتښتېد !، شرمنده شو ! او دا او هغه؛ ما ته د دې کیسو په اورېدو ډېر افسوس راځي. په داسې حال کې چې په افریقا کې د نصرانیت دعوت دومره په تېزۍ روان دی چې حتی ځینې کسان وایي چې افریقا به په راتلونکي کې د نصرانیت ټاټوبی شي ! اوعیسایان اوس داپوره کوښښ کوی چې پرهغه دعیسایی براعظم نوم کښېږدی، وبل لورته دمسلمانانوبې غورې، ناپوهې اولاشعورې ده.

دعیسایانوداهلې ځلې یواځې ترافریقامحدودې نه دی بلکې دنړۍ په هرکونج، لور، طرف اوسیمه کی پوره کوښښ کوی ترڅوعیسایت خپورکړی، اوخپلووشوموااوبې بنسته موخوته ځانونه ورسوي، چې اوس ئې وګران هیوادافغانستان ته هم مخه کړیده، اولومړی ئې افغانان یې عیسایان کړی، له دینه یئ اړولی اومرتدکړی ئې دی، په هندوستان کی ئې کلیساورته جوړه کړې اوافغانان عیسایان کوی اوبیائې وګران هیوادافغانستان ته رالیږی، نوزه په ځانګړي ډول سره دخپل اولس دلیکوالانو، ادیبانو، علماؤ، روحانیونو، اوپه مجموع کی دقلم اوپوهې دخښتنانوڅخه داغوښتنه کوم چې راویښ شی، اودعیسایت پرخلاف خپله مبارزه ګړندۍ کړی، اوپرې نږدی چې عیسایان خپل منسوخه اوتحریف شوی دین دلته خپور، دوداورواج کړی.

په دغه مناظره کې د جُبیر صاحب معقولو ځوابونو ډېر خوښ کړم، ځکه هر معقول انسان ته د منلو وړ دي او ښایي ډېر د دغو ځوابونو په کتلو اسلام د خپل دین په توګه ومني او د ډېرو مسلمانانو عقیدې پرې کلکې شي، خو د دې په مقابل کې د نصراني ځوابونه چې تقریباً یو سوال هم سم نشي ځوابولی. دا چې په پای کې ځان په تېښته وباسي نو د مسلمان عقیده لا مضبوطوي چې دا حق دین دی او د هغوی دین باطل دی. کله چې مې دا مناظره وکتله نود مرحوم احمددیدات یوه مناظره رایاده شوه چې په هغې کې هم دغه ډول ځوابونه ورکول کېږي او له ورایه ښکاري چې نصراني لاځوابه دی ځان له پوښتنوڅخه ویوه لوراوبل لورته وباسې.

یوټکی په مناظره کی ارزښتناکه دی هغه داچې بایدمناظره په ښه ډول سره ترسره شی، اوتقابل احترم وی، په ځانګړي ډول سره علماءوته

داځکه چې الله تعالی له نورو سره د مناظرې په اړه فرمايي: (ادْعُ إِلَى سَبِيلِ رَبِّكَ بِالْحِكْمَةِ وَالْمَوْعِظَةِ الْحَسَنَةِ وَجَادِلْهُمْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ) الله جل جلاله ته دعوت باید په ښې طريقې او حکمت سره وشي او مجادله کې باید احتیاط وشي ترڅو هلته هم له ښې لارې څخه استفاده وشي، که داسې وشول نو مناظره به ډېره مؤثره وی اودخلکوپه زړونوکی به پوره ځای ومومی، اوخلک به ودې ته وهڅوی چې داسلام دمبارک دین سره مینه وساتی اودنورودینونوله تورتم څخه ځانونه درخت په شان راټول کړی؛ څرنګه چې په پیل کې مې یادونه وکړه دا ټکی د جُبیر صاحب ومناظرې او دهغه وبې بیلګې خدمت ته هیڅ ضرر نه رسوي،

په پای کې د لايزال الله ج له درباره جُبیر صاحب ته د لا توفيق غوښتنه کوم. په دې هیله چې جُبیر صاحب په راتلونکي کې د اسلام نه د دفاع په مورچل کې لا وځلېږي، څو د اسلام له رڼا لرې وګړو ته دا تلپاتې او ځلانده ډیوه ورسوي.

په اسلامي مینه

زاهد جلالي

پېښور-پاکستان

۲۰۱۲/۲۱۰

# دسرخبرې

الحمدلله حمدالشاکرین ونؤمن به ایمان الموقنین ونقرب وحدانیة اقرارالصادقین والصلاة والسلام علی سیدنامحمدالسابق للخلق نوره ورحمة للعالمین ظهوره عددمن مضی من خلقک ومن بقی ومن سعدومن شقی صلاة تستغرق العدوتحیط بالحد صلاة لاغایة لهاولاانتهاء ولاامدلهاولاانقضاء صلاة دائمة بدوامک وعلی آله الطیبین واصحابه الطاهرین وعلی کل من تبعهم الی یوم الدین.

لوی څښتن تعالی جل جلاله وموږته دمناظرې دکولوپه هکله فرمایي:

ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ إِنَّ رَبَّكَ هُوَ أَعۡلَمُ بِمَن ضَلَّ عَن سَبِيلِهِۦۖ وَهُوَ أَعۡلَمُ بِٱلۡمُهۡتَدِينَ ﴿١٢٥﴾ سورت النحل(۱۲۵)

ژباړه: بلنه کوه (ای محمده ! وخلکوته) ولا رې ته درب خپل ته (چې توحیداواسلام دی)په حکمت(محکمې خبرې دقرآن) سره اوپه وعظ(پند ) نیک سره په ښه ډول اومباحثه کوه له دوی سره په هغې(طریقې سره ) چې هغه ډېره ښه وي، بیشکه چې رب ستاښه عالم دی په هغه چاچې ګمراه شویدی دالله دلارې څخه اودی ښه عالم دی په لاره موندونکو.

په دې ایات شریف کی درې شیان ذکرشول:

۱: **حکمت** ۲: **حسنه موعظه** ۳: **جدال بالتی هی احسن**

دحکمت څخه مرادنهایتی پخې خبرې، محکمې خبرې اترې، جازمه مضامین، قاطعه براهین، مضبوطه دلایل،ترڅو دمعقولوعواملوپه رڼاکی وهغوی ته لارښوونه وشی، چې ددې اغیزې به داوی چې

دحکمت په اوریدلو، پوهیدلوسره به دفهم اوادراک اودپوهې لرونکوطبقه خلک غاړه کښیږدی اوهرڅه به منی؛ یاحکمت وهغو علوموااومعلوماتوته ویل کیږی چې یوداعی ورته اړتیالری اویاضرورت ورته محسوسوي، اوداودوو شیانوته راځی:

**لومړی: علوم فی الواقع**

چې دادهغه علم څخه عبارت دی چې دمځکې پرمخ کومی پیښې راځی، کوم حقایق راڅرګندیږی، کوم ډول خیالات چې دخلکوپه زړونوکوپیداکیږی، کوم احساسات اوجذبات چې دانسانانوپه زړونوکی راځی اوڅپې وهی اودهغوی نورې کړنې داهم ټوله په حکمت کی داخل دی، داپه دې اړین دی چې کچیری یوڅوک دخپل مخاطب په مزاج په درست ډول سره پوه نشی اوهغه په دې نه پوهیږی چې دهغه نفسیات څه شی دی؟ څه ډول جذبات لری؟ ترهغوپوری داشخص تراغیزولاندی نه راځی، کله چې پرمخاطب دې پنداغیزه ونه کړل نومعلومیږی چې هرڅه بې ګټې شول؛ نوځکه په حکمت کی دوه علوم داخل دی یو **فقه فی الواقع** چې **علوم في الواقع** هم ورته وایی، اوبل **فقه فی الدین** یاچې **علوم في الدین** هم ورته وایی، چې له دې څخه دشریعت احکام اواصول مراددی.

روح المعانی په حواله دبحرمحیط دحکمت تفسیرداسی کړیدی:

حکمت دهغه درست اوصحیح کلام نوم دی چې دانسان وزړه ته داخل شی، په روح البیان کی بیادحکمت په هکله داسی وضاحت شویدی:

دحکمت څخه مرادهغه بصیرت دی چې انسان دهغه په مرسته دحالاتومقتضاء معلومه کړی، دنرمۍ په ځای کی نرمې اودسختۍ په ځای کی دسختۍ څخه کارواخلی، په هغه ځای کی چې په ښکاره ډول سره دمخاطب شرمندګې وی نوداشاراتوڅخه کارواخیستل شی.

**موعظه حسنه**: په دې کې دوه شیان اړین دی، چې ددې څخه موخه داده چې دعوت باید په ښه ډول سره ترسره شی، په دې کی یودادعوت باید په نرمۍاو مینه سره اوبل هغه څوک چې دعوت کوی باید دهغه ددعوت سلیقه اوطریقه زده وي، چې دعوت څنګه کیږی؟ په کوم وخت کی اغیزمن دی؟ په کومه طریقه سره دخلکوپه زړونوکی ځای پیداکوی، اومخاطب باید په څه ډول سره ترخپلو اغیزولاندی کړم.

یاپه بل عبارت موعظه حسنه له هغومعتبرو، اغیزمنواورقت پیداکوونکوپندونوڅخه دی چې دنرمۍ اوزړه سوی له روحه ډک وي، اوله دې څخه علاوه په دې کښې له اخلاصه، شفقت، همدردۍ اومعتدله اسلوبوڅخه کارواخیستل شی، چې دداسی نصیحت له کبله دډبرې په شان سخت زړونه دموم په شان نرم، اوومړوزړونوته نوې ساوربخښی، یومایوس اولویدلی قوم دیوه وابنه په شان پورته کیږی، بلکه ګټه به ئې داشی چې دترهیبواوترغیبونصیحتونوپه اوریدلوسره به خلک په خوښۍ سره واسلام ته لاره خپله کړی.

دموعظه اووعظ لغوی معنی داده چې دخیرخواهۍ خبرې په داسی ډول سره بیان شی چې دمخاطب زړه ئې دقبلولولپاره نرم شی.

دالحسنه معنی داده چې بیان اوعنوان همداسی وی چې دمخاطب زړه پوره په مطمئن شی، شکونه اوشبهې ئې لیری شي.

**جدال بالتی هی احسن**:

لفظ دجادل دمجادلې څخه مشتق دی، چې دلته دمجادلې څخه مرادبحث اومناظره ده، اوداحسن څخه مراددادی چي کچیری دمناظرې اړتیاپیښه شي، نودغه مناظره په ښه ډول سره پکارده، په روح المعانی کی دښې طریقې څخه مرادپه خبروکی نرمې په کارده، په دلیلونوکی

مقدمې وړاندی کړل شی چې معلومې اومشهورې وي، دمخاطب شکونه بایدلیری شی.

د **جدال** څخه موخه هغه علمی سلاح ده چې یوداعی ئې ولری، یاپه بل عبارت جدال دعلمی دلایلوڅخه عبارت دی، دادلایل بایدپه ښه ډول سره وړاندی شی، **مخاطب** ته بایددیوه **مخالف** اودښمن په سترګه ونه کتل شی، پرجانب مقابل داسی لفظی ګذارونه ونشی چې دهغه عزت له منځه ولاړشی، بلکې دهغه سره دامناظره اومباحثه باید په داسی ډول سره وشی چې **هغه** تراغیزولاندی راشی، اودباطل **څخه** وحق ته میلان ډیراوهدایت ته راشی، داځکه چې دمناظرې اومباحثې مقصودتفهیم اودحق احقاق وی اودضد ،عناداومالایعنی خبروڅخه هیڅ په لاس نه راځی.

ځینی علماء کرام وایی چې **دعوت بالحکمت** داهل علم اوپوهانولپاره ده، **دعوة بالموعظه** دعوامولپاره دی، او**مجادله** دهغوخلکولپاره ده چې په زړونوکی ئې شکونه اوشبهې وي، اویادهغوخلکولپاره مجادله او مناظره اړینه ده چې دعنادپه وجه دحق څخه منکردی

دامناظره مادښاغلی متی العربی څخه په ورین تندی قبوله کړه، اودنوروبحثولپاره می وړاندیزهم ورته وکړ،ده **هو**راسره وکړه؛ داچې دپنځوورځوپه بهانه ئې هرڅه اړیکې راسره وشلولې نوزه په دې اندیم چې ښاغلی متی العری به وبلی مناظرې ته راوړاندی نشي.

**دمناظر لپاره اړینه ده**:

زماپه اندديوه مناظره کونکی لپاره اړینه ده چې ترټولولومړی په اسلامي علوموکی خپل معلومات ، مطالعه اوڅیړنې خپل کړی؛ ژورتحقیق خپل ورځنی دنده وبولی، په تفاسیرو، په احادیثو، په سیرت النبی صلی الله علیه وسلم، په تاریخ کی، په صرف اونحوکی

اونوروا ړينوعلوموکی خپل پوره معلومات حاصلول دا ډیرضروری دي داځکه چې کله عيسايي مبلغين، مبشرين اوعلماء صرفي اونحوی پوښتنه کوی، کله په سيرتو کی یوه پوښتنه رامخی ته کړی، کله ديوه ایات ژباړه اویاهم تفسيرغلط وکړی اوکه چیری عيسايي عالم عرب وواویاهم په عربی ژبې پوهيدی نودلومړی ځل لپاره خپل دلائل دقرآن اواحاديثوپه رڼاکی رامخی ته کوی؛ که یومناظرغواړی چې پوره تام معلومات ولری نوورته لازمه ده چې په پورتنی علوموکی حتی الامکان تحقیق ولری، حتی دوی کله په علم التجويدکی هم پوښتنه کوی دبیلګې په ډول سره د((ض)) تلفظ و((دال)) ته نژدی دی اوکه و((ظ)) ته، یاکله دوی وصرف اونحوې ته مخه کړی او داپوښتنه کوی چې دا((عليهِم)) اوکه ((عليهُم)) ، (کلمتان دی که کلمتين ) یا(هاتان دی که هاتين ) یا( عليين دی که عليون )اوداسی نور...

په دوهم ځل کی هغه څوک چې دعيسايي علماءوسره مناظره اومباحثه کوی بايدپه **بايبل** (چې ددوی مقدس کتاب دی )کی ژورمعلومات ولری، حوالې ورته جوتې وې، دبايبلوترمنځ توپيرورته معلوم وی، اوکله چې دلايل وړاندی کوی، دبايبل دچاپځای، اونيټه بايدپه منظرعام کی وښودل شی، داځکه چې دوی اکثره وخت منکره اویاهم پښيمانه شی، په عيسايت اواسلام کی بايددهغوعلماءوکتابونه اوآثاراوکتل شی چې په دې لاره کی ئې نه ستړی کیدونکی خدمتونه کړی دی، دهغوتجربې اومناظرې قدم په قدم عملی اوپه دماغ کی کښيږدی، په مناظره کی به موخه دالله ددين خدمت اوحقانيت وی، پرالله به ئې توکل وی نوبیاهرڅه انشآءالله اسانه دی.

## په مناظره کی دعیسایی مبلغینو او مبشرینو تاکتیکونه:

په اوسنی وخت کی عیسایی مبشرینو او په مجموع کی عیسایی علماء دمناظرې اومباحثې پرمهال داتاکتیک لری چې ترهرڅه لومړی پرقرآنکریم اعتراضونه، داسلام پرسترلارښود حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم اعتراضونه، دهغه پرژوندژواک مبارک اعتراضونه اوپه مجموع کی داسلام پرحق دین باندی اعتراضونه کوی، اوداعترضونه ئې که وڅیړل شی په واقعیت اوحقیقت مالایعنی، بی اساسه اوپوره پوچ دی؛ خویوائی ددې لپاره داګام ایږدی چې مقابل لوری حیران اوداصلی مسیرڅخه ئې پام وبل لورته واړوی اوخپل بری ښکاره کړی.خوالحمدلله په هره زمانه کی ددوی ددې چلومخه راسخوعلماءوډب کړی اوغاښن ماتوونکی ځوابونه ئې ورکړیدی.

بل تاکتیک ئې دادی چې دخپل منسوخه دین عقاید ، تثلیث، دعیسی علیه السلام صلیب اونور... په قرآن اوپه احادیثوکی ثابتوی، چې په دې تاکتیک کی دوی کله ژباړه غلطه کړې، کله دیوه توری پرځای بل توری کښیږدی،کله ماضی په مضارع واړوی اوکله هم مبتداء اوخبرسره واړوی؛ چې ددې تېولوشیانوسره یومفهوم بدلیږی اودوی خپل ځانونه وخپلو شوموموخوته رسوي، چې ددې تاکتیک مخه هم داُمت مسلمه علماؤپه پوره ډول سره نیولې ده. الحمدلله

اوکه په دې دواړه تاکتیکوکی پاته راغلل نو دریم تاکتیک ئې دادی چې مالایعنی پوښتنې کوي، لکه زماڅخه ئې چې لومړې پوښتنه کړې ده، که په دې کی هم پاته راغلل نوڅلورم تاکتیک ئې دادی چې په عصري علوموکی پوښتنه کوی، داپه هغه وخت دوی داکارکوی چې کله دوی په دې پوه شی چې دامسلمان عالم په عصری علوموکی

ژورمعلومات نلرى، نوبيادډې چل په كاراچولوسره مخى ته ځى؛ دوى دامختلف تاكتيكونه په دې مخى ته بيايى چې دوى دلومړ ى ځل لپاره غواړى چې دمسلمان عالم دپوهې ګراف وځانته جوت كړى اوبياورسره مناظره وكړى؛ ترټولوښه خبره داده چې بايددمناظرې څخه مخكى دبحث اجنډا معلومه شى چې مناظره پرڅه شى ده؟ ايامناظره دسيدناحضرت عيسى عليه السلام پرالوهيت ده؟ ايامناظره دسيدناحضرت عيسى عليه السلام پرصليب ده؟ ايامناظره دبايبل پرحقانيت ده؟ اوداسى نور....

## دښاغلي جيمز(James)ځواب:

**دفيس بوک** له لارى يوسړى چې ځان ئې راته جيمز(James) معارفى كړراڅخه وپوښتل چې زه تثليث په كيمياپوهنې (Chemestry) كى درته ثابتوم، اوحال داچې تاسى مسلمانان دتثليث څخه منكرياست، ماورته وويل چې څنګه؟؟؟ده راته وويل چې ماده درې حالتونه لرى **مايع، غازاوجامد**، چې دادرې سره په حقيقت كى يوه ماده ده، اوداتثلث ثابتوى؛ ماورڅخه وپوښتل چې سيدناحضرت عيسى عليه السلام، روح القدوس اوخداى يودى كه نه؟ ده راته وويل هو ! دايودى. ماورته وويل افرين ډيرښكلى ځواب دى راكى اواوس به زه ستاسودپوښتنې ښكلى ځواب دركړم.

داد كيميادعلم يواصل دى چې ماده درې حالتونه لرى، مايع، غازاوجامد خودادرې حالتونه هريوبيل بيل تعريفونه اوځانګړتياوې لرى، اوزه به لومړى ددې درې حالتونوتعريفونه درته وكړم:

**دمادې جامدحالت**: داهغه حالت دى چې ماده معلوم شكل، معلوم حجم اومعلوم وزن ولرى. لكه ډبره چې دادرې سره حالتونه ئې ثابت دى اوهيڅ تغيرپكښې نه راځى.

**دمادې مایع حالت**: داهغه حالت دی چې ماده غیرثابت شکل لری، مګروزن اوحجم ئې ثابت دی. دمادې دمایع حالت دجامد حالت څخه په دې کی توپیرپیداشو چې جامدحالت ثابت شکل لری اومایع حالت ئې نه لری.

**دمادې دګازحالت**: دادمادې هغه حالت دی چې شکل ئې غیرثابت، حجم ئې غیرمعین اویواځی وزن ئې ثابت دی.

چې ددې تعریفوڅخه داولاسته راغلل چې دادرې سره حالتونه سره ژورتوپیرلری یعنی که یوشی جامدوی نوپه همدغه مهال مایع نشوورته ویلای، که مایع وی نوجامدنه دی ، که غازوی نوجامد نشوورته ویلای اوکه جامدوی نوغازاوهمدارنګه مایع... برعکس تاسی وایاست چې حضرت عیسی علیه سلام خدای دی، روح القدوس خدای دی،اوخدای دائوله یو خدای دی،اوئوله یوشانته دی، که موږدمادې ودې حالتونوته راشو نوویلای شوچې کله څرنګه چې جامدحالت په عین وخت مایع اوغازنشی کیدلای نوخدای چې شته بیاسیدناحضرت عیسی علیه السلام اوروح القدوس خدای نشی کیدلای، داځکه چې کله چې انسان دحضرت عیسی علیه السلام تصورکوی نودابه ووایی چې هغه یوانسان ؤ اودخدای له لوری رالیږل شوی پیغمبروو، کله چې دروح القدوس فکرکوی نووبه وایی چې دادخدای یوه مقربه ملایکه ده( حضرت جبرائیل علیه السلام) اودنده ئې داوه چې دالله احکام ئې وپیغمبرانوعلهیم السلاموته راوړل اوکله چې وروح القدوس ته راشونودکیمیاپوهنې له نګاه ویلای شوچې هغه یوه ملائیکه ده اوبس، نه خدای ده، اونه هم دعیسی علیه السلام په شان ده، اوداسی نور...

ماده دوه ډوله تغیرات اوخواص لری یو فزیکی اوبل کیمیاوي نوبیاستاسوپه اندڅوخدایان دی؟ کوم یوکموی؟ دکوم یوه څخه دخدایتوب صفت سلبوی؟ ایاتاسی په کیمیااوفزیک کی اونوروعصری علوموکی ګوری که یی درې ځانګې درلودی نوداستاسودتثلیث ثبوت اواستدلال دی؟؟؟ اوبیاودې ته هم نه ګوری چی دافیصله درسته ده اوکه بی بنسټه؟؟؟

وبل لورته اتوم دوې برخې لری هسته اومدارونه بیاستاسوپه اندڅوخدایان شول؟؟؟

اوکه تاسی ددوهم ځل لپاره ووایاست چې اتوم درې زرې لری اوداتثلیث شو، نوزه به دایوڅه وخیړم:

په هسته کی نیوترون اوپروتون دی چې نیوترون خنثی ذره ده، اوپروتون مثبت چارج لری، اوپه مداروکی الیکترون دی چې منفی چارج لری چې په واقعیت کی دادرې سره زرې سره مخالفې دی اویوشانته نه دی؛ داځکه چې یوه زره به یاچارج لری اویابه ئې نلری، که ئې لری یابه مثبت چارج لری اویابه هم منفی چارج لری، چې داټول سره په متضادحالت کی دی، یعنی که مثبت ونومنفی نشی کیدای، که خنثی ونوبیاچارج نشی درلودلای، داسی نشی کیدلای لکه ستاسودتثلیث عقیده چی خدای، روح القدوس اوعیسی علیه السلام داټول سره یودی، اوس ددې څیړنومطابق کوم یوخنثی دی؟؟؟ اعوذمن ذالک،نوپه یوه ټکی کی درته وایم چې حضرت عیسی علیه السلام دبیولوژی اوکیمیاددې اوصولومطابق نه یواځی ستاسوتثلیث باطل ثابت شوبلکې وحدانیت ئې ثابت کړ، اوهغه داچې روح القدوس بیل دی، خدای بیل دی اوحضرت عیسی علیه السلام بیل دی، اودهریوه

پیژندنه بیله ده، نوسیدناحضرت عیسی علیه السلام یوائی انسان وه اویولوی پیغمبرووا وخدای نه وو.
جیمزددې ځواب په اوریدلوسره بیاددې جرئت ونکړچې بله پوښتنه راڅخه وکړی.

**په عیسایت کی مطالعه**:

په عیسایت کی مطالعه څه پیچلې ده، داځکه چې بایبلونه ئې یونه دی، دوه راهبان اواسقفان په یوه خوله نه دی، اوددوی یوه ډله هم نه ده، هره ډله ئې ځانته تشریفات، مراسم اومذهبی کړنې لري؛ وبل لورته دلته په ګران افغانستان اوپاکستان کی واردواوانګلیسی ژبوته اړتیاشته، خوکه یوائی په اردوژبته باندی کفایت وکړی نوهم کولای شی چې دعیسایت په هکله هراړخیزمعلومات ومومی، داځکه چې دمولانارحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه کتاب اظهارالحق په اردوژبه کی په درې ټوکونوکی د(بایبل سے قرآن تک) چې څیړنه ئې شیخ الاسلام مولانامحمدتقی عثمان صاحب کړیده،ډیریونړیوال اوښکلی اوبې بیلګی کتاب دی، دمرحوم مولارحمت الله ناصاحب بل کتاب (اعجازعیسوی) دی، چې داهم په اردوژبه کی دی، دمولانارحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه نوردوه کتابونه (ازالة الشکوک) او(ازالة الاوهام).هم په اردوکی دی، که چیری تاسی غواړی چې دمولاناصاحب په هکله پوره معلومات په لاس راوړی نوتاسی کولای سی چې (**ایک معمارمجاهد**) چې په ۱۹۵۲ میلادی کال کی په مکه معظمه کی د(مرکزی دفتردارُالعلوم صولتیه مکه معظمه) له خواچاپ شوی دی وګوری، ددې مدرسې بنسټ مولانارحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه ایښی دی.

**دشیخ الاسلام محمدتقی عثمان صاحب** دوه کتابوه په اردوکی دی( بایبل کیا ھے؟ اوعیسایت کیاھے؟) نویواځی ددې شپږو کتابوپه لوستلوسره دعیسایت په هکله هرڅه معلومات لاسته راړل کېدلای شي. انشآءالله.
اوکه یوعالم غواړی چې په نړیواله توګه سره په عیسایت کی ژورمعلومات پیداکاندی نوانګلیسی ژبه ورته اړینه ده، اودشیخ احمددیدات کتابونه نه هیریدونکی دي.دده کتابونه یوڅه په اردوژبه باندی هم ژباړل شویدی دی، خوزیات پکښې انګلیسی دی، پخپله شیخ مرحوم احمددیدات له مرحوم مولانارحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه څخه الهام اخیستی دی، اوهرڅه ئې له اظهارالحق څخه زده کړیدی،دمولانارحمت الله الهندی رحمة الله علیه څخه وروسته په دوهم ځل کی دشیخ احمددیدات چوپړواسلام ته نه هیریدونکی دی.که تاسی غواړی چې دمرحوم احمددیدات په هکله پوره معلومات ولاسته راوړی نوتاسی کولای شی چې د(**داسلامي فکراتلان**) لومړی کتاب چې دګران ورورتکړه لیکوال زاهدجلالی صاحب لیکلی اوراغورچاڼ کړیدی په پوره دقت سره وګوری په دې کتاب کی دامت مسلمه ډیرعلماء کرام، پوهان، مجاهدین اومخورشتون لری ، همداکتاب مطالعه کړی، چې بې بیلګی دی.

شیخ احمدیدات ډیرښکلی کتابونه دعیسایت په هکله لیکلی دی، او که یو څوک یو ائی دا کتابونه وګوری نو په عیسایت کی پوره هراړخیز معلومات درلودلای شی. د شیخ احمد دیدات دکتابونو لړلیک:

1: What is His Name?
2: 50000 Errors in the Bible
3: Christ in Islam
4: What was the Sign of Jonah?
5: Is the Bible God*s Word?
6: Who Moved the Stone?
7: What the Bible says about Muhammad (PBUH)?
8:Muhammad(PBUH) the Natural Successor to Christ
9:Muhammad(PBUH) the Greatest.
10: Al-Quraan the Miracle of Miracles
11: The God that never was
12: Crucifixoin or Cruci-Ficion?
13: Resurrection or Resuscitaion?
14: Combat Kit
15: Way to the Quraan
16: Muhammad(PBUH) the prphet of Islam
17: Muhammad (PBUH) No:1



## دعیسایي راهبانواواسقفانوسره مناظرې

کله چې موږدعیسایی راهبانو، علماءو،اسقفانوسره دمناظرې خبره کوونو، لکه چې مامخکې یادونه وکړل دأُمت مسلمه علماءو په هردوراوزمانه کې له دوی سره مناظرې کړیدی، زه به دتاریخ وډیروژوروپاڼوته نه ځم، کله چې انګریزانوهندوستان ونیوی، نودفوځی یرغل سره- سره عیسایی مبلغین اومبشرین همه وهندوستان ته مخه وکړل، چې داددوی دتل لپاره یوعادت اوتوطئیه ده، اودتاریخ په پاڼوکی چې موږوګورونوچې پرهرهیواد دوی تیری کړیدی هلته دوی عیسایت خپورکړیدی.
کله چې عیسایی مبلغین راغلل نودوی په هندی اوپه اردوژبو باندی نه پوهیدل اوفکرئې وکړچې دازموږتبلیغ دعیسایت کومه ګټه نلری نوپردې ئې کوښښ پیل کړچې دوی بایدلومړی هندی اواردوژبې زده کړی اوبیاخلک وعیسایت ته راوبولی اودخلکوسره مناظرې هم وکړی په ځانګړی ډول سره مسلمانان ددوی نښان وه، اوهندوستان به دفوځی مرکزڅخه علاوه دعیسایانویومذهبي مرکزهم وی، چې همداسی وشول، یوراهب دلندن څخه راغی اودمولاناعبدالعزیز دهلوی رحمة الله علیه سره ئې مناظره وکړل اوهغه مناظره داسی وه چې په دې مناظره کی مسلمانان، سیکان، هندوان، بودایان اوډیروحکومتی عیسایانوګډون درلودی، ګڼه ګوڼه اوحکومتی لوړپوړی چارواکی زښته ډیروه،داځکه چې هغه راهب سل په سلوکی دادوی ته ویلی وه چې زه به په مناظره کی وهرچاته ماتی ورکوم،

### دمولاناعبدالعزیزدهلوی رحمة الله علیه اوپادری مناظره:

راهب ومولاناعبدالعزیز دهلوی رحمة الله علیه ته وویل چې دلومړی ځل لپاره تاسی پوښتنه وکی، مولاناصاحب ورته وویل چې حق

ستاسو څکه کیږی چې تاسی میلمانه یاست، نولومړی تاسی مهربانی وکی خپلې پوښتنې پیل کړی !راهب خپلې پوښتنې داسی پیل کړې:

**راهب**: ستاسو پیغمبرصلی الله علیه وسلم چیری دی؟

**مولاناعبدالعزیزدهلوی (رح)**: په جنت فردوس کی.

**راهب**: ستاسو پیغمبر چیری ووچې کله دده لمسی په کربلاکی په قتل رسیده؟

که ستاسوپیغمبردخدای سره وای نوولی یی دالله څخه دکومک غوښتنه ونه کړل چې زمالمسی وژغوره !

، مولاناصاحب څه ځنډوکړ، اودې راهب بیاخپله ښنه پرمځکه کشوله اوویل یی ژرکوه، ژرکوه کښته مه ګوره ځواب راکه، هغه دڅه ځنډنه وروسته لوړواسمان ته وکتل اوبیایی وراهب ته وویل چې پیغمبراسلام صلی الله علیه وسلم دخدای څخه مرسته وغوښتل خوخدای وژړل(نعوذباالله)،

**راهب**: څه شي !؟؟؟ خدای ولی وژړل؟

**مولاناعبدالعزیزدهلوی (رح)**: خدای په دې وژړل چې خدای ورته وویل چې ماخپل ځوی(حضرت عیسی علیه السلام) دیهودوڅخه نشوای ژغورلای نودیوه پیغمبرلمسی می څنګه ژغورلی وای؟؟؟ راهب ډیرشرمنده شو، ټولو خلکوپوری وخندل اوراهب له میدانه په منډه وتښتیدی اومناظره ونوروپوښتنوته اوږده نشوه.

**مولاناسندهی(رح) اوعیسایی پادری**:

په هندوستان کی دیوه انګلیسی راهب یوه مناظره دمولاناسندهی رحمة الله علیه سره وه، هغه هم یوپادری له لندنه راغلی ؤاودهندوانوپه عبادت ځای کی ئې اوربل کړی وو،دخلکوزیاته ګڼه ګوڼه وه، اوده یوبایبل دلندنه څخه راوړی وواوهغه ئې په داسی کیمیاوي موادولړلی

وچې نه سوځول کېده، اودې راهب یوه یوه پاڼه بایبل واورته اچاوه اودائې ویل چې اوس به معلوم شی چې ایا بایبل دخدای کتاب دی اوکه قرآن؟ هرکتاب چې اوروانه خیستی هغه دالله کتاب اوهرکتاب چې وسوځول شوهغه دالله کتاب نه دی؛ مولاناسندهی رحمة الله علیه چې کله راغی اودده وحرکتاتوته ئې وکتل نوپه ذهن کی داراغلل چې دې سړی ضروریوکارکړیدی، نوژرئې دی ترلاس راګیرکی اوواورته ئې کش کړ، اوورته ئې وویل چې ته بایبل اوقرآن پرېږده،زه پرقرآنکریم ایمان لرم اوتاسی پربایبل ایمان لری ، اوس به دامعلومه شی چې ته پرحق یی اوکه زه؟چې اورتاسوځی اوکه ماسوځی؟ اوواورته ئې کش کړ، راهب څه زورکړه شاته، نومولاناصاحب له ده سره ډیرزوروکړچې اورته ئې نژدی کړ، ددی راهب غړغړې اوچیغې داټوله خلک اوری، اوټوله ورباندی خاندی، پولیس راغلل اودی ئې ورڅخه خلاص کړراهب شرمنده ولندن ته ولاړی، اوپه منډه بریالی شو؛

## مولانارحمت الله کیرانوی الهندی(رح) اوپادری فنډر:

له دې څخه وروسته دمرحوم مولانارحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه مناظره ده، دعیسایی عالم فنډرسره،دامناظره په ۱۸۵۴ میلادی کال کی داپریل پر۱۰ په اکبرآباداګره په هندوستان کی سهارپیل شوه، چې دمولاناصاحب سره ښاغلی ډاکټروزیرخان صاحب معاون و، اودښاغلی فنډرسره پادری فرنچ معاون وو، په دې مناظره کې سیکهان، هندوان ، مسلمانان اوعیسایان موجوډ، چې په مناظره کی یوشرط داوټاکل شوکه مولاناصاحب ماته وخوړل نواسلام به پرېږدی اوکه ښاغلی فنډرماته وخوړه نوعیسایت به پرېږدی اواسلام به قبلوی؛ دمناظرې لپاره دامسائل وټاکل شول: دبایبل تحریفونه، وقوع نسخ، تثلیث، دفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم رسالت

اودقرآنکریم حقانیت داپنځه موضوعګانې وتاکل شوې، په لومړۍ اودوهمه ورځ کې ئې وفنډرصاحب ته پوره ماتې ورکړه اودریمه ورځ هغه نه راغی، بیامولاناصاحب داپریل په ټوله میاشت کې لیکونه ورولیږل خوهغه هیڅ ځواب نه ورکاوه، یعنی فنډرپادری ماتې وخوړه، دمکې معظمې شیخ رفاعی خولی رحمة الله علیه وایي چې وماته هغوخلکوچې ومکې معظمې ته دحج لپاره راغلی وه ډیروداوویل چې مولاناصاحب وپادری فنډرته په مناظره کې ماتې ورکړه چې بالاخره داخبره وتواترته ورسیدل ؛ چې ددې مناظرې پوره بحث په (بائیبل سے قرآن تک) په ۱ټوک ۱۹۶-۱۸۶ صفحې کې شویدی، چې تاسی لوستونکی ئې کتلای شی.

**امام فخرالدین رازي(رح) اوعیسایي پادري:**

همدارنګه تاسی دامام فخرالدین رازی رحمة الله علیه مناظره دیوه پادری سره (بائیبل سے قرآن تک)په ۲ټوک، ۲۹۷- ۳۰۳ مخ پوری کتلای شی، چې دعیسی علیه السلام پرالوهیت اوتثلیث باندی ئې کړیده.

**مولاناصفدراوکاړوي(رح) اوپادري:**

اوهمدارنګه مولانامحمدامین صفدراوکاړوی رحمة الله علیه دعیسایانوسره ډیرې مناظرې کړیدی، یوه مناظره یې په فتوحات صفدرلومړی ټوک، ۴۶- ۵۰ )

**یومسلمان عرب اوعیسایي راهب:**

دعیسایانواوصول داسی جوړدی چې کله یې دیوچاسره اړیکې ټینګې شي نوکوښښ کوی چې هغه اړیکې تودې اوټینګې وساتی ترڅووخپلوموخوته ورسیږی، دااړیکې کله په یوه بڼه سره اوکله هم په بله بڼه سره وی، یوه عیسایی راهب دیوه مسلمان عرب سره شناخت درلودی، دارهب به هره ورځ ورته راتی اودابه ئې ورته ویل چې

داستاسولمونځونه، روژې ، حجونه، زکوة ورکول داهرڅه بې معنی دی، نه دخنځیرغوښه خورئ، نه شراب څیښئ، نه هم زناکوی اونه هم هوس کوی اوددنیاټول خواږه موپرځان باندی حرام کړیدی، راشه یوائی پرعیسی علیه السلام ایمان راوړه اووایه چې هغه خدای دی (نعوذباالله)، هغه زموږدټولوګناهونو کفاره شواوموږاوتاسی دهرشی څخه خلاص یو؛ چې داډیره اسانه کاردی، هرڅه چې کوی کوه یی! داته څه کوی؟؟؟ لکه څرنګه چې عرب میلمه خلک دی، نووده ته به ئې هیڅ نه ویل اوراهب به په مسلسل ډول سره راتلی اوداسلام پر ضدبه ئې خبرې کولې، اخردامسلمان عرب په تکلیف شواوخپل یوه ملګری ته ئې وویل چې کله سباراهب راغی نوته ماته راشه اوزماپه غوږکی پوس پوسی جوړکه نورماپریږده، چې دایوپلان ؤ چې مسلمان عرب ورته جوړکړ، کله چې سباراهب راغی نومسلمان عرب ئې هرکلی ووایه اوکښیناستل، یوڅه شیبه وروسته هغه ملګری ئې راغی اودعرب شیخ په غوږکی ئې پوس پسی وکی اوهغه ولاړی، نودی شیخ فوراً ژړاپیل کړه،اوداسی ژاړی چې راهب ئې حیران کړ، اوراهب ورته وویل چې شیخه څه پیښه ده؟ وماته ووایه چې زه مرسته درسره وکړم ژړکوه!!! شیخ ژاړی اونورهیڅ نه وایی، اخرراهب ورته وویل ضروربه ماته وایی چې څه پیښ شویدی، عرب ورته وویل چې ماته خبرراغی چې حضرت جبرائیل علیه السلام مړشونوځکه ژاړم، راهب په ډیرخښم اوغوصې سره ورته وویل چې بې عقله ملایکې مرګ نه لری داڅه وایی؟ نوعرب مسلمان ورته راغبرګه کړه چې بې عقله چې ملایکې لامرګ نلری نوخدای څنګه مرګ لری؟ چې یوځل تاسی وایاست چې حضرت عیسی علیه السلام خدای دی اوبیاوایاست چې هغه صلیب شو! هغه راهب

ددې ځواب په اورېدوسره بیاهغه عیسایی راهب د عرب وکورته رانه غی اوهغه ئې مخه شول.

**جناب خالدمحمودصاحب اویوعیسایی پادری:**

خالد محمودصاحب وایی: یوعیسایی راهب وماته راغی اوماته ئې وویل چې ستادلیدولپاره راغلی یم، اوزه ددې لپاره راغلی یم چې دحضرت عیسی علیه السلام پیغام وتاسوته ورسوم، ماورته وویل چې مهربانی وکه وماته کوم پیغام مه راکوه، هغه راته وویل چې ولی؟ ماورته وویل چې زه اسماعیلی یم، یعنی زه داسماعیل علیه السلام داولاده څخه یم، چې هغه دابراهیم علیه السلام ځوی دی، اوزه عرب یم، هغه راته وویل نوڅه دی ولی؟؟؟ ماورته وویل چې په بایبل کی راغلی دی چې حضرت عیسی علیه السلام وایی چې زه داسرائیلولپاره راغلی یم، اوحال داچې زه یهودی نه یم.

هغه حوالې چې خالدمحمودصاحب ورته اشاره کړیده زه به ئې دلته راوړم اوهغه دغه لاندی حوالې دي(جُبیر):

- دغیرقومو(ماسوی له یهودوڅخه) وبل قوم ته مه ځه، اودسامریانوونبارته مه داخلیږه ، بلکه واسرائیلوته ولاړشه-
(متی- ۱۰ باب، ۵: ۷ )

-دی (حضرت عیسی علیه سلام ) یوائی دیهودوپاچاوو-
(متی، دویم باب، نذرانی پېش کول: ۲ )

- ای دیهودودمځکی بیت لحم ښاره، ته دیهودوپه لویوښارونوکی هم وړوکی نه ئې ځکه ستانه هم هغه سرداراوځی چي یوائی به زمادخلکو(اسرائیلو ) شپون به وی-
(متی، دویم باب، نذرانی پېش کول: ۶ )

-عیسی یوائی داسرائیلوپاچادی -(یوحنا ، اول باب: ۴۹ )

-(عیسی علیه سلام وخپلو شاګردانو ته) وایی: زه روښتیادرته وایم او په دې موپوه کوم چې تاسی دبنی اسرائیلوپه ټولوښارونوکی وګرځی یواځی (متی ۱۰ باب: ۲۳)
-ای عیسی!!! داسرائیلود پاچهۍ دی مبارک شه!!!
(یوحنا، دوولسم باب: ۱۲)
-عیسی دیهودود قبیلې څخه دی، اودیهودوزمری دی.
(مکاشفات، پنځم باب: ۳)
-یوه ورځ یوه کنعانې ښځه وحضرت عیسی علیه سلام ته راغله اوورته ئې وویل چې زماسره مرسته وکه، پرماباندی بدروح ناست دی، اوپه تکلیف یم، حضرت عیسی علیه سلام وخپلوشاګردانوته راغی اوورته ئې وویل چې دارخصت کی اوپه ماپسې روانه ده؛ اوورته وواياست چې زه داسرائیلوڅخه ماسوی وبل چاته نه یم راغلی، مګرهغه ښځه بیاراغله اودمرستې غوښتنه ئې وکړل، حضرت عیسی علیه سلام ورته وویل: چې دماشومانو(یهودو)ډوډۍ اخیستل اووسپو(غیریهودو) ته ورکول ښه نه ده- (متی؛ ، ۱۵ باب، ۲۶: ۲۷) اوهمدارنګه داکیسه په (مرقوس ۷ باب، ۲۴: ۳۰) کی ده
دبایبل په تفسیرکی دپورتنی ایات لاندی دالیکلی وه:
دحضرت عیسی علیه سلام حواریین( شاګردان) ټول یهودان وه، اوپه ټول ژوندکی ئې دیهودوماسوی وبل چاته دعوت نه دی ورکړی اونه هم دیهودودعلاقې څخه وبلې سیمې ته تللی دی، داځکه چې دیهودوڅخه ماسوی نورټول سپی دی-
نوماورته وویل چې زماڅخه ولاړشه اوماته پیغام مه راکوه، ده راته وویل چې دادچیرې لیدلی دی؟ ماورته وویل چې بایبل راوړه چې داټولې حوالې دروښیم، چې وروسته دی شرمنده شوااوولاړی.

(مناظرے اورمباحثے، ۱۲۴ مخ)

همدارنګه تاسی کولای سی چې په همدغه کتاب

(مناظرے اورمباحثے، ۲۰۷- ۲۱۱ مخ)

په عیسایت کی تاسی کولای سی چې دعلامه ابن تیمه رحمة الله علیه کتاب (الجواب الصحیح لمن بدل دین المسیح)، دعلامه ابن قیم رحمة الله علیه کتاب (هدیة الحیاری فی ردالنصاری)، دحضرت مولاناآل حسن رسول کتاب(کتاب الاستفسار) هم وګوری.

**دمرحوم شیخ احمدديدات مناظرې:**

له دې څخه وروسته دمرحوم شیخ احمد دیدات مناظرې په ټوله نړۍ کی شهرت لری اونه هیرودونکې دي، شیخ احمد دیدات دعیسایی نړۍ له راهبانو، اسقفانواوپه مجموع کی دعیسایی مبشرینواومبلغینوسره ډیرې کامیابې مناظرې کړیدي.

شیخ احمددیدات لومړۍ مناظره په ۱۹۸۱ میلادي کال کی دافریفادډربن په ښارکی د(جوش مک ډویل) سره وکړه.

شیخ احمددیدات په ۱۹۸۴ کال کی وپاپ جان پال ته چې دټولې عیسایی نړۍ مذهبی مشردی، په واتیکان کی چې دعیسایانو ترټولوسپیڅلی ځای دی دمناظرې چیلنچ ورکړ، پاپ ورته وویل چې دامناظره بایددبندودروازوترشاوی، خوشیخ ورته وویل چې بایددامناظره په عام محضرکی وشی ترڅوداجوته شی چې اسلام حق دی اوکه عیسایت خوپاپ دامناظره ردکړه.

په ۱۹۸۵ کال دجولای پر۷ نیټه شیخ احمددیدات دپروفیسر فلویداي کلارک (Professor Floye E Clark) سره (ایاعیسی علیه السلام صلیب شو؟) دلندن په رایل البرټ هال کی مناظره وکړه.

په ۱۹۸۵ کال دډسمبرپه ۱۵ باندی دلندن په رایل البرټ هال کی دفلسطین الاصله امریکایی انیس شروش (Dr. Anis Shorosh) سره (ایاعیسی علیه السلام خدای دی؟?Is Jesus God) مناظره وکړه، چې په دې مناظره کی ۱۲۰۰۰ کسانوګډون درلودی.

داډاکټرانیس شروش سره ئې بله مناظره په ۱۹۸۸ کال کی (کوم یو خدای کتاب دی قرآن که بایبل؟) وکړه.

Which one is God*s Word? The Quraan or the Bible?

مرحوم شیخ احمددیدات په ۱۹۸۶ کال کی دامریکاپه کنساس کی درابرټ ډوګلس (Robert Dougles) سره په (دعیسی علیه السلام صلیب حقیقت دی که تخیل؟) مناظره وکړه.

Crucifixoin or Cruci- Fiction

شیخ احمددیدات په ۱۹۸۶ کال کی دامریکاتلویزونی عیسایی مبلغ (Televanglist) جیمی سویګارټ (Rev. Jimmy Swaggart) سره چې ۸۰۰۰ خلکو پکښې برخه اخیستی وه (ایابایبل دخدای کتاب دی؟ Is the Bible God*s Word?) ښکلې مناظره وکړه، چې هغه کی جیمی سویګارټ نه هیریدونکې ماتې وخوړه او ډیرئې وشرماوه.

وشیخ ته ددې مناظرې څخه وروسته په ۱۹۸۶ کال کی دالفیصل جایزه هم ورکول شوه، چې داجایزه وهغه چاته ورکول کیږی چې یوچاخپل ټول وخت ئې داسلام لپاره وقف کړی وي، اوپه دې انعام سره شیخ داستاذئ درجه هم ولاسته راوړل.

شیخ احمددیدات په ۱۹۹۱ کال دنومبرپر ۲ په ډنمارک کی داریک باک (Poster Erik Bock) سره په (ایاعیسی علیه السلام خدای دی؟ Is Jesus God?) مناظره وکړل.

شیخ د۱۹۹۴ کال دجولای پر۱۷ باندی دکاناډاپه ټورنیټوښارکی دویک فیلډ(Bishop General Wakefield) سره په (ایاعیسی علیه السلام وځړول(صلیب) شو؟) مناظره وکړه.

شیخ په ۱۹۹۴ کال کی دښاغلی شوبرګ (Sjoberg) سره په سویډن کی دوې مناظرې وکړې، لومړۍ مناظره ئې:

ایابایبل دخدای کتاب دی؟ ?Is the Bible God*s word

ایاعیسی علیه السلام خدای دی؟ ?Is Jesus Christ God

دشیخ هره مناظره ئې یوکتاب کیږی. اوپاته دی نه وی چې مرحوم شیخ احمددیدات داټولې مناظرې ګټلی دی، اوپه لوړوسترګو دمناظرې څخه راستون شوی دی، اوځینی وخت خولاداسی پیښې شوی دی چې شیخ ویوچاته دمناظرې خبرورکړی دی اوهغه په منډه بریالی شوی دی.

ډاکټرذاکرنایک هم دعیسایانوسره مناظرې کړیدی، چې یوه ئې دډاکټرکیمبل سره چې مضمون ئې وو(قرآن اوبایبل دساینس په رڼاکی Quraan and Bible in the light of Science) وډاکټرکیمبل ته ئې پوره ماتې ورکړه، اوهغه اعتراضونه چې ده پرقرآن درلودل هغه ټول ډاکټرنایک ذاکرځواب کړل، ددې څخه علاوه چې ناستوخلکوهم دذاکرنائیک څخه ډیرې پیچلې پوښتنې وکړی خوهغه ټولې ئې په پوره مهارت اوخوښۍ سره ځواب کړی اوکله چې دډاکترکیمبل څخه پوښتنې وشوې نودی دومره وارخطاشوچې ډیرې پوښتنې ئې بې ځوابه پرېښودلې چې دامناظره اوس دیوه کتاب په بڼه سره په اردوژبه هم خپره شوېده، چې لوستونکی ورڅخه استفاده کولای شی.

ډاکټرنائیک ذاکرپه هندوستان کی دعیسایت لوی راهب رکن الدین سره هم مناظره وکړه، چې هغه دسیدناحضرت عیسی علیه السلام دصلیب (ځړولو) په هکله وه؛ مطلب داچې دأمت مسلمه دهرعالم

مناظره چې دهرباطل سره شوی ده وهغوتهولوته ئې تاریخي ماتې ورکړیدی، داهغه مهال ډیربنه جوتیږی چې کله دامناظرې وکتل شي.

**دکېتی پیټر**(Cathy Peter)**دسوال ځواب**:

یوه ورځ په فیس بوک یوې میرمنې چې ځان ئې دفیلپین اوسېدونکې راته معارفي کړه اونوم ئې په فیس بوک کېتي پیټروه راسره دمعلوماتو حال اواحوال راڅخه وپوښته، کله چې ماورته وویل چې زه یومسلمان یم، نودې سمدستی راته وویل چې زه یوه عیسایی کاتولیکه یمه، اوکلیساته می ځان وقف کړیدی، نودې راڅخه وغوښتل چې یوڅه معلومات ولاسته راوړم نو راته ئې وویل چې په ټولودینونوکی زمایواځی اویواځی دمسلمانانوسره په دې جوړه ده چې موږ اودوی ډیرسره نژدی یو، اووروسته ئې په سوالونوئې داسی پیل وکړ:

**میرمن کېتی پیټر**: تاسی زموږپربایبل ایمان لری؟

ځواب: نه داځکه چې دانه دحضرت عیسی علیه السلام کتاب دی اونه هم دخدای کتاب دی، اونه سیدناحضرت عیسی علیه السلام ددې کتاب تصدیق کړی اونه هم خدای ویلی چې دازماکتاب دی.

**میرمن کېتی پیټر**: ستاسوقرآن زموږدګاسپل (Gosple) یعنی انجیل تصدیق کوی که څنګه؟

**ځواب**: تاسی دقرآن کریم حواله راکولای شی؟

**میرمن کېتی پیټر**: نه هیڅکله نه، داځکه چې موږپه کلیساکی قرآن لرو خومانه دی لوستی اوکه تاسی مهربانی وکی اوحوالې راکی!

**ځواب**: په قرآن کی دانجیل لفظ راغلی دی په لاندی ایاتوکی:

وَأَنزَلَ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ۝٣ آل عمران ٣

ژباړه: اوموږتورات اوانجیل نازل کړیدی.

وَيُعَلِّمُهُ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ ﴿٤٨﴾ آل عمران ۴۸

ژباړه: اوورزده کوی هغه ته (الله) کتاب (لیک) اوحکمت(د شرعی احکامو علم، ژورې خبرې) اوتورات اوانجیل.

يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لِمَ تُحَآجُّونَ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَمَآ أُنزِلَتِ ٱلتَّوۡرَىٰةُ

وَٱلۡإِنجِيلُ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِهِۦٓۚ أَفَلَا تَعۡقِلُونَ ﴿٦٥﴾ آل عمران ۶۵

ژباړه: ای اهل دکتابو ! ولی جګړه کوی تاسی( په شان د ) ابراهیم کښی (په دې شان چې هریوله تاسی ئې پخپل دین ګڼی) حال داچې نه دی نازل کړی شوی تورات اوانجیل مګر(په سلهاووکلونو) وروسته له ده ایانوهیڅ عقل نلری تاسی.

وَقَفَّيۡنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبۡنِ مَرۡيَمَ مُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِۖ

وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡإِنجِيلَ فِيهِ هُدٗى وَنُورٞ وَمُصَدِّقٗا لِّمَا بَيۡنَ يَدَيۡهِ مِنَ ٱلتَّوۡرَىٰةِ

وَهُدٗى وَمَوۡعِظَةٗ لِّلۡمُتَّقِينَ ﴿٤٦﴾ المآئدة ۴۶

ژباړه: اوولیږه موږوروسته له دغوانبیاؤعیسی زوی دمریمې حال داچې رښتیاویونکی ؤدهغه کتاب چې پخواله ده ؤله تورات اوورکړې ؤموږده ته (عیسی) انجیل چې په هغه کښې هدایت وواونور(رڼا) وه اوحال داچې مصدق (موافق) وودهغه کتاب چې پخواؤدده له تورات اوهدایت ؤ اوپندؤ دپاره دپرهیزګارانو.

وَلَوۡ أَنَّهُمۡ أَقَامُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِم مِّن رَّبِّهِمۡ لَأَكَلُواْ مِن

فَوۡقِهِمۡ وَمِن تَحۡتِ أَرۡجُلِهِمۚ المآئدة ۶۶

ژباړه: اوکه بیشکه دوی درولی وی ( احکام) دتورات اوانجیل اوهغه (کتاب) چې نازل کړی شوی دی دوی ته له درب له لوری ددوی (دمحمدصلی الله علیه وسلم په وسیله) نوخامخاخوړلی به ئې (میوې) له پاسه (دسرونو) خپلواو(غلې) له لاندی دپښوخپلو(دځمکې نه).

قُلۡ يَٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَٰبِ لَسۡتُمۡ عَلَىٰ شَيۡءٍ حَتَّىٰ تُقِيمُواْ ٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَ وَمَآ أُنزِلَ إِلَيۡكُم مِّن رَّبِّكُمۡۗ المآئدة ۶۸

ژباړه: ووایه ته (ای محمده !) چې ای کتابیانو نه ئې تاسی پرهیڅ شی (له حقه دینه) ترهغه پوری چې قایم کړی تاسی تورات اوانجیل اوهغه (کتاب) چې نازل کړی شویدی تاسو ته له (لوری د ) ربه ستاسی.

وَإِذۡ عَلَّمۡتُكَ ٱلۡكِتَٰبَ وَٱلۡحِكۡمَةَ وَٱلتَّوۡرَىٰةَ وَٱلۡإِنجِيلَۖ المآئدة ۱۱۰

ژباړه: اوکله چې می درزده کړتاته کتاب اوحکمت اوتورات اوانجیل.

ٱلَّذِينَ يَتَّبِعُونَ ٱلرَّسُولَ ٱلنَّبِيَّ ٱلۡأُمِّيَّ ٱلَّذِي يَجِدُونَهُۥ مَكۡتُوبًا عِندَهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ الاعراف: ۱۵۷

ژباړه: (دامتقیان اومؤمنان) هغه کسان دی چې متابعت کوی دوی د(دین د ) هغه رسول چې نبی امی دی هغه رسول چې مومی دوی (نوم اوصفت) دده لیکلی شوی په نزد ددوی په تورات اوپه انجیل کښې.

وَعۡدًا عَلَيۡهِ حَقًّا فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِ وَٱلۡإِنجِيلِ وَٱلۡقُرۡءَانِۚ التوبة: ۱۱۱

ژباړه: په دغه (الله) باندی وعده حقه ده په تورات کښې اوپه انجیل کښې اوپه قرآن کښې.

ذَٰلِكَ مَثَلُهُمۡ فِي ٱلتَّوۡرَىٰةِۚ وَمَثَلُهُمۡ فِي ٱلۡإِنجِيلِ الفتح: ۲۹

ژباړه: دااوصاف هغه اوصاف دی، چې مثالونه ئې په تورات کښې بیان شوی، اوداهغه صفات دی چې مثالونه ئې په انجیل کښې بیان شوی.
مېرمن کېټي پیټرداهغه حوالې وی چې مادرکړی، اوس دلته په قرآن کریم کی (انجیل) راغلی دی اوحال داچې تاسی (اناجیل) لری، یعنی دلته یو انجیل نوم راغلی دی اوتاسی انجیلونه لری، نوتاسی ولی وموږته قرآن دثبوت په ډول سره راوړاندی کوی؟ تاسی په عربی کی ودې انجیلوته (اناجیل اربعه) وایاست، په انګلیسی کی ورته Four (Gosples وایاست همداسی ده که نه؟
**میرمن کېټي پیټر**: هوهمداسی ده، اوداڅلورانجیلونه دنوی عهدنامې لومړی کتابونه دی نواوس نورڅه وایی؟
**ځواب**: اوس که داڅلورسره یوانجیل دی نوولی یوانجیل نه دی؟ که داڅلورسره یودی نوولی ئې لیکوالان څلوردی اویونه دی؟ که داڅلورسره یودی نوولی بیاپکښې دمځکی اواسمان په شان توپیرسره لری؟ بلکې دایوانجیل نه دی اودا(اناجیل) دی، اودابیلابیلولیکوالانو(متی، لوقا، مرقوس اویوحنا) په بیلابیلووختوکی لیکلی دی، نوداهغه انجیل نه دی چې قرآن ورڅخه بحث کوی، زه به ددې انجیلویووړوکی اختلاف دروښیم.
په دې څلوروانجیلوکی دسیدناحضرت عیسی علیه السلام شجره چې تاسوجوړه کړیده اوموږئې نه منواونه ورته کوم ارزښت ورکوویواځی په دووانجیلو(انجیل متی اوانجیل لوقا ) کی راغلی ده، اوپه پاته نورودوو انجیلوکی( مرقوس اویوحنا ) کی بیانشته، اودغه دوې شجرې دومره پخپلومنځوکی اختلافات لری، چې دلته وربانده بحث مشکل کاردی، نوتاسی قرآنکریم دثبوت په ډول سره مه وړاندی کوی، هغه کوم انجیل چې په قرآن کریم کی ذکرشوی دی هغه دالله کتاب وه،

اوهغه انجیل عیسی وو، اوداخودانسانانوپه لاسونولیکل شوی انجیلونه دی، چې دتحریفاتو، خرافاتو، فحش خبرو، پوچومفکورو، بی ارزښته الفاظو، شجرو، کیسو، تاریخ اونوروشیانوڅخه ډک دی، کیدای شی دازماڅوکرښی درته کفایت وکړی اوکه کوم مشکل وی نوزه درته حاضریم.

**میرمن کېتی پیټر**: دادرسره منم چې داهرڅه شته په بایبل کی، خودانه وه راته جوته چې په قرآن کی دیوه انجیل نوم راغلی دی، ومورته په کلیساؤ کی ویل کیږی چې په قرآن کی هم دانجیل نوم راغلی دی، اوقرآن په دی ګواه دی چې هغه دخدای کتاب ؤ اواوس ئې مسلمانان نه منی،اودوی ضدکوی او زه به ترهرڅه نه لومړی دقرآن کریم مطالعه کوم اوحق به وځانته معلوموم که څنګه؟

**ځواب**: آفرین، میرمن کیتی پیټر! تاسی لومړی دقرآنکریم یوه نسخه پیداکی، اوکه درته مشکله وی نوزه به ئې په فلیپین درک درکړم اویابه ئې زه درولیږم، اوکه دی په قرآنکریم په کوم ځای کی شبه وه اونه په پوهیدلی نولومړی هلته دیوه اسلامی مرکزڅخه لیدنه وکی، اوکه مووخت نه درلودی نودبریښنالیک اویاهم دفیس بوک له لاری راسره په تماس کی شی انشآءالله هرڅه مشکل به موالله جل جلاله درحل کړی، اوزه به ډیرژرڅوکتابونه چې داسلام په هکله لیکل شویدی دبریښنالیک له لاری درولیږم.

## دیوې عیسایي مېرمنې مریم یوحنادسوالوځوابونه:

<u>دجنوبي افریقا دیوې عیسایي میرمنی دسوالونوځوابونه</u>

دایمیل له لاری یوې مسلمانې خورعایشه عمردجنوبی افریقاڅخه د یوی عیسایی میرمنې مریم یوحناایمیل وماته راولیږی چي ماومریم یوحناته لیک ولیږی اوداسلام دعوت می ورکړ اودې راته وویل چی زه په دې اسلام نه قبولم چی:

۱: **په اسلام کی څلورښځې روادی.**

۲: **اسلام ښځه په کورکی کښینوی.**

۳: **اسلام په ښځې برقعه (حجاب)کوی.**

مادبریښنالیک له لاری ورته داځوابونه ورکړل اوورته ومی ویل کی چیری تاسی پراسلام نوراعتراضونه یادپوهې له کبله ایاهم دناپوهی له کبله لری نوزه درته حاضریم چې دخپلې پوهې مطابق قناعت بخښونکی ځوابونه درکړم اوزماډیرهیله ستاسوڅخه داده چی داسلام ښکلی دین چې یواځی دمځکې پرمخ الهی دین دی قبول کړی، دادین دژوندپوره ضابطه اوبشپړقانون دی، اوپه دې دین کی نه یواځی داچې اخرت به مو ښکلی اوسوکاله شی بلکې په دې دنیاکی به هم دښه روغتیا ، ښه ژوند ، دنیکمرغه حالت اوپوره خوښې اوسکون څښتنه شی، داخبره زه په پوره قناعت سره درته کوم اوپه دی کی هیڅ شک اوشبه نشته، زه به دهغه نویومسلمانانولیکنې هم درولیږم چې په اسلام مشرفه شوی اوداسلام پرښې ګڼواعتراف کوی، لوی څښتن دی وکړی چې بل لیک زه وتاسوته داسلام دمبارکی لیک درولیږم.

دالاندی ځوابونه په ښه غورسره وګوری، دهرځواب په متن اوبطن ښه ځان پوه کړی، اوهیله مندیم چې داځوابونه ستاسودهدایت سبب وګرځی. اوکه چیری تاسی دومره تکلیف نشی کولای نوتاسی کولای

شی چې په جنوبی افریقاکی دمرحوم احمد دیدات(رح) ومرکز Islamic Propagation Center International ته چی دډربن په ښارکی دی ورشی ترڅوموقناعت حاصل شی.

**ځوابونه**:

۱: په اسلام کی دڅلوروښځوجوازشته، اودا پرهرمسلمان فرض نه ده چی حتماً به څلورښځې کوی. تاسی ئې پخپله ټولنه (جنوبی افریقا ) کی راوښیاست چی څومسلمانانوڅلورښځې کړیدی، که دافریقاڅخه وامریکا، اروپااواسټرلیاته راشوهم به ډیره مشکله وی چی داسی مسلمانان راوښیاست چی څلورښځې ئې کړی وی.

۲: دسورت نساء هغه ایات شریف چی دڅلورښځوجوازورکوی په هغه ایات مبارک داهم ښکاره ده چي الله جل جلاله وایی (فان خفتم ان لاتعدلوافواحدة) که چیری تاسوعدل اوانصاف نشوای کولای نوبیایوه ښځه په نکاح کړی اوبس، چی اسلام یواځنی الهی دین دی چی دیوې ښځې حکم ورکوي. اوپه بل هیڅ دین کی داځانګړتیانشته اونه به هم وی.

۳: دنړۍ په ټولومذهبی کتابوکی (بایبل، تالمود،ویدا، رامائن، مهابهارت او ګیتا)که هغه مقدس کتاب دیهودودی، که دعیسایانودی، که دهندوانودی، که دبودایانودی اوداسی نوروکی ترهرڅوپوری دښځوجوازشته اوپرډیروښځوباندی هیڅ بندیزنشته، چي دبیلګې په ډول سره په بایبل کی راغلی دی:

ستاولی هیردی چي دپاچاسلیمان علیه سلام په حرم کی یوزر(۱۰۰۰) بیبیانې وی (سلاطین ۱-۳: ۱۱)

همدارنګه دیهودوپه مقدس کتاب تالمود کی هم راغلی دی چي حضرت داودعلیه السلام په لسګونوښځې درلودی، حضرت ابراهیم

علیه السلام درې ښځې درلودې، حضرت سلیمان علیه السلام زر ښځې درلودې او همدارنګه د سیدنا حضرت عیسی علیه السلام په وخت کې یهودو ډېرې ښځې درلودې خو حضرت عیسی علیه السلام هیڅ هم نه دی ورته ویلې چې منعه ئې فرمایلې وای. نو که ستاسو په دین (عیسایت) کې هر څو رواوې نو ځه بده خبره دی که په اسلام کې څلور ښځې رواوې.

۴: الله جل جلاله چې د څلورو ښځو جواز ورکړی دی دائې د پوره حکمت پر بنسټ کړیدی، او هغه دا چې د ښځو شمیر نسبت و نارینه وته ډېردی دا ځکه چې د طب له نظره هغه نارینه ماشومان چې عمرئې د(۱- ۳) کلونو پورې وی ډېرخپل ژوندله لاسه ورکوی نسبت و ښځوته، د عرادو په ټکرونو کې، په جنګونو کې، او دا سې نورو رناورو پیښو کې نارینه نسبت و ښځوته ډېر خپل ژوندله لاسه ورکوی نسبت و ښځوته، او زه به اوس په نړیواله توګه سره د ځینو هیوادونو او سیمو د ښځو شمیر د نارینه ؤ د په نسبت درته بیان کړم:

دامریکا د(Census Bureau of America) اداري په اند په ۲۰۱۱ کال کې په امریکا کې (۷۰۰۰۰۰۰) اووه میلیونه ښځې نسبت و نارینه ته ډېرې دی، یوا ځې په نیویارک کې (۱۰۰۰۰۰۰) لس لکه ښځې تر نارینه وزیاتې دی، او همدارنګه په امریکا کې د(Gary Gatetes) په وینا څلویښت لکه (۴۰۰۰۰۰۰) همجنس بازان دی، چې دا هغه خلک دی چې د هلکانو سره خپلې جنسی اړیکې ساتی او ودونه نه کوی، چې (۴۰۰۰۰۰۰) څلویښت لکه نورې ښځې له کاره وغورځیدې او اضافه شوې، چې دا د ښځو شمیردی، چې په امریکا کې په مجموعي ډول سره:

:

(۱۱میلیونه) ښځې دنارینه څخه اضافه شوی، داپه هغه صورت کی په امریکا کی هرنارینه یوه یوه ښځه په نکاح کړی، په اروپا کی (۱۲ میلیونه) ښځې اضافه دی ترنارینه و ،په جرمنی کی (۵ میلیونه) ښځې اضافه دی ترنارینه و، په روسیه کی (۹میلیونه) ښځې اضافه دی ترنارینه وو، په برطانیه کی(۴۰۰۰۰۰ ) څلورلکه ښځې ترنارینه وزیاتې دی، چې په مجموعی ډول سره په ټوله نړۍ کی:
په ټوله نړۍ کی اضافه ښځې+ همجنسبازان چې دښځوسره ودونه نه کوی=۳۰۰۰۰۰۰۰ دیرش میلیونه سره، چې مطلب داورڅخه راوځی که دنړۍ هرانسان یوه یوه ښځه په نکاح کړی نو(۳۰ میلیونه) ښځې لااضافه پاتې کیږی. چی دهیچاورته اړتیانشته.
نوداښځې به څه کوی؟؟؟؟
ایاداښځې به دحیواناتوپه شان ژوندپه هوټلونه، کارخانو، سُپرمارکیټونواوفاحش خانوکی تیروی ؟؟؟ ایاداښځې به دحیواناتوپه شان په ښارونوکی خرڅیږی؟؟؟ایاداښځی به یواځی اویواځی دنارینه وجنسی خواهشات پوره کوی؟؟ ایاداښځې به وژل کیږی؟؟؟ ایاداښځې به یواځی اویواځی دنڅاپه محفلونواوځایونوکی نڅیږی؟؟؟ایاداښځې داحق نلری چی یوښه ښکلی ژوندولری، عزت ئې خوندی وی، ښکلی خاوندولری، ښکلی ماشومان ولری، دښه جایداداودوستانوخاونده شی؟؟؟ !!!
بلی هو !!!!
دادهری ښځې خواهش دی چی سوکاله او دعفت ژوندولری، دمینې اولورینې نه ډک ژوندولری، دګلوپه شان ماشومان ولری، اودژوندهرڅه ولری، اوددې مشکل حل په هیڅ دین کی نشته، ودې زیاتوښځوته هیڅ دین نجات نشی ورکولای بیله اسلامه، داځکه چې په

اسلام کی دښځې حیثیت ډیرلوړدی،اسلام دښځې ډیرقدرکوی، اواسلام هغه دین دی چې وښځې ته ئې لوړمقام ورکړیدی، نوځکه اسلام دښځوعفت، عزت، نیکمرغې، ښه ژوند ، سوکاله اینده، شرافت اوښې چارې غواړې نوځکه اسلام ددی مشکل دحل لپاره جوازورکوی چې تاسی داښځې سره دوې دوې کړی، که دامشکل حل نشونودرې درې ئې کړی، اوکه دامشکل حل نشونو ځلورځلورئې کړی، ترڅوښځې له لعنته وژغورلې شي، دښه خاوند ، کور، کهول اوماشومانو څښتنې شی، اودقرآن کریم په دی جوازکی داحکمت دی.

۵: په امریکا، اروپا، افریقا اودنړۍ په ګوټ ګوټ کی مهذب انسان(نارینه) هغه دی ددوی په اندچې دډیروښځوسره ئې جنسی اړیکې وي، چې کله داشمیرپه اوسط ډول سره د (۸- ۱۵) ښځوپوری رسیږی، چې دایولعنتی ژونددی، اوله همدی کبله د(ایچ ای وی)په شان یوه مهلکه ناروغی ومنځته راغئی چې پایلی ئې مرګ دی، په داسی نامشروع اړیکوکله وژنې، تښتونې، وهل، ځان وژنې، غلاوې، طلاقونه ، اوداسی نورفسادونه زښته ډیرپه سرعت سره صورت نیسی، کله خوداسی هم وشی چې په داسی معاملوکی ښځې دحیواناتوپه شان ووژل شی اوداسی نور... نوکه اوس یومسلمان په شرعی ډول سره دځلوروښځوخاوند شی نوڅه بدوالی به پکښې وی؟؟؟؟ چې له دې څخه نه (ایډز) پیداکیږی، نه جنګ پیداکیږی، نه رقابت پیداکیږی، نه تښتونه پکښې ده، اونه هم وژل شته.

۶: نارینه په طبعی ډول سره ترښځې طاقتوردی، نوځکه ئې جنسی رجحان هم نسبت وښځې ته اضافه دی، چې دایومنلی حقیقت دی، که داسی نه ده نوولی په نړۍ کی دزنابالجبرورځ په ورځ زیاتیږی؟؟؟ دامریکادعدلی ریاست (U.S Department of Justice) وایی چې په

امريکاکی په هرودوودقيقوکی ديوې ښځې سره زنابالجبرکيږی، چې په يوه ساعت کی ۳۰ دزنابالجبرواقعې پيښيږی،اوپه يوه ورځ کی ۷۲۰، په يوه مياشت کی ۲۱۶۰۰، اوپه يوه کال کی ۲۵۹۲۰۰ داسی پيښې صورت نيسی، چې داهغه پيښې دی چی حکومت ورباندی خبراوورسره ثبت شويدی اوهغه چې ثبت شوی نه دی دهغوشميرخوخپل پرځای پاته دی، ستاسوپه جنوبی افريقاکی هرکال (۵۰۰۰۰۰) پنځه لکه داسی پيښې صورت نيسی، اوبله لاداچې ستاسوپه سيمه (جنوبی افريقا) کی ۳۷٪ فيصده نارينه په زنابالجبربوخت دی، اوحال داچې دداسی زناوو، فحشاوو، اوجنسی اړيکوپايله هلاکت اوومرګ ته ښه راغلاست دی، اوهمداوجه ده چې هرکال په نړۍ کی (۳٫۱ ) ميليونه خلک د(ايډز) مهلکه ناروغې وژنی، (۲۲٫۹ ) ميليونه خلک يوائې په افريقاکی دې ناروغۍ وژلی دی، چې داشميره لاورځ په ورځ پورته کيږی اوګراف ئې لوړيږی، په ۲۰۰۹ ميلادی کال کی ۳۳٫۳ ميليونه خلک په دی ناروغۍ اخته وه اوپه ۲۰۱۰ ميلادی کال کی داګراف پورته شواو۳۴ ميليونو ته ورسيدی،دادخومروانسانانوضايع ده، په دې انسانانوکی شتمن خلک، تعليم يافته خلک، پروفيسران، انجينران، ډاکټران اودهرې رتبې خلک شتون لری، اواسلام هغه دين دی چې داخلک ژغوری، اوددې پرځای چې دوی لږدلعنت اودحيوانيت ژونداختيارکړی نوالله جل جلاله ودوی ته ښه درحمت ، عزت اواوږدعمرورکوی، چې ددې لپاره چې ددې لعنتی ناروغۍ څخه وژغورل شی نوالله ورته وايی چې تاسودوې،درې ياځلورښځې وکی.

۷: که چيری يوانسان يوه ښځه ولری، نوودې ښځې ته ناروغې پيداکيږی، داښځه مړه کيږی، اوياهم مياشتنې ناروغی ورته

پیداکیږی (حیض) اویاهم دماشوم دپیدایښت څخه وروسته ناروغه شی (نفاس) نو په دغه وخت کی جنسی اړیکې الله جل جلاله منع کړیدی، اوداپه ساینس کی ثابته ده چې داوخت ښځه ناروغه وی، ددردونوسره لاس اوګریوان وی، دښځې له بدن څخه فاسدموادراوځی، اوپه داسی حالت کی دښځې سره جنسی اړیکی ساتل دبې شمیره ناروغی عامل ګرځی هم دښځې لپاره اوهم دنرلپاره، نوپه دغه وخت کی که یوانسان دیوې ښځې پرځای دوی، درې یاڅلوررولری نوڅه به وی؟؟؟؟ بلکې رحمت دی، داځکه داانسان دغیرمشروع اړیکوڅخه ژغورل کیږی، ترڅودهلاکت وکندې ته ورداخل نشی. چې دایی بله ګټه ده دیوې څخه دزیاتوښځو.

۸: کله چې تاسی اسلام راوړی نوتاسی به یومسلمان خاوندپه نکاح کوی، اوپه اسلام کی ستاسونفقه، جامې، اوهره غوښتنه اوروزنه دخاوندزمه اوفریضه ده، تاسی به پخپلوکورونوکی په امن اوخوښۍ سره ناستې یاست اوخاوندبه هرڅه ستاسودغوښتنې مطابق راوړی اوستاسوخواهشات به پوره کوی، دااوس ستاسوڅه ژونددی؟ په کارخانو، په فابریکو، په هوټلونوکی، په دکانوکی، اداسی نورځایونوکی تاسی کارکوی، داکارمودپیدایښت څخه نیولی ترمرګه پوری دی، کله تاسی وهل کیږی، کله ستاسوتنخواګرځول کیږی، کله پرتاسوډوډۍ بنده وی، کله ستاسوسره تریوه حیوان بدترسلوک کیږی، کله تاسی دزنابالجبر ښکارشی، دغرمې اومابنام ډوډی تاسی په ولاړوخوری، نه موسکون شته اونه موارام شته اونه وښه ته خلاصی یاست اونه هم وبدته، وبل لورته اسلام ستاسوڅومره عزت کوی، وتاسوته څومره امتیازدرکوی، اوستاسودسوکالۍ لپاره ئې څومرسخت شرایط وضع کړید، اسلام تاسی په کورکی په امن کی

کښینوی اوله هرتکلیفه مولیری ساتی، چې داداسلام بله ښېګڼه ده، اواسلام ستاسولپاره رحمت، نعمت، عفت اوشرافت دی.

۹: دښځوپه طبعیت کی داده چی دګلوپه شان ماشومان ولری، اودماشومانوسره پخپله ژبه وغږیږی، اودهغو سره دزړه خواله وکړی، دهغو ساتنه وکړی، دهغو مراقبت وکړی اوپه ښواخلاقوئې سمبال کړی، ترڅوپه اینده کی دانسانیت ویاړخپل کړی، اوموردماشوم په روزنه کی ډیرارزښت په دې لری چی دمورغیږدماشوم لومړی مدرسه ده، نواسلام چی تاسی په کورکی کښینوی وتاسوته یوه مقدسه دنده درکوی اوهغه دماشومانوپالنه اواصلاح ده، اوکه موږپه نړۍ کی وګورونویوه موردخپل ګلالی ماشوم سره کله په یوه میاشت کی اوکله په دوومیاشتوکی دیوه پردی انسان په ډول سره ورسره ګوری، ایاداماشوم دخپلی مورمینه اولورینه نه غواړی؟ ایاداښکلی ماشوم دخپلی موردمینې نه وډکې غیږته اړتیانلری؟ ایاودې ماشوم ته ترخپلی مورماسوی بل څوک ګران شته؟؟؟ ایاداماشوم که په کودکستان کی خوږشی دخپلې مورنارې نه وهی؟؟؟ ولی ددې ماشوم څخه په ژوندون خپله مور، دزړه ټکور، غمخور، دزخمونومرهم ورکه ده؟؟؟
نوداااسلام دی چې یوه مورپه کورکی کښینوی ترڅوددې نازولی ماشوم ددرددوااوداوښکوشفاءشی.

۱۰: کله چې تاسی اسلام قبول کی نوستاسوخاوندبیانشی کولای چې دنوروښځوسره خپلی غیرمشروع اړیکی وساتی، اوکه ئې داکاروکی نوسزابې مرګ ده، دیوه مسلمان خاونداویوې مسلمانې میرمنی ترمنځ اعتمادزښته ډیردی، اوبل لورته ښځه هم نشی کولای چې دنورخلکوسره جنسی اړیکی ونیسی اوکه ئې ونیولی نوسزابې مرګ

ده، نومطلب داچې په اسلام کې دخاونداومیرمنې ترمنځ پوره اعتمادشته،دپوره مینې تارغځیدلی دی اوکه چیرې وبل لورته وغیراسلامي ټولنوته وګورونه په هغوکې یوخاونددخپلې میرمنې څخه علاوه دډیربنځوسره نارواا‌ړیکې لري، چې داتاسې دتل په شان وینی، اوکله چې ښځه فکروکې چې خاوندمې دنوروښځوسره نارواا‌ړیکې لری نوداهم دنورورخلکوسره داړیکوتارغزوی، چې پایله ئې داراوځی چې طلاقونه، بې اعتمادې، وژنې، اختناق اونورفسادونه صورت نیسی، داسې لیکنه مې هم پرانټرنیټ باندې ولیدل چې یوه ښځه سهاردیوه میړه له لوری طلاقه شول ،په هغه ورځ ئې دبل سره نکاح وکړل اودشپې هغه هم طلاقه کړل،تردې بل لعنت؟؟!! نوداداسلام بله ښې ګڼه ده، که اسلام قبول کړی نوددې ټولوناخوالوڅخه به دنجات وساحل ته لاره ومومې.

۱۱: **حجاب**

په اسلام کې چې کوم اوصول، قوانین اواوامر دښځو لپاره ټاکلی شوی اوبیان شوی دی په هغو کې ضرورددې ښځولپاره هم د دنیااوهم داخرت ګټې نغښتې دی، اوپاته دی نه وی چې هرهغه څه چې اسلام ورته امرکړیدی په هغوکې ددی نړۍ ګټې زښتنی نغښتی دی، دحجاب یوه موخه داده چې تاسې دټولنې دټولوجراثیموڅخه وژغورل شی، اوڅوک موپرعصمت باندې تیری ونه کی، څوک درته په بدنظرونه ګوری، اوهرڅوک درته عزت درکړی داځکه چې حجاب دوقاراوعزت سمبول دی، کله چې دلومړی ځل لپاره دډینګی غوماشه په افریقاکې پیداشول اوتاسی ورته په دې ډینګی وایاست چې ډینګی وسختی تبې ته وایی چې دردئې ډیراوهډوکې ماتوونکې دی، چې دااصطلاح تاسی ورته وضع کړیده، نودا ناروغې چې کله کشف شول تاسوددی په موخه چې

دډینګی دناروغیٰ څخه ځانونه وژغوری نوحجاب موپیل کړی، اوحتی نارینه وبه دافریقاپه دې سخته ګرمیٰ کی پنډۍ کوکران پرځانوپیچلی وه، چې اسلام درته ثابته کړل چی که تاسی دتل په شان داسی حجاب وکی نودداسی په زرهاوو ناروغیوڅخه به وژغورل شی، چی اوس حجاب په ساینس کی درته روښانه کوم.

## دحجاب په اړوندنوی ساینسي څېړنې اوحقایق

دټول بدن (۴۰- ۶۰ ٪) پوری تودوخه یوائې په سرکی شتون لری نوهغه څوک چی سرئې پټ وی په یخه هواکی (٪۵۰) دخپل بدن تودوخه ساتی نسبت وهغه چاته چی سرئې لوڅ وی، اسلامی اوچینایی طب په یوه لیکنه (In the Hua Di Nei Jing) یعنی
(The Yellow Emperor*s Classic on Inter and Medicine)
په اوس مهال کی داثابته کړیده، چی دبادحرکت اوخوځښت په بدن کی ډېربدلونونه راولی، چی لوی تاوان ئې دادی چی دبدن موازنه سره ویجاړه وی اودرنې پایلې لری، چی دروغتیالپاره ډېرخطرناکه دی اوکه چیری حجاب وی نوبیادابدې اغیزې نشته، اوسنی ساینس پوهانوداهم ثابته کړیده چی عام زکام اونزله دبادله کبله پیداکیږی، داځکه چی بادبدن وهی اوپه نتیجه کی لومړی نوررږی چی بیاکله په زکام اونزلې اوکله بیاهم داکړاوونه دایمی سی، خوکه حجاب وی نوددې ټولومشکلاتوڅخه بیاخلاصون ډېراسانه دی-

**داعصابویومشهورمتخصص ډاکټر .وې، جي روسین** (V.G. Rocine) **پخپلوڅېړنوکی لیکی:**

په ګرموسیموکی، اوپه ګرم موسم کی دسرپټول دروغتیالپاره شرط دی، داځکه چی دماغزوفاسفورس په (۱۰۸) درجوکی دحرارت ویلې کیږی، اوکه یوڅوک ولمرته لوڅ سرګرځی په ډېره لږه موده کی

دسردحرارت درجه و(۱۰۸) درجوته رسیږی چی په نتیجه کی وماغزوته سخت تاوان رسیږی، حافظه خپله جنازه کوی، دماغ کارپرېږدی، داعصابورګونه چوی، چی دمرګ، لېونتوب اوناوړوپايلوسبب ګرځی چی بیائې درملنه ناشونې ده اوکه سرپټ وی، نوبیاددې ټولومرګانی پیښنوڅخه هرڅوک ژغورل کیږی-

**پروفیسربرنارډ جنسن** (Bernard Jensen) **په ښچپله طبعی درملنه کی داسی لیکی**:

اعصاب اوماغزه ټول په مینرالی فاسفورس پوری تړاولری، چی دافاسفورس دېرژردګرمۍ له کبله اغیزمن کیږی اواعصاب ورسره فلجیږی- داپه هغه وخت کی چی کله سرپټ نه وی، اوهواګرمه وی-

**ډاکټرایم- جوزف** (M. Josef) **وایی**:

لکه څرنګه چی دنړۍ تودوخه ورځ په ورځ زیاتیږی،شین کوریزه غازونه داوزون برخه ورځ په ورځ خرابوی، اودلمرزهرجینې وړانګې ومځکې ته ځان رارسیږی، نودملګروملتوله لاری بایدوهرچاته داامروشی چی سرپټ کړی، اوکه امکان وی نوسراودملاتېردی هم ترکالوڅخه په ښه رخت پټ کړی، که نه !!! نوداسی وخت به راورسیږی چی انسانان به مړه کیږی اوڅوک به نه په پوهیږی، خلک به لېونیان کیږی او ډاکتران به نه په پوهیږی چی داټول ددې زهرجینوشعاوواغیزې دی؛ نوزمامشوره داده چی ملګرې ملتونه باید پخپل منشورکی ودې ته پام وکی، اونړېواله روغتیایی سازمانونه هم بایدپه دې فاجعه خبرشی، اوپوره ونډه پکښې واخلی ترڅودمځکې دګرې دمخ زیات انسانان له لاسه ورنکړو-

(International Health Canter and Service G. T)

## دیوه نړیوال روغتیاپال(ډاکټر)

په ویناچې داروپاهرشخص (۳۰) واړه زخمونه لری چې دادلمردشعاوولہ کبلہ څخه دی، چې داواړه زخمونه اکثره وخت په سرطان بدلیږی، همدغه ډاکټرپخپله یوه اوږده لیکنه کې زیاتوی، چې دلمرحرارت دانسان دفاعی نظام کمزوری کوی، اوولمرته بربنډګرځېدل دومره خطرناک دی چې لکه یوڅوک چې په یوه بنده کوټه کی کلف کړل شی، اوبیاسګریټ ورته ولګول شی نوپه داسی حالت کی داڅومره خطرناکه عمل اوناوړه پایلې لری اوحجاب دښځولپاره په ځانګړی ډول سره یوه طبعی طبی طریقه ده، دلمردډې شعاووله کبله په ځانګړی ډول سره پرغاړه اومخ باندی دسرطان داغونه چی کله دومره واړه داغونه وی چې په سترګونه معلومیږی راښکاره کیږی، اوکه ئې ژردرملنه ونشی نوضرورېه دمرګ سبب ګرځی، چې دداسی سرطان ډېرې پېښې مورثبت کړیدی، اوداسرطان دنارینه وپه نسبت په ښځوکی زښته ډېردی داځکه چی ښځې نسبت ونارېینه وته زیاتې بربنډې دی-

دداسی سرطان یوقسم داسی دی چې اکثره دډې ښکارښځې دی، چې لوڅې اوبربنډې ګرځی، اویاهم نازکې جامې ئې په تن وی، چې پربدن ئې دډې کوچنیوزخمونوله کبله خارش پیداکیږی، چې دوخت په تېرېدوسره بیادازخمونه غټیږی، وینه ورڅخه بهیږی اونتیجه ورڅخه داراځی چی درملنه ئې ناشونې شی، چې خپله ومرګ ته ښه راغلاست ویل دی، اوددې شخص د ژوندشیبې ختمی شی؛ دډې سرطان یوبل شکل داسی دی چې دغنموددانوپه بڼه سره دانې پرسر، شونډانو، غوږواوپرلاسونوباندی راښکاره کیږی اوکله چې دډې دانوسره دلمرشعاوې نورې هم په تماس کی شی نوداوهلاکت ته نوره بلنه ده چې

په برطانیه کې هرکال دداسی سرطان څخه (۲۶۰۰) کسان خپل ژوندله لاسه ورکوی، چی همدااندازې ورځ په ورځ په زیاتېدوده-
هغه ښځې چی حجاب کوی دخولې اوپزې دډېروناروغیوڅخه دژغولوپه جال کی دی، داناروغۍ دبېلګې په ډول سره نزله، زکام،سارس،انفلوینزا اوداسی نورې سارې ناروغۍ دی، چی حجاب علاوه ددې څخه وېښتېان هم دهرډول ناروغیوڅخه ژغوری، دوېښتیانو ناروغۍ لکه درځ کول، ماتېدل، رژېدل، رنګ له لاسه ورکول، اوداسی نو--- دائکه چی حجاب وېښتیان دګرد، غبار، دوړو، ګرمۍ اویخنۍ څخه ساتی، نوموړوغتیاپالان وټول خلکوته داتوصیه کووچی کله دباندی وځی نوبدن موبایدپټ کړی، که نه نودداسی افت ښکاربه شی چی علاج به ئې ناشونی وی، اوبله داچی ګرد، غبار، دوړې، اودلمرشعاوې پرمخ باندی دانې پیل کوی، اوبیاهغوته وده ورکوی چی په دې سره دانسان ښکلاله مینځه ځی اوداموړته ښه معلومه ده چی دحجاب کوونکوښځواودنه حجاب کوونکوښځوترمینځ توپیردمځکې اواسمان په شان شتون لری-
**دپوستکې یومختصص ډاکټرمتی، ایم نایس وایی:**
دوېښتیانو دلپاره دلمرشعاوی، چټلې اوهغه اوبه چی کلورین پکښې زیات وی زیات مضردی، چی داپورته عوامل وېښتیان دنرموالې څخه کلکوالې ته بدلوی، ځلایئ ورختموی، ښایست ئې له مینځه وړی، ماتوی ئې اودرځونه پکښې پیداکوی، اوبل داچی ویښتیان همواره نه ساتی، چی ددې ټولولپاره بهترین قدرتی اسانه درملنه حجاب دی-
د(British General Medical) په اسنادوکی چی خپاره شوی دی، راغلی دی چی دبرطانې په هغوښځوکې چی کارکوی د(V-Daises) دوباء په شان خپرېږی، په ځانګړې ډول سره دسینې سرطان مخ په

وړاندی ځی، چی په همدې ناورین دکانترولوپه موخه دوی مختلف قسم ورزشونه اولوبی هم کوی، رنګارنګ کریمونه اودرمل هم ورسره استعمالوی چی داهرڅه بیاهم تسلی نشی راوستلای اوداټول دښځې دبدن دپوره نه پوټوالې پایلې دې، دسردنه پوټولوپه صورت کی اعصابی تکان، دسردرد،د سترګوددیدکمزورتیااودبدن عمومی دفاعی نظام کمزوری کیږی، ددې څخه علاوه په (۵۰) کالوکی په ځانګړی ډول سره په لویدیځ کی چی ښځه دیوې رقاصې په ډول سره وټولنې ته معارفی شوې ده، خپله حیااوعزت ئې غورځولی دی، پرټوله نړۍ ئې داخلاقې فسادجال غوړولې اواوس ئې عواقب ډېردردناکه، خطرناکه اوبې علاجه دی اوځینی خوئې لاداسی دی چی مهلک اونه کنترول کېدونکی دی-

**دامریکا دمشی ګن یوپروفیسر دښځوپرلباس باندی څېړنې کړېدې اوداسی لیکی**:

که چیری دښځې بدن پټ نه وی، اویائې په پایجامه تربجلکوکښته نه وی نودښځې ښځینه هارمونونه کمیږی، وهغوته نقصان رسیږی اویاهم داهارمونونه ډېریږی چی په نتیجه کی

(Vaginal Inflammation) یعنی دمهبل التهاب، (Backache) یعنی دملادرد ، اعصابی نیمګړتیاوې اوکمزوربانې ښکاره کیږی-

دپوستکی یومتخصص ډاکټر(رونالډشرمن، ایم-ډی) وایی:

دلمرزهرجینی شعاوې چی کله پرمخ لویږی نودمخ پوستکی ګونجې، ګونجې کوی، اوددې څخه علاوه دپوستکی دسرطان زیات امکان شته داپه ځانګړې ډول سره په ښځوکی ، اودادوی لپاره ښه مشوره دی چی مخ پوټی استعمال کی ترڅودمخ ښکلائې له مینځه ولاړه نشی-

دلمردشعاووله کبله دښځو پوستکی توربړی، سختیږی چی بیاداپوستکی دیخنۍ په موسم کی پرې کیږی، چوې اودډول ډول دپوستکودناروغویوښکارکیږی - البته حجاب پوستکی نرم، ساتی چی ددې ټولوناخوالولپاره ښه علاج دی۔

**واُمت مسلمه ته لارښوونه**:

هرهغه څوک چې دعیسایت په هکله غواړی چې معلومات وځانته لاسته راوړی، نوترټولولومړی بایددهغونابغه علماءوکتابونه مطالعه او وکتل شی چې په دې لاره کی ئې واټن طی کړی، اوډیرې لاسته راوړنې لری، دهغومناظرې، کتابونه، مجلې اونورتوکی بایدژوروکتل شی،اوبیاوروسته دهغوپه رڼاکې قدم په قدم نوره څیړنه وکړی، که چیری داسی وشوه چې کوم مشکل ئې درلودی نولطفادی ومعتبروعلمی شخصیتواواسلامی مرکزونواوسرچینوته مراجعه وکړی ترڅومشکل ئې حل کړل شی، خواوس دانټرنیټ له کبله داستونځې ډیرې اسانه اوژرحل کېدلای شي،که هغه ودارُالعلوم دیوبندهندته ولیږل شی، که هغه وکراچی دارُالعلوم ته ولیږل شی، که هغه دشیخ احمددیدات ومرکزته چې په افریقاکی دډربن په ښارکی دااوداسی نورو.... دعیسایت په هکله هرمشکل اوسوال ډیرژرحل کېدلای شی انشآءاللہ.اوکه چیری یوڅوک هیڅ نشی کولای نوکولای شی چې زمورږسره اړیکې ټینګې کړی ترڅوئې هرمشکل دلوی اللہ جل جلاله په فضل سره په ښه ورین تندی او خلاص زړه سره ورحل کړو.

په اسلامي پاکه مینه

ستاسوورور

عبدالغفاجٌبیر ۲۵/۳/۲۰۱۲

# مناظره

**دمناظرې دعلم پېژندنه**:

هوعلم يعرف به كيفية اداب اثبات المطلوب اونفيه اونفى دليله مع الخصم الباحث عن كيفية البحث(رشيديه مع حميديه ۱۳)

علم مناظره هغه علم دی چې په دې کښې دخپلې مدعااثبات اودفريق مخالف دمدعااودليل دنفی اوختمولوپېژندنه حاصله شی.

علم المناظره، علم الجدل اوعلم البحث يوعلم دی.

**موضوع**:

الادلة من حيث انهاتثبت المدعاعلى الغير

(رشيديه مع حميديه ۱۳)

دهرعلم موضوع هغه شی دی چې دهغه دذاتی عوارضومتعلق په دې علم کښې بحث کيږی، څرنګه چې په علم مناظره کښې د(دلائلو) اړوندبحث کيږی نوله همدې کبله دعلم مناظرې موضوع دلائل(ادله) دی هغه په دې حيثيت سره چې هغه په غيرباندی مدعا ثابتوی.

**موخه اوغرض ئې**:

صيانة الذهن عن الخطاء فى الوصول الى المطلوب.

خپل مطلوب اوموخه ته په رسيدلوکښې ذهن دغلطۍ نه ژغورل.

(رشيديه مع حميديه ۱۳)

**دمناظرې تعريف**:

توجه المتخاصمين فى النسبة بين الشيئين اظهاراًللصواب(ايضاً)

دنسبت نه مرادنسبت تامه خيريه بين الشيئين دی، ځکه چې په انشائياتوکی مناظره نه کيږی، په نسبت کی جګړه داسی کيږی چې يوفريق دهغه اثبات کوی اوبل فريق ئې نفی کوي.

## مناظرې ته ولې مناظره وايي؟

**لومړی قول**:مناظره دنظیرنه اخیستل شویده نوله همدی کبله((ینبغی ان یکون المناظران نظیرین ای مساویین فی العلم)) دمناظره کوونکولپاره دامناسبه ده چې دواړه په علم اوپوهې کښې سره برابروی.

**دویم قول** دادی چې مناظره د((نظر))څخه اخیستل شویده چې ولیدلوته وایی نوویلای سوچې((ینبغی للمناظرین ان یبصرکل واحدمنهاالآخر)) ومناظره کوونکوته پکارده چې یوبل ته مخامخ وی اویااقلاًیوبل ته سره ښکاری.

**دریم قول**: یامناظره د((نظر)) څخه اخیستل شویده چې معنی ئې ده غوراوفکر، نوویلای سوچې((ینبغی لکل واحدمنهماان یتفکرفی کلام الآخر)) ومناظره کوونکوته پکارده چې یودبل په خبرواوکلام کښې دغوراوفکرڅخه کارواخلی.

**څلورم قول**: ځینی حضرات وایی چې مناظره د((نظر)) څخه اخیستل شویده او((نظر))وانتظارته ویل کیږی، چې دامطلب ورڅخه راوځی چې مناظره کوونکي بایدیودبله دخبرې وختمیدلوته انتظاروکړی.

**پنځم قول**: ((نظر)) په معنی د(التفات النفس الی المعقولات والتامل فیها)، ومناظره کوونکی ته پکاردی چې ومعقولاتوته خپله توجه وکړی اوهغه څه چې ئې دخولې څخه وځی په هغوکښې دپوره غورڅخه کارواخلی.

**شپږم قول**: دادی چې مناظره دمقابلې په معنی ده.

## مناظره، مجادله اومکابره:

دمناظرې تعریف تیرشوچې هغه جګړه ده چې ښکاره کول دحق پکښې اصلی موخه وی اوبس.

**مجادله**: هغه جنګ دی چې په هغه کښې د حق ښکاره والی مقصود نه وی بلکې یوائې د مقابل لوری خاموشه کول اصلی هدف وی.
په قرآنکریم کی چې کوم توری د(مجادلې) راغلی دی هغه مطلق عام دی ومناظرې اومقابلې دواړوته وایی.
**مکابره**: داهغه مقابله ده چې اصلی موخه ئې خپل مقابل رسوا کول وی، چې په دې کښې د حق ښکاره کول مقصد نه دی بلکې یوائې شهرت وی.
الله عزوجل دی له دی څخه پناه راکړی.

**دمناظرې دعلم تدوین**:

ارسطاطالیس په یونانی ژبه کې(طوبیقا ))په نوم یوکتاب ولیکی، بیااسحاق په سریانی ژبه کښې اویحیی په عربي ژبه کښې دهغه کتاب ژباړه وکړل، دبنوامیه په وخت کښې دمناظرې دعلم عروج ؤ؛ امام غزالی رحمة الله علیه په(احیاء علوم الدین ) کښې وایی چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دوصال نه وروسته دخلفاء راشدینوزمانه چې راغله نوخلفاء مجتهدین واوخپل اجتهادبه ئې کاوه، دخلفاء راشدینوڅخه وروسته کله چې دبنواُمیه دوره راغله نوهغوی ته دفقهاووارتیاوه، خلکودفقهې مسئلولپاره وفقهاوته رجوع کوله، کله به په مسئلوکې اختلاف پیداشو نوځکه وبحث اومباحثې ته اړتیاوه، اوبحثونه اومباحثې به کیدلې تردې چې پاچاهانوبه پخپلودربارونوکی دبحث اومباحثې مجلسونه جوړول. (احیاء علوم الدین)

**دمناظرې حکم**:

علامه شامی رحمة الله علیه وایی:
المناظره فی العلم لنصرة الحق عبادة،ولاحدثلاثة حرام: لقهرمسلم، ولاظهارعلم، ونیل دنیا اومال...

(ردالمحتار، کتاب الحظروالاباحة ۶: ۴۲۱)

دحق دنصرت اوکامیابۍ لپاره مناظره کول عبادت ده، اودمسلمان دذلت، دخپل پوهې دښکاره کولواوددنیااومال ولاسته راوړلولپاره مناظره کول حرامه ده، دوعظ نصیحت دپاره مناظره کول دانبیاء کرامورضی الله عنهم اجمعین سُنت ده.

له همدې کبله دمناظرې لپاره نیت اړین دی ،چې نیت بایدصفاءوي، په هره اندازه سره چې لوی عالم وی اونیت یې صفانه وی نودی به ضروررسوااوذلیله کیږی، داځکه چې داعمالودارومدارپه نیت پوری تړلی دی، اوبرعکس که چیری مناظره دحق لپاره وی نوجائزنه بلکې واجب ده.

تحفة المناظر(ص ۳۷- ۴۹)

افادات حضرت مولانامنظوراحمدمنګل صاحب استاذ الحدیث جامعه فاروقیه کراچی.

ترتیب وتخریج: مفتی ضیاء الرحمن ذاکر، رفیق دارالافتاء استادجامعه فاروقیه کراچی.

چاپځای: مکتبة الحرمین، الحمدمارکیټ اردوبازارلاهور.



# دیوه عیسایی راهب سره زمامناظره

داډېروخت غواړی چې په مکمله توګه سره، له دې ښاغلی راهب متی العربی سره زمااړیکې وشېړم، البته بنسټ ئې زمادالیکنې وې:

Is Jesus God?
ایاعیسی علیه سلام خدای دی؟

The Trinity
تثلث(ددرې ګوند خدایانونظریه)

The Root of Christianity
دعیسایت ریښه اوبنسټ

Is the Bible God*s Word?
ایابایبل دخدای کتاب دی؟

دې ښاغلی راهب دلومړی ځل لپاره خپل ځان راته دالعربی په نامه سره معارفی کړی وو، خووروسته ئې خپل ځان راته متی العربی عیسایی معارفی کړ، اوراته ئې وویل چې زه دBible College بایبل کالج څخه فارغه شوی راهب یم،خپله کلیسا لرم،اوبله دنده می داده چې دعیسایت مبلغ(Evangelist) هم یم، اوموږپه مصرکی ۱۶ میلیونه کاپټک کریسچن (Coptic Christians) یعنی داسلام څخه مخکی عیسایان یودبېره اوپلارنیکه څخه، اوغواړم چې یوه مناظره درسره وکړم، ماورته وویل چې ښاغلیه! زه په هرځای کی هروخت درته حاضریم،خودمناظری ښه به څنګه وی؟ ده راته وویل تاسی دلومړی ځل لپاره راڅخه پوښتنې وکړی ، اوکوم شکونه چې تاسی لری په عیسایت کی هغه راسره شریک کړی ، ماورته وویل تاسی مشریاست نولومړی تاسی لطفاپوښتنې وکی ، ده راته وویل چې ته څه خبریې چې زه ترتاسومشریم اوکیدای سی دادی خلاف خبره کړی وي، نوماورته په ځواب کی وویل چې عیسایت مخکی ؤاوکه اسلام ؟ ده ځواب راکی

چې یاعیسایت مخکې دی تراسلام ، نوماورته وویل چې نوتاسی مشریاست ؛ بیا ئې وویل چې هو ! ! !نودلومړی ځل لپاره زه پوښتنی درڅخه کوم اوبیابه ته خپلې پوښتنې راسره مطرح کړې؛ همداسی وشول ،لیکنه نه اوږدوم اوپه اصلی مطلب پیل کوم۔
دلومړی ځل لپاره ئې خپل تعارف وماته داسی وکړ:
متی العربی، دمصردپلازمینې قاهرې اوسېدونکی، او۳۹ کلن یم، اواوس می دنده داده چې په نړۍ کی عیسایت خپورکړم۔ اوپه عربی اوانګلیسې ژبوباندی خبرې کولای شم۔ ماورڅخه مننه وکړه اوخپل تعارف می هم ورته وکړ۔ اوس دپښتونولړۍ پیل شوه۔
۱: **متی العربی**:دیوه سړي څخه لاره ورکه ده، اوروان دی چې ګوری یو سړي پروت دی اوبل سړی ئې وسرته ناست دی داورک سړي به دکوم سړي څخه پوښتنه کوی چې خپله لاره ومومی یعنی دناست سړي څخه اوکه دبیده سړي څخه؟
**ځواب**: بسم الله الرحمن الرحیم الحمد لله رب العلمین والصلاة والسلام علی سیدنا وامامناواسوتنا وحبیبناومعلمنا رسول الله وعلی آله وصحبه ومن اتبع هداه ... وبعد:
تاسی دتل په شان بېهوده ، مالایعنی ، پوچې اودعقل څخه لیرې پوښتنې کوی ، اوکه چیری سړی عام معلومات ونلری ، نو دمشکلاته سره مخامخ کیږی، خوچې یوڅوک یوکاردالله جل جلاله درضاء لپاره کوی نوضرورالله جل جلاله ورسره پوره مرسته کوی، په تاریخ کی ستاسودعلماءو سره زموږداکابروعلماءوکراموسره ډېرې مناظرې کړیدی او لله الحمد په هره مقابله کی ئې ماته درکړېده، لکه د(اظهارالحق) لیکوال مرحوم مولانارحمت الله کیرانوی الهندی رحمة الله علیه، مرحوم شیخ احمددیدات اومرحوم مولاناصفدراوکاړوی

**دیوبندی رحمة الله علیه** او **شهید علامه سید جمال الدین افغان** اوداسی نور۔۔ستاسو داسی سوالونه په زرهاووزماترنظرتېرشوي دي، اومالوستی دي، اوزه دي په مطلب پوه شوم چې دبیده **څخه** دي نبی کریم صلی الله علیه وسلم مراددی، اودناست سړی **څخه** دی **حضرت عیسی** علیه سلام مُراددی، نوزه درته وایم چې زه وبیده ته انتظارکوم اودهغه **څخه** پوښتنه کوم اودویښ سړي **څخه** پوښتنه نه کوم

۲: **متی العربی**: ولی دناست اوویښ سړی **څخه** پوښتنه نه کوی؟ اوعقل هم داوایی چې بایددناست سړي **څخه** هدایت واخیستل شی اوبیده هم هغسی بیده دی که څنګه؟

**ځواب**: ناست سړی خپله دبیده په انتظارناست دی، نودی به وماته څنګه لاراوهدایت راوښیی.؟ نوځکه وبیده ته انتظارکوم ترڅوماوهغه بل ته چې له وخته ئې انتظارکړیدی ودواړوته لارښوونه وکړی ترڅولاره وموموو.

۳: **متی العربی**:ایاتاسی په قرآنکریم ایمان لری؟که ئې لری په قرآنکریم کی خوهم انجیل ، تورات اوزبورراغلی دی نوتاسی ولی پردی کتابوایمان نلری؟

**ځواب**:په قرآنکریم چې دانجیل نوم راغلی دی هغه انجیل دعیسی علیه سلام وو، پرهغه زموږدټول امت مسلمه ایمان دی، دزبورنوم چې راغلی دی، هغه زبورددااودعلیه سلام ووچې زموږپرې ایمان دی، اوچې دتورات نوم راغلی دی هغه تورات دحضرت موسی علیه سلام وو، چې پردې ټولوزموږایمان دی، چې داالهی کتابونه وه، خواوس چې تاسی کوم انجیلونه لری داخودمتی، دلوقا، دیوحنا اودمراقس

انجیلونه دی هغه انجیل عیسی چیری دی؟ موږیوائی پرهغه انجیل عیسی ایمان لرو.

اوبل لورته داکتابونه پخپله په دې باندی گواه دی چې دوی نه دالله کلام دی ، نه دپېغمبرانولیکنه اوویناده اونه هم دهغوحواریینوکتابونه دی چې تاسوورته منسوب کړیدي دبیلګې په ډول سره:

موسی علیه السلام دخدای مطابق هلته دمواب په ملک کی وفات شو ، اوهغه ئې هلته دمواب په یوه دره کی یعنی بیت فغورته مخامخ ښخ کړی، چې تراوسه ئې وهیچاته دقبرمعلومات نشته اوموسی دوفات پرمهال د( ۱۲۰ ) کالووچې نه ئې سترګې کمزورې شوې اونه ئې طبعي قوت له مینځه تللی ؤ. (استثناء ۳۴: ۵- ۸ )

چې دائې یوه بیلګه ده چې زه ئې درته ذکرکوم، اوس نوکه ودې بیلګې ته څه دعقل اوپوهې په سترګووکتل شي، نودادریم سړی دی چې دموسی علیه السلام په هکله خبرې کوي؛ چې په واقعیت کی نه دادالله کلام دی اونه هم دموسی علیه السلام خبرې دي بلکې دیوه نوم ورکي سړي خبرې دي چې په موسی علیه السلام پوری تړل شوی دي

دغه کوم اوسنی تورات چې دبایبل لومړني پنځه کتابونه دی(پیدایښت، خروج،احبار،عدد ، استثناء) چې تاسی ورته اسفارخمسه یاتورات وایاست اوتاسی ئې وحضرت موسی علیه السلام ته منسوبوی ، په دې پنځوکتابوکي ( ۷۰۰ ) ځلی دموسی علیه السلام نوم په غایبه صیغه راغلی دی اووایی چې موسی وخدای ته وویل اوخدای وموسی ته وویل، او ۷۰۰ ځلی دااوسنی تورات پخپله په دې ګواهې ورکوي چې دادخدای کلام نه دی اونه هم دموسی علیه سلام ویناده. که چیری دادموسی علیه سلام کلام وای نوموسی علیه سلام به خپل ځانته دمتکلم صیغه کارولې وای؛

اوس راځم وڅلوروانجیلوته چې انجیل متی ئې لومړی اوترټولومعتبردی، ددې یوه بیلګه وړاندی کوم چې داهم دمتی کتاب نه دی لکه په بایبل کی چې راغلی دي :

څنګه چې عیسی له دې ځای څخه وړاندی تیرشونومتی نومی یوسړی دمحصول په چوکۍ ناست ولیدی اوهغه ته ئې وویل چې ماپسې راځه، متی پاڅیده اوپه هغه پسې روان شو. (متی ۹:۹)

دلته بیامتی په غایبه صیغه باندی راغلی دی، چې داترلمرښکاره ده چې دادمتی خبرې نه دی، دادعیسی علیه السلام ویناه نه ده اونه هم دخدای کلام دی؛ که چیری دادمتی کلام وای نوباید داسی لیکلی وای:

څنګه چې عیسی له دې ځای څخه وړاندی تېرشو نو زه ئې په چوکۍ ناست ولیدم او راته ئې وویل چې په ماپسې راځه زه پاڅېدم اوورپسې روان شوم...

نوزه په یوه ټکی کی درته وایم چې دابایبل نه دخدای کلام دی، نه داتورات دموسی کلام دی ، نه انجیل دعیسی کلام دی، نه انجیل متی دمتی کلام دی، نه انجیل لوقادلوقالیکنه ده، نه انجیل یوحنادیوحنادی اونه هم انجیل مرقس دمرقس کتاب اولیکنه ده بلکې دادنوم ورکوخلکولیکنې دی چې وموسی علیه السلام اوعیسی علیه السلام اونوروته مومنسوبې کړیدې ترڅوماهیان ونیسی اوبس.

په بایبل که ټکرونه، غلطیانې، خرافات، تحریفونه، فحاشات، ساینسي غلطیانې اونیمګړتیاوې دومرې ډېرې دي چې دبایبل دمطالعې څخه وروسته به هرعاقل داووایی چې دادخدای کتاب نه دی، تر(۱۰۰) زیات ټکرونه پکښې دي اوکه درته معلوم نه وي نودحوالوسره به ئې درولېږم، ددې څخه علاوه ستاسوپه یوه اخبار کی

چې اوېک(Awake) ویښتیا نومیږي چې د۱۹۵۷میلادی کال دسیپټمبرد۸ نېټې په ګڼه کی داسی لیکی:
عیسایی نړۍ منی چې په اوسني بایبل کی (۵۰۰۰۰) پنځوس زره غلطیاني دي؛ پاته دی نه وی چې دااخبارماپرون دبرېښنالیک له لارې درولیږی، ښه ئې درسره وګوره. دبایبل هره پاڼه چې یوعاقل انسان ګوری دابه‌ضروروواییي چې دادخدای کتاب نه دی.
ددې څخه علاوه ډاکټرمل چې کله دبایبل پرنوې عهدنامې باندی څېړنه وکړل نووئې ویل چې په دې کتاب کی(۳۰۰۰۰ )دېرش زره اختلافات شته اوهمدارنګه **ډاکټرګریس بیک** چې دبایبل د۳۵۵ نسخومطالعه وکړل اووروسته ئې وویل چې په دې نسخوکې (۵۰۰۰۰۰۰) پنځوس لکه اختلافات شته. اوکه چیری دبایبل ۲۴۰۰۰ نسخې سره یوځای شي نوڅومره اختلافات اوغلطیانې به پکښې وي؟ چې ترشماروځی اوکېدای سی چې ریاضي دان انسټاین که ژوندی وای نوددې خرافاتو،تحریفاتو،ټکرونواوغلطیانو شمېرلوبه سټړی اوستومانه کړی وای؛ اوداهیڅوک نشی منلای چې دادي دخدای کتاب شی.
۴: **متی العربی**:ایادنړۍ په میلیاردوعیسایان چې په اوسنی بایبل باندی ایمان لری دادخدای کتاب نه دی، اوتاسی دابایبل نه منی؟
**ځواب**:تاسی دتل لپاره دخلکوپه سترګوکی خاورې پاشی اوداسی ئې ړندوی چې دتل لپاره ئې دسترګواوزړۀ دیدختم شی،تاسی وخلکوته وایاست چې مورېوبایبل لرواوحال داچې ترحساب تیردی، ستاسی کوم بایبل دخدای کتاب دی؟
دDuay (ډووې) بایبل چې دکاتولیکانوبایبل دی او(۷۳) کتابه دی اودلته دپاکستان دکاتولیکانوبایبل بیا۷۲ کتابه دی، ایاداخدای کتاب دی ؟ دKing James Version د(کینګ جیمزورژن) بایبل چې

د(ډووې) څخه وروسته په ۱۶۱۱ میلادی کال کی ولیکل شواو۶۶ کتابونه لری، ایادادخدای کتاب دی؟ ایادپروتستانوو روستنی بایبل چې د Revised Standard Version (ریوایزډسټنډرډ ورژن) اصلاح شوی بایبل ایا دادخدای کتاب دی؟ اوپاته دی نه وی چې د(RSV) بایبل په سریزه کی لیکلی دی چې موږځکه دابایبل(اصلاح شوی بایبل) جوړکړچې په (کینګ جیمزورژن) بایبل کی ډیرې ښکاره اوغټې غلطیانې وی۔ داستاسوپخپلولاسونولیکل شوی کتابونه دی اودائې حالت دی اوس په دې بایبلوکی تاسی قضاوت وکی چې کوم یودخدای کتاب دی؟ وبل لورته دبایبل (۲۴۰۰۰) نسخې ۴۰ لیکوالانولیکلی دی اودوې نسخې ئې یوشانته نه دی داځنګه دخدای کتاب دی؟!!

زه به دټکرونویوڅوبیلګې درته وړاندی کړم،ښاغلیه! اوبیاتاسی دعیسایت علماء یاست پخپله قضاوت وکی
چې ایادادخدای کتاب دی اوکه نه؟

**ټکر#** ۱:

داود چاوهڅاوه چې داسرائیلوجنګیالی وشمیری؟

ا: خدای داکاروکی۔(دوهم سمئول، ۲۴ باب، ۱ ایات)

ب: شیطان داکاروکی۔(لومړی تواریخ، ۲۱ :۱)

دنړۍ په هیڅ مذهب کی داسی نه ده چې خدای اوشیطان دی سره یوشی.

**ټکر#** ۲:

دجنګ لپاره څومره داسرائیلوجنګلیالی پیداشول؟

ا: ۸۰۰۰۰۰۔(دوهم سمئویل ۲۴: ۹)

ب: ۱۱۰۰۰۰۰۔(لومړی تواریخ ۲۱: ۵)

دایواځی دصفرغلطیانه ده اونه ئې داسی څه معمولی توپیرشته بلکې فرق ئې لکه دځمکې اواسمان.

**ټکر# ۳:**

په یهوداه کی څو جنګیالی پیدا شول؟

ا: ۵۰۰۰۰۰. (دوهم سموئیل ۲۴: ۹)

ب: ۴۷۰۰۰۰. (لومړی تواریخ ۲۱: ۵)

**ټکر# ۴:**

خدای خپل پیغمبر داود ته د لوړو لپاره پر هغه څو کاله قحطی راوستله؟

ا: ۷ کاله. (دوهم سموئیل ۲۴: ۱۳)

ب: ۳ کاله. (لومړی تواریخ ۲۱: ۱۲)

**ټکر# ۵:**

اخزیاد څو کالو و چې د ده سلطنت پر بیت المقدس پیل شو؟

ا: د ۲۲ کالو وو. (دوهم پاچایان ۸: ۲۶)

ب: د ۴۲ کالو وو. (دوهم تواریخ ۲۲: ۲)

**ټکر# ۶:**

یهویاکین د څو کالو و چې د بیت المقدس پاچا شو؟

ا: د ۱۸ کالو وو. (دوهم سلاطین ۲۴: ۸)

ب: د ۸ کالو وو. (دوهم تواریخ ۳۶: ۹)

که ته وماته وو وایی چې داد کاتب غلطیاده او یو توری ورڅخه پاته شوی او یا هم زیات شوی دی، نو زه درته وایم چې په هغه وخت کی عدد په تورولیکل کېدل دی نه لکه (اتلس او اته)، او پاته دی نه وی چې په هغه وخت کی هندسی عدد نه وو.

**ټکر# ۷:**

داود چې خپله نېزه پورته کړله څو خلک ئې مړه کړل؟

ا: ۸۰۰ خلک ئې مړه کړل. (دوهم سموئیل ۲۳: ۸)

ب: ۳۰۰ خلک ئې مړه کړل. (لومړی تواریخ ۱۱: ۱۱)

**ټکر#** ۸:
داود کله دعهد صندوق وبیت المقدس ته راوړی دفلسطینیانوترماتې مخکې که وروسته؟
ا: وروسته۔(دوهم سموئیل ۵ او ۶ )
ب: مخکې۔(لومړی تواریخ ۱۳ او ۱۴ )
**ټکر#** ۹:
څوپاکې جوړې حیوانات حضرت نوح علیه سلام دخدای په امرسره وکښتۍ ته ورواچول؟
ا: ۲ جوړې۔(پیدا ایښت ۶: ۱۹، ۲۰ )
ب: ۷ جوړې۔(پیدا ایښت ۷: ۲ )
**ټکر#** ۱۰:
عیسی وبیت المقدس ته پرڅوحیواناتوولاړی؟
ا:پریوه۔بهاڼ۔(مراقس ۱۱: ۷، لوقا ۱۹: ۳۵ )
نوهغوی عیسی ته بهاڼ راوستی اوخپلې جامې ئې پرې واچولې اوهغه پرسپورشو۔
ب: پردووحیواناتو۔بهاڼ اوخر۔(متی ۲۱: ۷ )
دوی وعیسی ته بهاڼ اوخرراوستی اوخپلې قباګانې ئې پرکښېښودلې اودی پرسپورشو۔
داخولس ټکرونه دی، اوداسی ترسلوزیات دی، ودې ته ستاسوځواب څه دی؟ ایادیوه ښه عقل څښتن به داومنی چې دادخدای کتاب دی؟ دبنده په یوه لیکل شوی کتاب کی دومره ټکرونه نشته نودخدای په کتاب خوئې امکان نشته ؛ لهذادادخدای کتاب نه دی.

۵: **متی العربی**: ستاسو قرآنکریم خوهم یوسف علی ئې یوه ژباړه کړې، محمد پکتیال ئې بله ډول ژباړه کړی او مفسرین ئې هم یوشانته نه دی داځنګه؟

**ځواب**: یوه ژباړه ده، او بل ورژن دی، لومړی ژباړه وڅه شی ته وایی؟ ژباړه: د ژباړې مطلب داچې دهرعالم له خپله ځانه یوه توجه ده دهغه دعلم اوفکرمطابق، اویواځی دیوه متن اړول دی وبلې ژبې ته، خودقرآنکریم پخپل یوه زبرکی هم تغیرنشی راوستلای، دشرق اوغرب قرآن یودی اوزه چیلنج درکوم که دی دنړۍ په ټولوقرآن شریفوکی دیوه زبرپه اندازه سره بدلون پکښې پیداکی، اویوورژن دی چې د ژباړې څخه ښکاره توپیرلری، ورژن وبېل متن ته ویل کیږي؛ چې ستاسویومکمل کتاب په یوه بایبل کی شته اوپه بل بایبل کی نشته، ستاسوپه یوه بایبل کی دبېلګې په ډول سره (تثلیث) شته خوپه بل بایبل کی نشته ودې ته ورژن (بېل متن) وایی۔ دعیسی علیه سلام صعودپه یوه بایبل کی شته اوپه بل بایبل کی نشته چې داورژن(Version) دی.

یوبایبل ۷۳ کتابه اوبل۶۶ کتابونه دی چې داورژن دی، په ډېره ساده به دی سردرخلاص کړم، اوهغه داچې پروتستان دکاتولیکوعیسایانو(۷) کتابونه پخپل بایبل کی نلری او منی ئې نه چې دادخدای کتابونه دی داولی ؟ داځکه چې دوی وایی چې دا(۷) کتابونه الهی کتابونه نه دی اوداکتابونه په ناحقه سره په عیسایت پوری تړل شوی دي۔ لکه دیهودیت کتاب، لومړی مکابین اودوهم مکابین، طوبیاه،باروک (باروخ)، اوداسی نور---

۶: **متی العربی**:ستاسوپه قرآن کی راغلی دی ، چې خدای وایی چې ماعیسی علیه سلام مړکی اوحال داچې تاسی دعیسی علیه سلام صلیب نه منی، هغه ایات دادی:

وَسَلَٰمٌ عَلَيۡهِ يَوۡمَ وُلِدَ وَيَوۡمَ يَمُوتُ وَيَوۡمَ يُبۡعَثُ حَيّٗا ﴿١٥﴾ (مریم ۱۵)

داولی نه منی؟

ژباړه: پرمادی سلامتیاوی په هغه ورځ چې زه پیداشوم، په هغه ورځ چې زه مړشوم اوپه هغه ورځ چې زه بیرته راپورته شوم.

**ځواب**: ډیره ښکلی عربی موزده ده اوډیره ښه ژباړه مووکړل؟؟! تاسی نه بخښونکی جرم وکی اوهغه داچې دقرآنکریم ژباړه مو غلطه وکړه اوتاسی باید دټوله امت مسلمه څخه بخښنه وغواړې، ددې ژباړه داسی ده ښاغلیه !:

اوسلامتیا دی وی پرده باندی په هغه ورځ چې پیداشو اوپه هغه ورځ چې مری (په راتلونکی کی) اوپه هغه ورځ چې بیاژوندی پاڅولې شی-

دلته به ته زماسره بحث په (یَمُوتُ) کی کوې اوتاسی خلک په دې غولوی چې دادماضی(تیرې زمانې) صیغه ده اوحال داچې دادمضارع (راتلونکی ) زمانې صیغه ده، چې مطلب ئې دادی چې کله حضرت عیسی علیه سلام (مري) په راتلونکی وخت کی اودده مرګ هغه وخت دی چې کله دی ددوهم ځل لپاره داسمانوڅخه راکښته شی ـ اوپاته دی نه وی چې قرآنکریم دحضرت عیسی علیه سلام ځوال په واضح ډول سره ردوی، چې وایی:

وَقَوۡلِهِمۡ إِنَّا قَتَلۡنَا ٱلۡمَسِيحَ عِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ رَسُولَ ٱللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمۡۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكّٖ مِّنۡهُۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنۡ عِلۡمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ﴿١٥٧﴾ (النساء ١٥٧)

ژباړه:اوددوی ددې خبرې (له کبله) چې موږئې له شکه دالله رسول دمریمې زوی عیسی وژلی دی، په داسی حال کی چې دوی هغه نه ووژلی اونه ئې هم په دارځړولی دی، بلکې پردوی (دغه پېښه) همشکله (یوشانې) شوی وه، اوبې شکه هغه کسان چې دهغه په اړه ئې اختلاف کړی دی دهغه په اړه شکمن دی چې په دې هکله دګومان له پېروی، څخه نورهیڅ کوم علم نه لری په رښتیاچې دوی عیسی نه ووژلی۔

دقرآنکریم څخه علاوه زه دبایبل تر۳۰ زیاتوحوالودادرته ثابتوم چې حضرت عیسی علیه السلام نه دی ځړول شوی اوکه درته معلومی نه وی نوزه هرایات درته ښودلای شم.

۷: **متی العربی**: ستاسوپه قرآن کی راغلی دی چې خدای وایی چې ماعیسی علیه سلام مړکی اوروح می پورته کی اوهغه ایت دادی:

إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ (ال عمران ۵۵)

ای عیسی ته می مړکړې اوخپل ځانته می پورته کړلې.

**ځواب**: ددوهم ځل لپاره دی ستاسوپرعربیت اوپوهې شاباس وی، پورتنی تېروتنه دی بیاتکرارکړه تاسی خوبس ودې ته ناست یاست چې خلک په لوموکی راګیرکی، خوالحمدلله الله جل جلاله زموږسره ملګری دی، دلته تاسی ددې ایات داسی ژباړه کوی چې الله وای چې

مادحضرت عیسی علیه سلام روح واخیستی اوروح می پورته کی، بلکې ددې ژباړه داسی ده:
هغه وخت یادکړه چې الله وویل: ای عیسی بې شکه چې زه دې پخپله نېته اخیستونکی یم( چې کله دی وخت پوره شونوروح دی اخلم په راتلونکی کی ) اوخپل لورته دی پورته کوونکی یم.
که ددې ایات ومخکنی ایاتوته وګورونوموضوع به ښه روښانه شی اوهغه داچې کله چې یهودودحضرت عیسی علیه السلام دځړولوتکل وکړنوخدای پاک هم ورته تدبیروکی اوفرمایي:
وَمَكَرُواْ وَمَكَرَ ٱللَّهُۖ وَٱللَّهُ خَيۡرُ ٱلۡمَٰكِرِينَ ﴿٥٤﴾ إِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَىٰٓ إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ
(آل عمر۵۴،۱ ۵۵)
اوهغه کافرانو(چې دحضرت عیسی علیه السلام په خلاف) پټ تدبیرنیولی ؤ اوالله هم پټ تدبیرونیوی اوالله ترټولوښه تدبیرکوونکی دی، (اودده تدبیرهغه مهال ومخی ته راغی) کله چې الله وویل: چې ای عیسی زه تاصحیح سالم اخلم(پورته کوم) اوخپل لورته دی پورته کوم اودکفارو(دتکلیف) څخه دی پاکوم.
(توضیح القرآن)لیکوال شیخ الاسلام محمدتقی عثمانی ۱۹۸ مخ.
دلته تاسی د(مُتَوَفِّيكَ)معنی په وفات سره کوی اوحال داچې ستاسوعربیت هم ترپوښتنې لاندی راغی اوزه به دی یوه کړم:
لومړی: دلته دوفات څخه مرادهغه دوهم ځل چې له اسمانه راکښته شی اوبیاوفات شی داورڅخه مراددی.
دوهم: دلته په عربی ژبه کی دوفات یوه معنی (اخیستل اوپورته کول دی جسدمع الروح) چې تاسی کولای شی دعربی ژبی معتبردلغتو

کتابونه وګوری اوبیابه حقیقت درته روښانه شی که کوم مشکل درته وی نوزه کولای شم چې حواله درکړم ؛ تاسو دخپلوشوموموخوته درسېدلولپاره ماضی په مضارع اومضارع په ماضی تفسیروی۔ یوتوری په یوه اړوی اوبل توری په بل اړوی ترڅوخلک دوکه کی، چې داستاسوزړه ناروغې ده ؛ مخکنې الهی کتابونه خوموتحریف کړل اواوس غواړی چې داالهی کتاب قرآنکریم هم داسی کړی چې داستاسوپه وس اوتوان کی نه ده ښاغلیه !،داستاسوپه لاس لیکل شوی بایبل نه دی چې هرډول موخوښه وی په هغه بڼه سره ئې ولیکی، داقرآنکریم دی اوداالله جل جلاله کتاب دی، ددې کتاب یوټکی تاسی نشی بدلولای؛ اوالله ددې کتاب دساتلو ذمه اخېستې ده اووایی:

إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا ٱلذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَـٰفِظُونَ ۝٩ الحجر(۹)

بېشکه مونږ پخپله نازل کړی دي ذکر(پند قرآن) اوبېشکه چې مونږ دده خامخاساتونکی یو(له تزئیده تنقیصه اونوروڅخه)

۸: **متی العربی**:تاسی دعیسی علیه سلام کتاب (بایبل) نه منی نوتاسی اوستاسوقرآن دعیسی علیه سلام اودهغه دموردوښمنان یاست؟

**ځواب**: نه ښاغلیه !په قرآنکریم کی دحضرت عیسی علیه سلام نوم (۲۵) ځله راغلی دی، اوحال داچې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم نوم پنځه ځلی راغلی دی، نوموږئې څنګه دوښمنان یو؟، دبی بی مریمې رضی الله عنهانوم په قرآنکریم ۳۴ ځلی راغلی دی اوحال داچې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دمورنوم یوځلی هم نه دی راغلی، نوموږئې څنګه دوښمنان یو؟ په قرآنکریم کی ۱۹ سورت دحضرت عیسی علیه سلام دموردبې بی مریمې رضی الله عنها په نامه سره دی(سورت مریم)، اوحال داچې په ټول بایبل کی د بې بې مریمې رضی الله عنها په

نامه سره کتاب یاسورت نشته؛ اوبله داچې الله جل جلاله په قرآنکریم کی وموړته دبی بی مریمې رضی الله عنها په هکله وایی چې:

وَإِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ ٱصْطَفَىٰكِ وَطَهَّرَكِ وَٱصْطَفَىٰكِ عَلَىٰ نِسَآءِ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٤٢﴾ (ال عمران ۴۲)

ژباړه: اوهغه وخت یادکړه چې پرښتوو ویل: ای مریمې، بې شکه چې ته الله غوره کړی ئې اوته ئې پاکه کړې ئې اودټول عالم پرښځوئې غوره کړې ئې-

په هغه وخت کی بی بی مریمه رضی الله عنهاالله جل جلاله دټولې نړۍ پرښځوغوره کړې وه، دازموږدقرآن وینادہ، نوقضاوت اوس تاسی اوپه مجموع کی ټوله عیسایی نړۍ وکی چې قرآنکریم اوامت مسلمه دحضرت عیسی علیه سلام اودبی بی مریمې رضی الله تعالی عنها دوستان دی اوکه دوښمنان؟؟

قرآنکریم دبې بې مریمې رضی الله عنهادپیدایښت اوودې ته دبې موسمه میوواوددې نورې ښې ګڼې داسی بیانوي:

إِذْ قَالَتِ ٱمْرَأَتُ عِمْرَٰنَ رَبِّ إِنِّى نَذَرْتُ لَكَ مَا فِى بَطْنِى مُحَرَّرًا فَتَقَبَّلْ مِنِّىٓ ۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْعَلِيمُ ﴿٣٥﴾ فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّى وَضَعْتُهَآ أُنثَىٰ وَٱللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ ٱلذَّكَرُ كَٱلْأُنثَىٰ ۖ وَإِنِّى سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّىٓ أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ ٱلشَّيْطَٰنِ ٱلرَّجِيمِ ﴿٣٦﴾ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۖ كُلَّمَا

دَخَلَ عَلَيۡهَا زَكَرِيَّا ٱلۡمِحۡرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزۡقٗاۖ قَالَ يَٰمَرۡيَمُ أَنَّىٰ لَكِ هَٰذَاۖ قَالَتۡ هُوَ مِنۡ عِندِ ٱللَّهِۖ إِنَّ ٱللَّهَ يَرۡزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيۡرِ حِسَابٍ ﴿٣٧﴾

آل عمران(۳۵-۳۷)

ژباړه: (یادکړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل (حنی) ښځې دعمران چې ای ربه زمابښکه زما ، نذرکړی می دی تاته هغه شی چې په ګیډه زماکښې دی، حال داچې هغه به آزادوي (له نورومشاغلو دبیت المقدس خدمت ته) پس قبول کړه ته (ای ربه ! دانذر) له مانه بښکه ته چې ئې هم داته ئې ښه اوربدونکی (دګردو(ټولو) اقوالو) ښه عالم (په ټولواحوالو ، پس کله چې وئې زېږاوه هغه (نذر) نو وویل (حنی) چې ای ربه زما ببشکه زه چې یم ومی زېږاوه هغه (نذر) حال داچې ښځه(انجلۍ) ده، اوالله ښه پوه دی په هغه شی چې زېږولی ؤدې(حنی دعمران ښځې)، اونه دی نارینه (چې حنی غوښتی ؤ له پاره دخدمت دبیت المقدس) په شان ددې ښځې (انجلۍ). اوبښکه مانوم کښېښود ددې مریمه اوبښکه زه پناه ورکوم دې ته په تاپوری اواولاددې(مریمې ته) له شیطان مردود(ترټلی شوی) نه، پس قبوله کړه دا(مریمه) رب ددې(دنارینه په ځای) په قبلولوښوسره او زرغونه ( لویه) ئې کړه په زرغونولو(لویولو ) ښوسره او(الله) کفیل وګرځاوه دې لره زکریا علیه السلام؛ هرکله به چې ننوت دې ته زکریاپه محراب(عبادت خانه) کښې نوموندله به ئې له دې( مریمې) سره څه روزې (یعنی مېوې دژمی په اوړی، اومېوې داوړی په ژمی کښې)، وویل (زکریا) ای مریمې له کومه (راغلې) ده تاته داروزې؟ وویل(مریمې زکریاته) چې دا(روزې) له طرفه دالله ده، ببشکه چې الله

روزې ورکوي هغه چاته چې اراده ئې وکړي (دروزۍ ورکولوئې ډېرپرېمانه) بیحسابه.
اوس تاسی د لږدفکر، پوهې اوعقل څخه کارواخلی چې ایاموږئې دښمنان یواوبرعکس که دوستان؟؟؟
قسم می دی په هغه رب وي چې دټولوکائناتوخالق اومالک دی که ستاسوپه شان یوعیسایی عالم اوراهب هم دحضرت عیسی علیه السلام اودبې بې مریمې رضی الله عنهاگستاخي وکړی نواسلام یوائنی هغه الهی دین اوقانون دی چې ستاسربه له تنه جلاکړي.
اوبل داچې یومسلمان مسلمان کېدای نشی ترڅوپرنبوت دحضرت عیسی علیه السلام اقرارونکړي اوایمان رانه وړي، اودبې بې مریمې رضی الله عنهاپرعفت اقرارونکړی اوایمان پررانه وړي ؛
دمسلمانانوپردې ایمان دی چې عیسی علیه السلام یولوړپېغمبرؤاودی حق وو،دهغه ټولې معجزې په قرآنکریم کی ذکرشوی دي:

وَرَسُولاً إِلَىٰ بَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ أَنِّي قَدۡ جِئۡتُكُم بِـَٔايَةٖ مِّن رَّبِّكُمۡ ۖ أَنِّيٓ أَخۡلُقُ لَكُم مِّنَ ٱلطِّينِ كَهَيۡـَٔةِ ٱلطَّيۡرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيۡرَۢا بِإِذۡنِ ٱللَّهِ ۖ وَأُبۡرِئُ ٱلۡأَكۡمَهَ وَٱلۡأَبۡرَصَ وَأُحۡيِ ٱلۡمَوۡتَىٰ بِإِذۡنِ ٱللَّهِ ۖ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأۡكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمۡ ۚ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةٗ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٤٩﴾ آل عمران (۴۹)

ژباړه: او(لېږلی ئې موږ ای عیسی) رسول طرف دبنی اسرائېلوته (چې وایه دوی ته) بېشکه زه په تحقیق راغلی یم تاسی ته په لویه علامه له

ربه ستاسی څخه. بېشکه زه جوړوم تاسی ته (ای بنی اسرائېلو) ! له
ختېو څخه په شان دشکل دمرغه نوپوکوم په دې (شکل) کښې پس
کیږی (هغه شکل) مرغه (الوتونکی) په اذن دالله سره، اوروغوم
مورزاده (پیدایشی) ړونداوپیس اوژوندی کوم مړي په اذن(حکم) دالله
سره. اوخبروم زه تاسی په هغه شی چې تاسی (ئې) خورئ او(خبروم زه
تاسی) په هغه شی چې تاسی (ئې) ساتئ په کورونوخپلو کښې، بېشکه
په دی (معجزو) کښې هرومرونښانه ده تاسی ته که ئې تاسی مومنان
(یقین لرونکی زماپه نبوت).
په اسلام کی دسیدناحضرت عیسی علیه السلام مرتبه ډېره لوړه ده
اوقرآنکریم پردې ګواه دی:

إِذْ قَالَتِ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ يَٰمَرْيَمُ إِنَّ ٱللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِّنْهُ ٱسْمُهُ ٱلْمَسِيحُ
عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِى ٱلدُّنْيَا وَٱلْءَاخِرَةِ وَمِنَ ٱلْمُقَرَّبِينَ ﴿٤٥﴾
وَيُكَلِّمُ ٱلنَّاسَ فِى ٱلْمَهْدِ وَكَهْلًا وَمِنَ ٱلصَّٰلِحِينَ ﴿٤٦﴾
آل عمران(۴۵، ۴۶)

(یادکړه ای محمده !) هغه وخت چې وویل ملائکې(جبرائېل) ای مریمې
بېشکه الله زیری درکوی تاته په یوې کلمې سره چې له طرفه دده نوم
دهغه مسیح عیسی ځوی دمریمې دی په داسی حال کښې چې مرتبه
والادی په دنیا کښې(په اطاعت اونبوت) اوآخرت کښې (په رفعت
اوشفاعت) او(دالله) له مقربانو څخه دی؛ اوخبرې به کوي له خلقوسره
په مهد(دمورپه غیږیاپه ځانګویاپه طفولیت ) کښې اوپه کهولت(پوره
عمر) کښې اوله صالحانو څخه به وي.

اوس ښاغلیه !تاسی پرېکړه وکی چې موږئې دوستان یاوکه دوښمنان؟؟؟
۹: **متی العربی**: ستاسی په قرآن کی ۱۱۳ ځلی تثلیث راغلی دی اوهغه داچې (بسم الله الرحمن الرحیم) الله یو خدای دی، الرحمن بل خدای دی اوالرحیم بل خدای دی، نوتاسی ولی تثلیث نه منی؟
**ځواب**: په قرآنکریم کی ۹۹ دخدای نومونه شته لکه: الباری، السلام، المصور، العال، الغفار، القدوس، الستار، المومن، المهیمن-----
داټول دخدای جل جلاله پاک صفتونه دی، اودخدای جل جلاله لپاره یوائې لفظ د(الله ) راځی، دغه خدای رحیم هم دی ، رحمن هم دی اوقادرهم دی اوداسی نور--- ته اوس دیوه ډېرساده مسلمان څخه داپوښتنه وکه چې ستاسوپه قرآنکریم کی ۹۹خدا یان سته نودی به څه درته ووایی؟ دا۹۹ ئې صفتونه دی اوهریوبېل بېل خدای نه دی-
دازه دانسانانوپه ورځنی استعمال کی هم درښیم ښاغلیه !اوهغه داچې یوه سړي چې تعلیم ئې کړی وي نو وهغه ته دبېلګې په ډول سره دده ټول القاب اومشخصات اوتخصص اوتخلص لیکل کیږي لکه:
شیخ القرآن والتفسیر دوکتورمفتی جامع المعقول والمنقول حکیم الامت حضرت مولانااشرف علی تهانوی رحمة الله علیه.
اوس شیخ القرآن هم اشرف علی دی، شیخ التفسیرهم اشرف علی دی، مفتی هم اشرف علی دی اوداسی نور... په مذاهب عالم کی والله جل جلاله ته ترزرو ۱۰۰۰ زیات نومونه شته، نوددې دامطلب نه دی چې العیاذ باالله ۱۰۰۰ خدایان شته.
۱۰: **متی العربی**: ستاسی په قرآن کی راغلی دی چې (لااکراه فی الدین) زورزیاتی په اسلام کی نشته، نوتاسی ولی زموږخلک، کلیساوې

اومذهبي راهبان اوکشیشان په سوډان، اندونیزیااودنړۍ په نوروځایوکې وژني؟

**ځواب:** دا۱۴ پېړۍ ستاسویوه تګلاره اوکړنلاره داده چې په اسلامي هیوادوکې تاسې لومړی نوک ځایوې، بیاسوک ځایوی اوپه اخرکې هغه قبضه کوی اوپه عیسایي ریاست ئې بدلوی، که وسوډان ته راشونوتاسې هلته په حقیقت کې ۵ سلنه یاست خوتاسې وایاست چې موږ ۷ سلنه یازیات یو، چې په دې دېرش کلونوکې مودامریکا اویهودوپه فوځی، سیاسي اواقتصادي مرستوسره خلک عیسایان کړل اواوس موسوډان تجزیه کړ، په اندونیزیاکې همداډرامه شروع ده، زه وخپل ګران هیوادافغانستان ته راځم، دلته په ټول هیوادکې عیسایت په صفرکې وو، خواوس تاسې په پنځوولایتوکې کلیساګانې لرې، اونامعلوم شمېرخلک موعیسایان کړیدی، زموږدقرآن فیصله داسې ده چې هرڅوک چې له اسلامه څخه واوښتي (مرتد شو)نوهغه بایدووژل شي، اوهرهغه څوک چې خلک مرتدوی هغه هم بایدله مینځه یوووړل شي۔

بل داچې تاوماته وویل چې زه (کاپټیک کرېسچن) یم، یعنې داسلام څخه مخکې لاموږعیسایان وو، اوزموږتعدادستاسوپه اند۱۶ میلیونه دی په مصرکې، که چیری مسلمانانوزوراستعمالولای نواوس به یوعیسایي هم په مصرکې نه وای، وبلې خبرې ته دی پام رااړوم، په نړۍ کې چاډېرانسانان وژلي دي؟ هغه ایډولف هټلردی هغه څوک وو؟، عیسایي که مسلمان؟ همدااوس بوش اواوباماپه عراق افغانستان کې تر ۱۲ لکوزیات مسلمانان شهیدان کړل اوداسلسله لااوس هم جریان لرې، اواوس ئې ونورواسلامي هیوادوته هم لاس وغځاوه؛ نواوس قضاوت تاسې وکې چې عیسایت دتشدددین دی اوکه اسلام؟ تاسې

عیسایان زموږګران هیوادته راغلي یاست اوماپخپل کورکی وژني، نه مي وسپین ږیري ته ګوري، نه مي وښځې ته ګوري اونه مي هم وماشوم، ملا، مسجداومحراب ته ګوري. بلکې تاسي حتی پخپل بایبل عمل نکوي، اوهغه داچې داایات به دي په یادوي، چې عیسی علیه سلام وایي که یوچاپریوه باړخووواهلې نودابل باړخوورته راواړوه، اوکه یوڅوک لوڅ وونوخپله جوغه وروخېژوه؛ بیابه قضاوت وتاسو درکړم چې ایاموږپه قرآن عمل نکوواوکه تاسي په خپل تحریف شوي بایبل عمل نکوي؟ پرهندوستان باندي مسلمانانوڅوسوه کلونه حکومت وکړ، که موږدزورڅخه کاراخیستی وای نونن به په ټوله هندوستان کی یوهندوهم نه وای؛ په اروپا، امریکا، اواندونیزیاکی چااسلام په زوره خپورکړ؟ دادااسلاحقانیت اوربښتنوالی دی چې پرمخ ځي اوبس.

۱۱: **متی العربی**: دااوس په مصرکی زموږیوه ښځه تاسوپه ځان کړیده، اوحال داچې هغه یوه عیسایي وه، اواوس موږهغه په کلیساکی مجازات کړیده، تاسي زموږډېربې ګناه خلک ووژل داخنګه اسلام دی؟

**ځواب**: ددې ښځې ټوله کیسه ماپرانټرنیټ باندی لوستې ده، هم په عربی کی اوپه انګلیسې کی، داښځه یقینایوه عیسایي ښځه وه، خودعیسایت څخه ئې نفرت وشواومسلمانه شول اویومسلمان ئې هم په نکاح کړ، کله چې دامسلمانه شول نودازموږدیني خورده، ددې حفاظت اوساتنه زموږااسلامي وظیفه ده، که تاسي په دې کی شک لری نوخوشي ئې کی اوخبریالان ورپرېږدي چې خپله ټوله کیسه درته وکړی. تاسودظلم څخه کارواخیستی هغه مووهل ومو ترټل اودکلیساپه توروتیاروکی موکښینول. نوځکه دچټک غبرګون سره مخامخ شواست؛ اوداهم درته وایم که دامسلمانه خورخوشي نکړی نودډېروبدوپېښوانتظارولری. وبل لورته دعراق ، فلسطین

اوافغانستان په زړهاووبې ګناه سپین ږيري اوپیغلې ستاسوپه منګلوکي دی، څوک موبې عفته کړل، څوک موشهیدان کړل اودچاسره لاترحیواناتوبدترچلندکوي؛حتی څوک مووسوځل نو اوس تاسی قضاوت وکی چې اسلام دصلحې اوارامی دین دی اوکه عیسایت؟

۱۲: **متی العربی**: حضرت عیسی علیه سلام په دې ترحضرت محمدصلی الله علیه وسلم غوره دی چې هغه ډېرې معجزې درلودې، هغه مړې ژوندی کول اومحمدصلی الله علیه وسلم نه دی ژوندی کړی؛ هغه مورزاده ړانده اوپیس ناروغان جوړکړیدی اومحمدصلی الله علیه وسلم نه دې ژوندی کړی چې دعیسی علیه سلام داټولې معجزې قرآن تصدیقوی ته څه وایی؟

**ځواب**:حضرت یحی علیه سلام په بایبل کی ډېرلوړځای لری بایبل وایی:

یحیی راتلونکی الیاس دی، خوکه تاسوئې ومنی څوک چې غوږونه لری هغه دی واوری (متی ۱۱ باب، ۱۴، ۱۵)

روښتیادرته وایم چې دیحیی نه لوی زوی یوې مورنه دې راوړی.

(متی ۱۱باب ۱۱) اوداسی نور---

اوپه ټوله بایبل کی ئې یوه معجزه راوښایه؟

په بایبل کی راغلی دی(حضرت عیسی علیه سلام وایی:

درواغژن نبیان اودرواغژن مسیحان زماپه نامه سره راځی باورمه په کوی، اودوی به عجیبه کارونه اونخښې ښکاره کړی (معجزې به ښکاره کړی) اوکه ممکن وی نوډېربه ګمراه کړی ګوری ماحال درکړی۔

(متی ۲۴ باب، ۲۳-۲۶)

نودبایبل په اند معجزه هیڅ ارزښت نلری، اودرواغژن مسیحان اونبیان هم کولای شی چې معجزې ولری۔

لومړی قرآنکریم دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم لویه معجزه ده، چې داد ۱۴۰۰کالوراهیسی چیلنج دی ، که تاسی په دې کی شک لری نوددې قرآنکریم دیوه ایات په شان یوایات یالس ایاتونه جوړکړی خوتاسی نه یاست توانېدلي اونه به هم داتوان پیداکړی، اوبل داچې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم هره وینامعجزه ده، او۱۴ پېړۍ مخکی ئې اُمت مسلمه دشرا بو، خمارکولو، زنااونوروفحشاووڅخه منع کړیدی، تراوسه مسلمانان هغه کارونه نه کوی، وګوری په عیسایی نړۍ کی شراب ډېرخوړل کیږی که په مسلمانه نړۍ کی؟ جرمونه فسادونه، زناوې ، قتلونه اوظلمونه په عیسایی نړۍ کی ډېردې اوکه په مسلمانه نړۍ کی؟ چې دنبی کریم صلی الله علیه وسلم دژوندهره شیبه یوه معجزه ده تاسی ولی سترګې ورباندی پټوی؟ چې داستاسوبې انصافی اوکمزورې ده ، وبل لورته حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ډیرې معجزې درلودې چې شمېر ئې تر(۳۰۰) زیات دی خوحضرت عیسی علیه سلام نه درلودې ددې معنی دانه ده چې حضرت عیسی علیه سلام پېغمبرنه وو، ته وماته څنګه منطقې دلایل وړاندی کوی ښاغلی؟؟!!! په احادیثوکی وګوره خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم مړي ژوندي کړیدي اوداچې تاسی سترګې وربا ندی پټوی داستاسوبې انصافي او کمزورې ده.په ۱۲۴۰۰۰ یولک څلورویشت زره پېغمبرانو کی دخاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم معجزې ډېري دي؛ چې دایو کوچنۍ حقیقت دی.زه به یووړوکی مثال درکړم، ۱۴۰۰ کاله وړاندی دبشریت سترلارښوداودخدای سپېڅلي استاذي سیدناحضرت محمد مصطفی صلی الله علیه واسلم فرمایلی دی چې شی په راسته لاس خوری او ۱۴ پېړۍ وروسته هم دده صلی الله علیه واسلم یووړوکی سنت

تراوسه ژوندی دی اوامت مسلمة ئې پلی کوي اياتردې ستره معجزه؟؟؟

وبل لورته حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ستاسو عیسایی نړۍ هم منی چې په ټوله انسانیت کی ترخاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم بل لوړشخصیت نشته اوزه به دلته دمایکل هارټ (Michael H. Hart) وکتاب ته راشم، حال داچې دی عیسایی واوده خپل دعقل اوپوهې مطابق دآدم علیه السلام څخه تراوسه پوره سل لوړشخصیتونه چڼ کړیدی اودی دهریوه لپاره دلایل لری، دده داکتاب چې کله چاپ شونوترډېره وخته یهودواوعیسایی نړۍ نه پرېښودی چې منظرعام شی؛ خوهغه عام شو زه ترټولولوړی مایکل هارټ درپېژنم.

۱: **مایکل هارټ**:

دایډلفی پوهنتون څخه ئې دفزیک ماسټری حاصله کړی، دپرنسټن پوهنتون څخه ئې دعلم الفلکیات ماسټری لاسته راوړی، دډېروخت لپاره ئې دامریکاپه فضایی مرکزناسا(NASA) کی کارکړی اواودامریکا د(System and Appied Sciences Corporation) لوړ ساینس پوه دی، له دې څخه ماسوی دی د (American Astronomical Society) غړی هم دی اوددې څخه علاوه هغه دغیرځمکنی مخلوقاتو داداري مدیرهم دی چې دډېرکتابونه اولیکنې هم لري.

ده پخپل کتاب سل لوړشخصیتونه (The ۱00: A Ranking of the most Influential Persons of All Time)کی امام الانبیاء حضرت محمد صلی الله علیه وسلم ترټولولوړی لیکلی دی، اوداهرڅه انتخاب چې ده کړی دی داده دخپلوعقلي اوفکري احساساتو اوپوره پوهې په لمن کی ئې انتخاب کړیدی، چې موږ دده ددې انتخاب ستاینه کوو، اوده یقینادا انتخاب دحقایقوپربنسټ کړیدی چې موږورڅخه

مننه کوو، اوهغه څوک چې دی ئې نعوذباالله خدای بولی(حضرت عیسی علیه السلام) اوهغه دخپل ځان ژغورونکی بولی هغه ئې په دریم نمبرکی راوستی دی، اوهغه څوک چې داوسنی عیسایت خښتته ئې ایښې ده اوداوسنی بایبل زیاته برخه هم ده لیکلی ده (پولس یاساول) هغه ئې شپږم نمبرکړیدی، اومایکل هارټ په دی کی ریښتنی دی.

دی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په هکله وایی:

حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ترټولواغیزمن اوحیرانوونکی دی اودی یوائې هغه تاریخی هستې ده چې هم په مذهبي اوهم په دنیاوي محاذونوکی کامیاب شو.دی په دې کامیاب شوچې ډیردښمنان ئې سره یوځای کړل، ډیرې ټولنې اوتمدنونه ئې سره یوموټی کړل چې داکار هیچادتاریخ په پاڼوکې نه وکړی.

ده دنبی کریم صلی الله علیه وسلم د لومړی انتخاب په هکله نورډیردلایل هم لري.

The 100: A Ranking of the Most Influential Persons of All Time
By: Michael H. Hart
Published by: Citadel Press, Kensington publishing corp. US.

۲: **کیت ایل مور**:(Keith L. Moore)

ډاکټرکیت ایل مورچې دامریکا اوکاناډادتشریح الاعضاء (Anatomy)پخواني مشروو،اودی په جنین پوهنه اواناتومی کی دنړۍ لوی ساینس پوه دی؛ اوپه ۱۹۹۴ کال کی ئې په همدې برخه کی

د(جې، سي بي ګرانټ) جایزه هم ترلاسه کړل او په همدې برخه کې ئې ډېر خدمتونه هم کړیدی، وایې:

زه دډېروخت راهیسی دسعودی عربستان په جده په العزیزپوهنتون کې پرجنین پوهنه (Embroilogy) باندی دسنتوپه رڼاکی کارکوم زه ډېرورته حیران شوم چې ۱۴۰۰ کاله مخکی څنګه دجنین پوهنې په اړه خاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم کوم معلومات ورکړی وه اواوس هک پک هغه موږځیږواوحال داچې په هغه وخت کی ددې علم په هکله هیچامعلومات نه درلودل اونه هم تصورکېدای شوای، هغه څه چې زه وایم داډېرښکاره دی،داچې دقرآنکریم وړاندوینی چې دجنین په هکله ئې کړی دی.

ده په مصرکی په یوه کانفرنس کی یوه مقاله ولوستل اوداسی ئې پکښې لیکلی وه:

زه دقرآنکریم معلوماتو دجنین پوهنې په اړوندډېرخوښ کړم چې څومره ښکلی مراحل اوکره معلومات پکښې دی، اوزما لپاره دنورو معلوماتو دراټولولولپاره سرچینه شول، اوزه دامنم چې دااحکامات وخاتم الانبیاء حضرت محمدصلی الله علیه وسلم ته دوحی په ډول سره راغلی دی، داځکه چې له ده څخه وروسته ترڅو پېړیوپوری لاساینس پوهان په دې هکله په هیڅ نه پوهېدل-

دساینس دترقۍ له کبله جنین پوهنه نوره پېچلې شوه، اوپېچلې ده، اوکوم اصطلاحات چې په قرآنکریم اوسُنت نبوی صلی الله علیه وسلم

کی ذکرشوی دی، هغه ډېرساده، اوجامع دی، چې ددې علم بنسټ ئې جوړکړی هم دی اوزه ددې سره پوره موافق یم-

دتیروځلورولسیزوراهیسی ددې علم بنیادښکار شوی دی، اوحال داچې په قرآنکریم کی ددې علم بنیادپه ۷ عیسوی پېړۍ کی ایښودل شوی وو-

۳: **پروفیسرارمسټرانګ** (Professor Armstrong)

پروفیسرارمسټرانګ دامریکاپه خلای څېړنیزمرکز (NASA) کی کارکاوی، اودکنساس په پوهنتون کی دفلکیاتواستادهم وو-

دپروفیسرارمسټرانګ څخه ډېرپوښتنې وشوی، چې یوه پوښتنه داوه:

همدااوس چې کوم نوی الات اوفضایی بېړۍ تاسی لری اوپکښې تللی یاست اودافلکیات موخپله مشاهده کړید دی، تاسی څه نظرلری چې کوم ایاتونه ۱۴۰۰ کاله مخکی دفلکیاتوپه هکله څه ویلی دی داڅنګه پرتله کوی؟

ددې سوال ځواب په داسی لنډوخت کی څه مشکل کاردی، داځکه چې ووخت ته پوره اړتیالری، زه په دې حیران یم چې ۱۴۰۰ کاله مخکی وړاندوینی اوزمااوسنی مشاهدات څنګه پرتله کړم، خوحقیقت دادی چې داهرڅه سره ورته دی، اوداهم درته وایم چې زه څه وایم هغه ډېرروښانه دی، داچې ساینس به داهرڅه منی دادراتلونکی تجربو اووخت خبره ده-

۴: **پرفیسرولیم هې** (Professor William Hay)

ولیم هې دامریکادکلوریډودپوهنتون دسمندرپوهنې (Oceanolgy) پروفیسردی-

ولیم هې دامریکادسمندرپوهنې یومشهوره پروفیسردی، دې بیاپه ټولوکی مشهوره اودلوړمقام څښتن دی، **شیخ عبدالمجید** اې زندانی دهغه څخه دسمندردسطحې، لوړې ژورې، دسمندروپرمینځ واټنو نه، دسمندرځمکه اوداسی نورې پوښتنی وکړی چې ولیم هې ئې په ځواب کی وویل:

وماته داډېره په زړهٔ پوری ده چې کوم معلومات په قرآنکریم کی شته هغه معلومات زمالپاره دټولونوروmعلومات سرچینه شول؛ اودقرآنکریم معلومات دسمندرپه هکله ډېرنوی، هېښونکی اوپه زړهٔ پوری دی-

اوزه داتصدیق کوم چې قرآنکریم یوالهی کتاب دی، داځکه چې په هغه وخت کی داایاتونه په داسی وچ دښت کی نازل شویدی چې هیڅ سمندرهلته نه وه، اوپه دې علم کی ترډېروخته پوری موږواقف نه وو-

۵: **پرفیسر دُرجاراو** (Professor Durja Rao)

پروفیسردُرجاراوچې په شاه عبدالعزیزپوهنتون کی دسمندردمځکې پوهنې استادوو، اوشیخ عبدالمجیدزندانی دقرآنی ایاتودحقانیت په هکله ورڅخه وپوښتل:

تاسی په قرآنکریم کی دساینسی معلوماتو په هکله څه وایاست؟ اوحال داچې امام الانبیاء صلی الله علیه وسلم ۱۴۰۰ کاله مخکی په دې پوهیدی تاسی دقرآنکریم پرتله دنوی ساینس سره څنګه کوی؟

دادهرشی په هکله چې په قرآنکریم کی معلومات ورکول شوی دی په پوره تفصیل سره، ودې ته هرڅوک حیران شی، اوداکېدای شی چې په هغه وخت کی انسانانوپه څه شیانوکی څه محدودعلم درلودی، اوقرآنکریم هرڅه داسی په تفصیل سره بیان کړیدی چې دادانسانی عقل اوپوهې څخه لوړدی، اوزه دامنم چې قرآنکریم دمافوق الفطرت دیوې سرچینی څخه راغلی دی۔

دامعلومات داسی دیوه ساده انسان په شان نه دی، بلکې داهرڅه چې په قرآن کی ذکرشوی دی داپه پوره تفصیل سره دی، اوزه داویلای شم چې محمدصلی الله علیه وسلم ترټولوانسانانولوړ اواغیزمن شخص وو، دنړۍ په تاریخ کی ترده لوړه هستې نه وینم اودی هغه څوک دی چې هم په مذهبي اوهم په دنیوي امورو کی بری مند شو.

۶: **پروفیسرسیاویدا**(Professor Siaveda)

پروفیسرسیاویدادجاپان دسمندردځمکپوهنې(جیولوجی) تجربه کاره اونامتو پروفیسردی۔

شیخ زندانی په یوه ځانګړی ملاقات کی ورڅخه دېرې پوښتنی دقرآنکریم دحقانیت په هکله وکړی، چې دغرو، سمندرو،

دغرو دجوړښت اودمځکې پرمضبوطوالی باندی مشتملې وې، اویوه پوښتنه ئې داورڅخه وکړل:

دکایناتوهغه پټ رازچې اوس ساینس پوهانوپیداکړی دی، اوهغه ۱۴۰۰ کاله مخکی په قرآنکریم اوسنت نبوی صلی الله علیه وسلم کی موجودوو تاسی ورته په څه نظرګوری؟

زه په دې باوریم چې داهرڅه دپټورازونه نه ډک اودپوره یقین وړدی، تاسی چې هرڅه وایاست هغه ټول یقینی اوحق دی، اوداکتاب (قرآنکریم) له ټولوکتابوڅخه امتیازلری، اوزه درسره موافق یم-

۷: **پروفیسر تیجاتا تیجاسن**(Professor Tegata Tegasone)

پروفیسرتیجاتا تیجاسن دتایلینډپه شیانګ مائی (Shiang Mai University) پوهنتون کی دتشریح الاعضاء(اناتومی) پروفیسردی-

پروفیسرتیجاسن دقرآنکریم اوجنین پوهنې دمختلفومقالو مطالعه وکړل، ده څلوررځې دمسلمانانواوغیرمسلمانانوسره په دې هکله خبرې وکړی، دسعودی عربستا ن په ریاض کی ئې په اتم سعودی میډیکل کانفرنس کی داسی وویل:

دتیرودرې لسیزوراهیسی زمالیوالتیادقرآن سره زیاته شویده، کومی مطالعې چې ماکړیدی دادرته ویلای شم چې ۱۴۰۰ کاله مخکی چې قرآنکریم دکوم شی بیان کړیدی هغه ټول حق دی؛ اودقرآن هره خبره دساینس یوبنسټ دی چې ددې حقیقت څخه هیڅوک سترګې نشی پټولای، محمدصلی الله علیه وسلم که څه هم په لیک اولوست نه

پوهیده خوبیاهم ئې دداسې پوره هستۍ داسې ښکلې پېغامونه ئې وخلکوته ورسول چې هغه ددې ټوله کایناتوپیداکوونکی دی، چې هغه ته خدای یاالله وایي-

زمالپاره دااړینه ده چې کلمه د(لااله الاالله محمدرسول الله) ووایم-

پروفیسرتیجاسن داکلمه وویله اومسلمان شو، اوده په پای کې زیاته کړل چې ودې کانفرنس ته ترکلمې ویلوڅخه ماسوابل قیمتي شی مانه دی راړی-

۸: **پروفیسر یوشیدی کوسن**(ProfessorYushudi Kusan)

پروفیسریوشیدی کوسن دجاپان درصدګاه (Tokyo Observatory)مشردی-

شیخ عبدالمجید اې زندانی دپروفیسرڅخه داسمانوپیداینبت، دځمکې اواسمانوترمینځ تعلق، اودداسې نورومعلوماتو په هکله ډېرقرآني ایاتونه ورته وړاندې کړل؛ چې وروسته پروفیسریوشیدی کوسن ورته په دې حیران شوچې قرآنکریم داسمانواوکایناتوپه هکله داسې معلومات ورکړیدي، چې هغه دده دمشاهداتوسره پوره سمون خوري؛ اودقرآنکریم هرڅه ډېرواضح اوروښانه دي-

موږچې کله دفلکیاتوپه هکله معلومات وځانته حاصلوو، هغه ډېرمحدوداونیمګړی دي، داځکه چې داپراخه کهکشان اوفضاء لیدل په دوربین کې هیڅ امکان نلري، اوموږئې پریوه ډېره وړه برخه باندې پلټنې کوواوبس، اودقرآنکریم معلومات داسمانواونورلوړوکا ئیناتو

په اړه باندی ډېرپه تفصیل سره دی، چې په راتلونکی کی به دقرآنکریم داایاتونه زموږلپاره پوره لاره پرانیځی۔

## ۹: پروفیسرایلفریډکرونر(Professor Alfred Kroner)

پروفیسرایلفریډکرونردجرمنی(المان) دمینز(Mainz) دپوهنتون دجیولوجی دعلم یونامتواووتلی پروفیسردی۔

پروفیسرکرونرپه نړیواله سطحه سره یومنلی استاذدی، دی دساینس په نړۍ کی په دې باندی ډېرشهرت لری چې یوئې عملی کارډېرکړیدی اوبل داچې پرنوروباندی تنقیدونه ډېرکوی، کله چې دزندانی سره مخامخ شونوهغه ورته ډېرایاتونه اواحادیث ورته وړاندی کړل اوورروستەئې داسی وویل:

زه دمحمدصلی الله علیه وسلم په دې معلوماتودرلودلوسره ډېرحیران یم چې یوځوبېړۍ مخکی ساینس پوهانودعصری تجهیزاتوپه درلودلوسره وتوانیدل چې څه ناڅه په پوه شی اودی صلی الله علیه وسلم ۱۴۰۰ کاله مخکی په خبروو- دپوره توجه خبره خولاداده چې دی په هغه وخت په هستوی علم (نیوکلیرفزیکس) باندی هم خبروو، چې په هغه وخت کی پرځمکه باندی هیڅوک ورباندی نه پوهیدی او دقرآنکریم سرچینه ضرورداسمانوڅخه ده۔

که چیری دقرآنکریم ایاتونه اودساینس حقایق دمځکی دپیدایښت په اړه سره پرتله کړو، نودابه ووېل شی چې دواړه یوشانتنه دی، اوددوی اصطلاحات سره موافق دی- اوکه په ساده ژبه سره ووایم نوقرآنکریم

دساینس یوپوره مکمل کتاب دی ، چې په راتلونکی کی به دهغه هرایات نوی ساینس ثابت کړی- زه ترټولوودې ته حیران یم چې څه وخت مخکی ساینس پوهان په دې وتوانیدل چې دکایناتودپیدایښت په هکله ئې دپرمختللی تخنیک په کارولو سره معلومات وموندل اوحال داچې محمدصلی الله علیه وسلم ډیرمخکی (څوپیړۍ)ددې په هکله تفصیلات ورکړی وه.

۱۰: **پروفیسرجیرالډسی جیوئرنګر**(Professor Gerald C Goeringer)

پروفیسرجیرالډسی دامریکادواشنګټن ډی سی دجارج پوهنتون دژونکودژوندپوهنې(Cell Biology)، دجنین پوهنې دطب (Medical Embryology) پروفیسر اومرستیال(Coordinator) دی-

کله چې شیخ زندانی ورسره ولیدل نوورڅخه ئې وپوښتل چې دجنین پوهنی په علم کی تاسی څه نښانې لری؟ ایادحضرت محمدصلی الله علیه وسلم په وخت کی هم دجنین پوهنې کوم متن شتون درلودی؟ شیخ داهم ورته وویل چې دجنین چې کومی مرحلې دی هغه په دې ډول ---- سره په قرآنکریم کی شتون لری-

دډېروبحثوڅخه وروسته هغه دسعودی په اتم طبی کانفرنس کی داسی وویل:

په قرآنکریم کی چې کومه تشریح دنراوښځې دجوړه کېدوڅخه وروسته دجنین پیدایښت دی، اودهغه ټولې دورې اومرحلې په پوره تفصیل سره بیان شویدی، له دې څخه اضافه تشریح ناشونې ده، اودقرآنکریم ټول اصطلاحات داسی په تفصیل سره دی چې څه موده مخکی هیڅوک

وربانده نه پوهیدل- په قرآنکریم کی چې څومره تفصیل شویدی ددې تفصیل پوره معلومات به په راتلونکوڅوپېړیو کی وشی، داساینس پوهان لاهم دقرآنکریم په ډېرپټوورازونو نه پوهېږی-

۱۱: **پروفیسرایچ اې ارگب** (H.A.R Gibb) وایی:

اسلام هغه یواځنی دین دی چې باداراوغلام ئې وروڼه کړل اووټوله انسانیت ته ئې دبشریت ستراصولی قوانین اوضوابط وروښودل.

۱۲: **پروفیسرکېنن ټیلر**(Canon Taylor) وایی:

دنړۍ په ټولودوولسوامپراطوریوکی یوه روحی اوباطنی امپراطورې وه چې هغه دمحمدصلی الله علیه وسلم وه ، چې په دې امپراطورۍ کې دبشریت اوانسانیت ټولې ښېگڼې اومعیارونه نغښتی وه، اوزه کولای شم چې وپوښتم چې ایادبشریت په تاریخ کی ترده لوړشخص شته؟

۱۳: **ډاکټرپروفیسر لامارټین** (Lamartine) وایی:

که داوس ددکتاتورانوپرځای محمدصلی الله علیه وسلم ژوندی وای نودی به یواځنی شخص وای چې امن، صلح اوخوشحالی به یې په ټوله نړۍ کې راوستې وای.

۱۴: **جورډبرنارډشا** (George Bernard Shaw) وایی:

اسلام یواځنی هغه دین دی چې صحرایی اووحشی مشرکان یې سره وروڼه کړل اوهغوی ئې ودې ته وهڅول چې ایمان راوړی، اوداسلام بله ښېگڼه داده چې رنګ پکښې ځای نلري.

مادده مطالعه ډیره وکړل اوزه ودې ته ورسېدم چې دی زړه وړونکی شخص دی، اودی دحضرت عیسی علیه السلام مخالف نه دی اوزماپه عقیده دی هغه څوک دی چې وټوله بشریت ته نجات ورکولای شی.

۱۵: **ډاکټر ټي وي این پرسود** (Dr. T.V.N Persaud) چې داناتومی مشراوسرپرست داناتومی دشعبې دی اوهمدارنګه دماشومانودروغتیاپروفیسردی دکاناډاپه یوه پوهنتون کی (University of Manitoba Winnipeg) تر ۲۵ زیات کتابونه ئې چاپ شوی اوتر ۱۸۱ زیاتې ساینسی پاڼې ئې خپرې شوی داسی وایی:

**ماته دامعلومه شوه چې محمدصلی الله علیه وسلم یوعادی سړی وو چې نه ئې څه لوستلای شوای اونه ئې هم څه لیکلای شوای؛ چې په حقیقت کی هغه بې تعلیمه ؤ داچې ده څه ویلی اوهغه ټول په ساینسی توګه سره ریښتنی دی نوزه هم لکه ډاکټرکیت موردا ویلای شم چې دابل څه نه دی بلکې الهی وحی دی.**

۱۶: **جولی سمپسن** (Joe Geigh Simpson) چې دامریکا دمتحده ایالاتودشیکاګودپوهنتون(North Western Universiy) دولادی اونسایی ځانګې پروفیسردی داسی وایی:

**دانسانانوتکثراومذهب علاوه له دې څخه چې ټکرنلری بلکې قرآنکریم دساینس تائیدکوی، اوبل داچې قرآني ویناوی دساینس په پرمختګ کی ډیری ستونځې لیری کړی دی نو موږویلای شو چې قرآنکریم الهی وحی دی اوبل څه نه دي.**

۱۷: **پروفیسرپالمر**(Professor Palmer) چې دامریکایوساینس پوه دی داسی وایی:

**وموږته اړینه ده چې دمنځنی ختیځ په هکله پلټنې وکړواوموږ ددې تاریخي حقایقولپاره یوڅه زبانی یادابښتونه لرو، که وهغوته کومه پاملرنه ونشی نوپردې زموږباوردی چې هم دومره معلومات اوحقایق بس دی چې پرمحمدصلی الله علیه وسلم باندی نازل شوی دی،**

موږ ومخته ځواوپردې خیږنې کووچې قرآن کریم دجیولوجي دعلم په هکله څه ویلي دي، ډیره مننه.

۱۸: **ویلیم ایم سی نیل** (William McNeill) وایي:

که دبشرپه تاریخ کې تاسي ومخکښو کسانو ته وګوری نوزمادانداز ې، پوهې اوعقل مطابق لومړی محمدصلی الله علیه وسلم، اودوهم عیسی علیه السلام... دادنړۍ ترټولوړاوستر پیغمبران وه.

۱۹: **جیمزګاوین** (James Gavin) وایي:

دنړۍ هغه کسان چې دانسانیت په تاریخ کې ئې پرذهنونوډیرې ښه اغیزې درلودی هغه زماپه اندمحمدصلی الله علیه وسلم، عیسی علیه السلام او.... وه.

۲۰: **جیمزمازرمن** (James Masserman) چې دشیکاګوپوهنتون یوپروفیسروواسي ویي:

محمدصلی الله علیه وسلم ترټولودښواولوړواخلاقوخاونداواتل ووچې په دوهم لړکښې حضرت موسی علیه السلام راځي.

۲۱: **جان ویلیم ډراپر**(John William Draper) وایي:

دبشریت په تاریخ کې ترمحمدصلی الله علیه وسلم اغیزمن شخص نه دی پیداشوی، اودی هغه څوک دی چې پربنی نوع انسان باندی ئې اغیزې جوتې، ښکاره اوتل پاتې دي.

۲۲: **کیرن ارمسټرانګ** (Karen Armstrong) چې ۷ کاله پوره دکاتولیک عیسایی مذهب ننه وه، اوپوره چوپړئې ورته کاوه، اواوس هغه د(مسلم سوشل ساینسزایسوسی ایشن) غړې ده هغې اوس داسلام دچوپړلپاره ډیرکتابونه لیکلی دی چې یویې (داسلام دپیغمبرصلی الله

علیه وسلم مضبوط او مستند دژوند سوانح، )چې په دې کتاب هغه څه لیکلی دی چې سړی ورته حیرانیږی.

۲۳: **لارډبرټریندرسل** چې دشلمې پېړۍ لوی صحافی، مفکراوریاضی پوه دی، ده یو کتاب لیکلی دی چې دهغه نوم دی:

Why I am not a Christian? زه ولی عیسایی نه یم؟

دی په کتاب کی دعیسایت نیمګرتیاوې په ګوته کوی اووددې دلایل ذکرکوی چې دی ولی عیسایی نه دی.

داهغه څوکربنې وې چې مادخاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم په هکله دنړیوالوپیژندل شوعیسایی اوغیرعیسایی شخصیتونو دنمونې په ډول سره درته بیان کړې چې دابه کتابونه کتابونه شی چې زه دهرساینس پوه، مفکر، تاریخ پوه اوستروانسانانوتولې لیکنې یوځای راټولې کړم چې داوټولې نړۍ اوهم وتاسوته جوته اوترلمربنکاره ده.

که تاسی ددې په هکله پوره معلومات غواړی نوتاسی کولای شی چې لاندنی نړیوال کتابونه وګوری چې لیکوالان ئې غیرمسلمانان دی اوزیات پکښې عیسایان دی:

1: Muhummed (Pbuh) the Greates
2: The 100 A Ranking of the Most Influential Persons in History
3: Spirit of Islam
4: Hero and Hero-worship
5: The Prophet of East
6: A History of the Intellecual Development of Europe
7: The Messenger
8: The Genuine Islam
9: Mohammed and Mohammedanism
10: Encyclopedia of Britannica
11: Islam at the Crossroads
12: Decline and Fall of the Roman Empire

13: Whither Islam
14: The Preaching of Islam
15: Islam in West

۱۳: **متی العربی**: دنړۍ په کُره کی عیسایان ترمسلمانانو ډېردی، اقتصادئي ډېربنه دی داځکه چې عیسایت دبشرلپاره یوائنی حل دی؟

**ځواب**: که زه وبرطانې اوامریکاته راشم، نوتاسی دومره ډېرنه یاست لکه تاسی چې ئې ادعاکوی بلکې دنفوسوپه شمېرکی ټکې برګې کوی، اوهغه داچې تاسی هندوان هم په عیسایی فهرست کی لیکی، لادینه هم په عیسایی فهرست کی لیکی، یهود هم پخپل فهرست کی لیکی اوهرهغه ثوک چې مسلمان نه وی تاسی ئې په پخپل فهرست کی لیکی، دبېلګې په ډول سره که تاسی په یوه ایالت کی ۲۰۰۰۰ عیسایان لیکلې وې، نوهلته تاسی تر ۸۰۰۰ زره عیسایانو څخه اضافه نه یاست اوپاته غیرمسلمان خلک دی اوحال داچې هغه هم خبرنه وی۔

همدااوس تاسو(عیسایانو ) دمځکې پرکُرې چې کوم اوربل کړی دی اوهره ورځ په زرهاووانسانان وژنی ، کورونه ورانوی، اوملتونه دخاوروسره برابروی دادبایبل کړنلاره اودبشریت چوپړته بولې؟، داپه ټول انسانیت کی چې اوس تاسی دایډزپه شان مهلکه ناروغې خپروی ودې ته تاسی دبشریت چوپړوایاست؟، ښځه مودیوې رقاصې په نامه وټولنې ته راوېستل اودجنسی فاحشوا ړیکویوه اله موګرځولې ده ودې ته تاسی دټولنې خدمت اوپرمختګ وایاست؟، خلک ژوندې سوځې ودې ته تاسی خدمت وایاست؟، په زرهاووانسانان موپه ښکاره اوپټومحبسونوکی تعذیبوی، شکنجه کوی اوترحیواناتومو بدترکړل چې داسلسله دوام لری ودې ته تاسی بشردوستی وایاست؟ دادبایبل خدمت دی، په ګوانتناموااوبوغُریب کی موانسانان لوڅ لغړپه

سراوپښنوځړولې دی، په سپوئې داړی، پرپتمنومسلمانو میرمنوباندی جنسی تیرې کوی چې داټول دعیسایت اودبایبل وانسانیت ته خدمتونه دی؟؟؟!!!!

ستاسوداشعارچې ((دعیسایت ونه دمسلمانانوپه وینوشنه ده)) ایاداستاسووبشریت ته چوپړ، دخلکوسره همکارې، دبنی نوع انسان سره خواخوږې، پرمختیا، اودیموکراسې ده؟

۱۴: **متی العربی**: زمابله پوښتنه داده چې ځوخدایان دی، اوخدای څنګه دی؟

**ځواب**: خدای یودی اوهیڅ شریک اومثل نلری نه په ذات کی اونه هم په صفاتوکی قرآن کریم وایی:

قُلْ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ﴿١﴾ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ﴿٢﴾ لَمْ يَلِدْ وَلَمْ يُولَدْ ﴿٣﴾ وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدٌۢ ﴿٤﴾ (سورت اخلاص)

ژباړه:ووایه: هغه الله یودی، الله هیچاته اړنه دی، نه ئې څوک زیږولې اونه له چازیږدلې دی، اودهغه هیڅ سیال نشته۔

دخدای پروحدانیت باندی بایبل هم ګواه دی:

واوری ای بنی اسرائیلوخداوندزموږخدای یودی نوتاسوپه ټول زړه ټول روح اوټول ځواک سره دخپل واحدخدای په وړاندی مینه ولری. (استثناء باب ۶ فقره جات ۴_ ۵)

عیسی ځواب ورکړ، اول دادی چې ای اسرائیلوواوری! مالک زموږخدای یومالک دی، تاسی دخپل خدای سره دټول زړه سره، دخپل ټول روح سره دخپل ټول عقل اودخپل ټول طاقت سره مینه کوي. (مرقوس ۱۲ باب ۲۹_ ۳۱)

اوخدای دټولې نړۍ پاچاشو،هغه خدای یودی اودهغه نوم واحد(یودی). (زکریا ۴۱باب ۸)
اوخدای صرف یوخدای دی.(دپولس خط درومیانوپه نامه ۳باب ۳۰)
خدای یودی، ایمان یودی، بپتسمه اودټولوخدای یودی.
(دپولس خط دافسویونوپه نامه ۴: ۶)
اوس دازلی پاشاه یعنی غیرفانی نالیدلی واحدخدای عزت اوجلال دی تل ترتله وی. (اول خط دتیموتیوس په نوم ۱: ۱۷)
ته په دې خبره ایمان ولره چې خدای یکی یو دی. (خط دیعقوب ۲: ۱۹)
خدای یواځی اویواځی یودی.(خط دیهوداه ۲۵)
په بایبل کی دخدای وحدانیت په ډیرځایونوکی په ښکاره ډول سره راغلی دی، اوداتاسی چې ئې نه منی داستاسوبې انصافې اوګمراهې ده، وتاسوته دابایبل هم دهیڅ شی ارزښت نه لری.
الله جل جلاله دهیڅ شی سره موږنشوپرتله کولای اوقرآن عزیزفرمایی:
لیس کمثله شی
الله جل جلاله دیوه شی په بڼه سره نه دی، چې موږئې ورسره تشبه کړو.
۱۵: **متی العربی**: حضرت عیسی علیه السلام دخدای زوی دی ځکه:
- په بایبل که راغلی دی چې دی دخدای زوی دی.
- په قرآنکریم کی دده دنامه سره دمریمې توری راغلی دی، مطلب داچې دی په معجزانه ډول سره پیداشوی دی اوپلارنلری.
- په قرآنکریم کی دده لپاره د(روح القدوس اوکلمې توری )راغلی دی نوکلمه اوروح دخدای دی، نوځکه دی هم خدای دی.

اوس ته څه وایی؟

**ځواب**: په بایبل کی چې کوم لفظ د(ځوی) استعمال شوی دی، چې په عبراني ژبه کی دخدای زوی دهرهغه چالپاره استعمالېده چې خدای ته به نژدې ؤلکه بایبل چې وایي:
چې هرڅوک چې دخدای دروح په هدایت چلیږي هغه دخدای زوی دی.
(خط درومیانو په نوم ۸: ۱۴)
دبایبل ددې تعریف څخه وروسته دخدای دزوی استعمال دحضرت عیسی علیه السلام څخه ماسوی ونوروته هم شوېدي دبېلګې په ډول سره:
نودخدای زامنوولیدل چې دانسانانولوڼې ښکلی دي. (تکوین ۴: ۲)
دخدای زامن دانسانانودلوڼوسره ولاړل.( تکوین ۴: ۴)
وفرعون ته ووایه چې اسرائیل (یعقوب علیه السلام) زمازوی دی بلکې زمالومړی زوی دی، اوزمازوی پرېږده چې زماعبادت وکړی.
(خروج ۴: ۲۲- ۲۴)
زه دا سرائیل پلاریم اوابراهیم زمالومړی زوی دی.(ارمیاه ۳۰: ۹)
په هغوځایوکی چې وعیسی علیه السلام ته دخدای دزوی لفظ راغلی دی، نودبایبل په حواله ددې مطلب دادی چې عیسی علیه السلام دخدای زوی نه بلکې دالله دحکم منونکی وو.
اوراغلوودې خبرې ته چې دحضرت عیسی علیه السلام سره دمریمې توری راغلی دی، دازموږایمان اوعقیده ده چې حضرت عیسی علیه السلام په معجزانه ډول سره پیداشوی دی، چې ستاسوانګلکن عیسایان ئې اوس هم نه منی،اوده پلارهم نه درلودی، قرآنکریم وتاسوته وایي:

يَـٰٓأَهۡلَ ٱلۡكِتَـٰبِ لَا تَغۡلُواْ فِي دِينِكُمۡ وَلَا تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ إِلَّا ٱلۡحَقَّۚ إِنَّمَا ٱلۡمَسِيحُ عِيسَى ٱبۡنُ مَرۡيَمَ رَسُولُ ٱللَّهِ وَكَلِمَتُهُۥٓ أَلۡقَىٰهَآ إِلَىٰ مَرۡيَمَ وَرُوحٌ مِّنۡهُۖ فَـَٔامِنُواْ بِٱللَّهِ وَرُسُلِهِۦۖ وَلَا تَقُولُواْ ثَلَـٰثَةٌۚ ٱنتَهُواْ خَيۡرًا لَّكُمۡۚ إِنَّمَا ٱللَّهُ إِلَـٰهٌ وَٰحِدٌۖ سُبۡحَـٰنَهُۥٓ أَن يَكُونَ لَهُۥ وَلَدٌۘ لَّهُۥ مَا فِي ٱلسَّمَـٰوَٰتِ وَمَا فِي ٱلۡأَرۡضِۗ وَكَفَىٰ بِٱللَّهِ وَكِيلًا ﴿١٧١﴾ (النسآء ۱۷۱)

ژباړه:ای اهل کتابو ! مه کوی تاسی مبالغه (تجاوزله حدود )په دین ستاسو کښې اومه وایاست تاسی پرالله مګرحق، بېشکه هم داخبره ده بله نه ده چې مسیح عیسی زوی دمریمې رسول دالله دی او(داسی) کلمه ده چې غورځولې ده (الله) دغه کلمه مریمې ته اوروح دی له جانبه دالله نوایمان راوړی په الله اوپه رسولانودده(الله) اومه وایاست تاسی(داسی چې معبودان) درې دي، منع شی تاسی (له دې وینا، اختیارکړی توحید چې) خیردی تاسی ته، بېشکه هم داخبره ده چې الله حق معبودیودی( بې شکه بې عیبه) پاکې ده ده لره چې شي ده ته (نسبت د ) ولد.

دلته چې کله الله جل جلاله دکلمې نوم اخلی نوهغه د(کن) کلمه ده، داچې بی بی مریمې رضی الله عنهاخاوندنه درلودی نوکله چې الله وویل چې (کن) یعنی سه! حضرت عیسی علیه السلام دبی بی مریمې رضی الله عنهاپه نس کی موجودشواوبیاالله روح ورداخل کړ؛ داهرڅه دالله د(کن) دکلیمې له کبله پیداشوی دی داځمکې اواسمانونه ئې داسی پیداکړل چې الله ورته وویل چې موجودسی

هغه ټول موجود شول نوددې مطلب دانه دی چې ځمکې اواسمانونه هم خدایان دي نعوذباالله، اوکه تاسی داسی عقیده لری لکه هندوان چې هرشی خدای پیداکړی وي هغه خدای بولی نوبیاتاسی دادعوه مه کوی چې موږدالهامی دین پیروان یوبلکې تاسی هم وهندومذهب ته نږدې یوه ډله یاست.هندوان تردرې میلیونه زیات خدایان لری اوځینی هندوان بیاپه دې عقیده دي چې هرهغه شی چې خدای پیداکړی وي هغه خدای دي (نعوذبالله)

بل ځای په قرآنکریم کی د(کن) دکلمې په هکله فرمایي:

إِنَّمَآ أَمۡرُهُۥٓ إِذَآ أَرَادَ شَيۡـًٔا أَن يَقُولَ لَهُۥ كُن فَيَكُونُ ﴿٨٢﴾

(سورت یاسین ۸۲)

بېشکه همداخبره ده چې امرحکم دالله هرکله چې اراده وفرمایی (دپیداکولو) دیوه شی دادی چې وفرمایی هغه ته چې (جوړ) شه نوهغه (جوړ) شی.

زه به دبایبل حواله درکړم چې ولی وهغه چاته چې نه پلارلری اونه هم مورلری اونه هم مرګ لری خدای نه وایاست؟ (نعوذباالله)

ملک صدق نه پلارلری نه موراونه هم دپلارنیکه اوهم دهغه پیدایښت اونه هم دمرګ معلومات شته. (عبرانیان ۷: ۴-۳)

همداسی حضرت آدم علیه السلام ته ولی دخدای زوی نه بولی چې نه ئې موروه اونه ئې پلاروو؟

همداسی په قرآنکریم کی دروح توری دحضرت آدم علیه السلام لپاره هم استعمال شوی دی نوپه دې سره حضرت آدم علیه السلام دخدای ځوی شو؟؟؟؟ العیاذ باالله،

قرآنکریم دحضرت آدم علیه السلام دروح په هکله وایی:

فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِي فَقَعُواْ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ﴿٢٩﴾
الحجر(۲۹)
ژباړه: اوکله چې برابرمی کړدغه(بشر) اوپومی کړ په ده کښې له روح خپل(اودی پرې ژوندی شو)نوپربوځی تاسی ده ته په دې حال کښې چې سجده کوونکی ئې.
قرآنکریم دحضرت عیسی علیه السلام په هکله فرمايي:
۞ تِلْكَ ٱلرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ ۘ مِّنْهُم مَّن كَلَّمَ ٱللَّهُ ۖ وَرَفَعَ بَعْضَهُمْ دَرَجَٰتٍ ۚ وَءَاتَيْنَا عِيسَى ٱبْنَ مَرْيَمَ ٱلْبَيِّنَٰتِ وَأَيَّدْنَٰهُ بِرُوحِ ٱلْقُدُسِ ۗ (البقره ۲۵۳)
ژباړه:داټول رسولان (چې له آدم ترمحمده پوری یادشول)فضیلت ورکړی دی موږځینی ددوی ته پرځینونوروځینی له دوی څخه هغه دی چې کلام کړی دی الله (له دوی سره چې آدم ، موسی اومحمد دی) اوپورته کړی ئې دی ځینوددوی ته درجې (لکه محمد )اوموږورکړی دی عیسی ځوی دمریمې ته ښکاره معجزې اومرسته موکړېده دده په روح القدس(جبرائیل) سره.
دحضرت موسی علیه السلام سره د(کلیم الله) توری راځی یعنی هغه پېغمبرچې دخدای سره ئې خبرې کولې نوددې مطلب دانه دی چې بل پېغمبرنودالله سره خبرې نه دی کړي، یالکه دحضرت ابراهیم علیه السلام سره چې د(خلیل الله )توری راځی چې معنی ئې داده چې دالله دوست دی نوددې معنی دانه ده چې نعوذباالله دانور پېغمبران ئې دښمنان وه؛ بلکې دادهرپېغمرلپاره ببل توری اوکلمات دی.

الله جل جلاله د حضرت عیسی علیه السلام او بی بی مریمې رضی الله عنها د الوهیت رد په هکله وایی:

مَّا ٱلۡمَسِيحُ ٱبۡنُ مَرۡيَمَ إِلَّا رَسُولٞ قَدۡ خَلَتۡ مِن قَبۡلِهِ ٱلرُّسُلُ وَأُمُّهُۥ صِدِّيقَةٞۖ كَانَا يَأۡكُلَانِ ٱلطَّعَامَۗ ٱنظُرۡ كَيۡفَ نُبَيِّنُ لَهُمُ ٱلۡأٓيَٰتِ ثُمَّ ٱنظُرۡ أَنَّىٰ يُؤۡفَكُونَ ﴿٧٥﴾ (المائدة (٧٥)

ژباړه: نه دی مسیح زوی د مریمې مګر یو رسول دی په تحقیق سره له مخکی تېرشوی دي نور رسولان او مورئې (بی بی مریمه) رینښتنې (ښځه) وه، او دوی دواړو (د نورو انسانانو په شان) خوراک کاوه، وګوره موږ څنګه د توحید دلایل بیانوو او بیا وګوره دوی (څنګه د حقیقت) ګرځول کیږي.

په دې ایات شریف کی په څرګنده ډول سره معلومیږی چې دوی خدایان نه وه دا ځکه چې هر هغه څوک چې خوراک کوی دا د خدای ځانګړتیانه ده، لومړی دوی مخلوق وه، دوهم دوی انساني ټول حاجات درلودل دریم داچې الله وایی تاسی ورته وګوری دا څنګه خدای کېدلای شی، داموځه پر عقل باندی د جهل او ناپوهۍ پردې لګېدلی دي او بل داچې دوی په خپل ژوند کی وهیچاته نه دی ویلی چې زموږ عبادت وکی او موږ (العیاذ بالله) خدایان یو؛ د دې ثبوت د بایبل په هیڅ ورژن کی نشته او قرآنکریم داسی وایی:

وَإِذۡ قَالَ ٱللَّهُ يَٰعِيسَى ٱبۡنَ مَرۡيَمَ ءَأَنتَ قُلۡتَ لِلنَّاسِ ٱتَّخِذُونِي وَأُمِّيَ إِلَٰهَيۡنِ مِن دُونِ ٱللَّهِۖ قَالَ سُبۡحَٰنَكَ مَا يَكُونُ لِيٓ أَنۡ أَقُولَ مَا لَيۡسَ

لِي بِحَقٍّ ۚ إِن كُنتُ قُلْتُهُۥ فَقَدْ عَلِمْتَهُۥ ۚ تَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِي وَلَآ أَعْلَمُ مَا فِي نَفْسِكَ ۚ إِنَّكَ أَنتَ عَلَّٰمُ ٱلْغُيُوبِ ﴿١١٦﴾ (المائدة ۱۱۶)

ژباړه:اوكله چې الله دمريمې زوى عيسى ته وويل: اياتاخلكوته ويلى ووچې له الله پرته مااوزماموروپه معبوديت ونيسى؟ عيسى وويل: ته سپېڅلى ئې ماته نه ښايى چې داسى خبره وكړم چې دويلوحق ئې نه لرم، كه ماداسى ويلى واى نوهرومروبه تاته معلومه واى، تاته هغه څه چې زماپه نفس كى دي معلوم دى اوزه په هغه څه نه پوهېږم چې ستاپه ذات كښې دي بېشكه همداته ئې چې پټ رازونه درته ښه معلوم دى.

اوس تاسى ښاغليه ! اوستاسوټوله عيسايى نړۍ دى قضاوت وكړى چې په كوم ثبوت سره تاسى حضرت عيسى عليه السلام اودده مورخدايان بولى؟؟؟

داچې تاسى عرب ياست اوپه قرآنكريم پوهيږى اوزموږ سره په قرآن كريم دلايل واياست نوځكه مى دقرآنكريم اياتونه درته بيان كړل.

زه ودې ته حاضريم چې په لانديوموضوعګانوكې درسره مناظره وكړم:

۱: اياعيسى عليه السلام خداى دى؟

۲: ايابايبل دخداى كتاب دى؟

۳: اياعيسى عليه السلام صليب شو ؟

۴: تثلث تخيل دى كه حقيقت؟

۵: ايا ديوه ګناه بل پروړوا خيستلاى شى؟

۶: دګناهونوكفاره اوحقيقت ئې

يادونه:دبايبل چې كومې حوالې ماوركړيدى هغه مى دكينګ جيمزبايبل څخه وركړيدى ،دايادونه په دې كوم چې په اوسمهال كى هم

دوه بایبله یوشانته نه دی نوځکه دبایبل نوم،دنشرځای اودچاپ ځای ئې اړین دی.

The Holly Bible, Authorized King James Version
Gabriel Publishing, 129 Mobilization Drive Waynesboro, GA 30830
706-554-1594
Printed in England by Glays Ltd, St Ives plc

دده ښاغلی [۱۵]پوښتنې پوره شوې ماورځخه وغوښتل که نورې پوښتنی لری نو زه درته حاضریم چې دخپلې پوهې مطابق ځوابونه درکړم ؛متی العربی صاحب راته وویل چې اوس نورې پوښتنې نشته ،ماورته وویل چې زه اوس غواړم چې څه پوښتنې درڅخه وکړم که تاسواجازه راکړی اوخوښه مووی، اوده ته می وویل چې که تاسی پراسلام باندی هراعتراض لری،په اسلام کی معلومات حاصلول غواړی اویادقرآنکریم په هکله کوم سوال لری زه هروخت درته حاضریم، متی العربی صاحب راسره ومنله اوس لاندی زماپوښتنې دي اودده ښاغلی ځوابونه وګوری اوقضاوت وتاسوګرانوخوږولوستونکو ته پرېږدو.

۱: **سوال**: تاسی پربایبل باندی ایمان لری، ایادغه نوم حضرت عیسی علیه سلام اوکه خدای جل جلاله ورته ټاکلی دی؟

**متی العربی**: په بایبل زه دومره خبریم چې وکتاب ته وایی، اوس موږو(نوې عهدنامه اوقدیم عهدنامې ) ته وایو؛دادرسره منم چې داتوری په بایبل کی نشته نه هم عیسی علیه وربانډی ټاکلی دی اونه هم خدای داهغوخلکوورباندی ایښی دی چې دلومړی ځل لپاره ئې داټول کتابونه سره یوځای کړل.

**څېړنه**: بایبل(Bible) په اصل کی دیونانی ژبې دبلیا (Biblia)**څخه** مشتق شوی دی چې معنی ئې ده کتابونه، یعنی دبایبل معنی کتابونه دی، چې اوس دعیسایانو اویهودوومقد سوکتابوته وایی، دعیسایانو اویهودودکتابوومجموعې ته بایبل وایی، چې کله ودی کتابوته دوی اسفار، صحیفې، اومقدس کتابونه اوکلام مقدس هم وایی، داکتابونه په عمومي ډول سره پردوو برخو ویشل شویدی:

۱: **نوی عهدنامه**(New Testament)

نوی عهدنامه په ځینوبایبلوکی ۲۸کتابونه لری اوپه ځینوبایبلوکی ۲۷ کتابونه لری، داسی نه ده چې ددوی دبایبلودکتابونوشمېریودی.

په نوی عهدنامه کی داکتابونه شتون لری:

۱: انجیل متی، ۲: انجیل مرقوس،۳: انجیل لوقا،۴: انجیل یوحنا، ۵: اعمال درسولانو، ۶: دپولس خط ورومیانوته،۷: دپولس خط وکورنتیانوته لومړی ،۸: دپولس خط وکورنتیانو ته دوهم،۹: دپولس خط وکورنتیانوته دریم، ۱۰: دپولس خط وګلتیانوته، ۱۱: دپولس خط وافسیانو ته، ۱۲: دپولس خط وفیلیپیانوته،۱۳: دپولس خط وکولوسیانوته، ۱۴: دپولس خط وتیسالونیکیانوته لومړی،۱۵: دپولس خط وتیسالونیکیانوته دوهم، ۱۶: دپولس خط وتیموتیوس ته لومړی، ۱۷: دپولس خط وتیموتیوس ته دوهم،۱۸: دپولس خط وتیطوس ته،۱۹: دپولس خط وفیلیمون ته،۲۰: دپولس خط وعبرا نیانوته ، ۲۱: دیعقوب خط،۲۲: دپطروس لومړی خط،۲۳: دپطروس دوهم خط،۲۴: دیوحنالومړی خط، ۲۵: دیوحنادوهم خط، ۲۶: دیوحنا دریم خط،۲۷: دیهوداخط، ۲۸: دیوحنامکاشفات.

۲: **قدیم عهدنامه**(Old Testament)

په قدیم عهدنامه کی چې ددوی په ګمان اوانداهغه کتابونه دی چې ترسیدناعیسی علیه السلام مخکی نازل شوی دی، ددې په کتابوکی ژوراختلاف شته اوپروتستان یواځی ۳۹ کتابونه لری اوحال داچې کاتولیکان بیا۴۶ کتابونه لری، په قدیم عهدنامه کی داکتابونه شته:

۱:پیدایښت،۲: خروج،۳: احبار،۴: عدد ، ۵: تثنیه، چې ودې پنځو کتابوته دوی اسفارخمسه یاپنځه صحیفې اویاتورات وایی، خوداهغه تورات نه چې پرسیدناموسی علیه السلام باندی نازل شوی ؤ، اونه هم پورتنی انجیلونه هغه انجیلونه دی چې پرسیدنا عیسی علیه السلا باندی نازل شوی وه، پرهغه یوانجیل نازل شوی ووخواوس دوی مروجه څلورانجیلونه لری، اوعیسایی نړی وایی چې ۲۴۰۰۰ نسخې انجیلونه لیکل شوی دی، اودااوسنی بایبل لیکوالان ددوی په اند ۴۰ کسان دي، نوهغه الهی کتابونه چې ذکرئې په قرآنکریم کی راغلی دی اویامورږورباندی ایمان لروهغه اوس نشته اونه ئې هم دوی یوه پاڼه لری، داځکه چې دسیدناحضرت عیسی علیه السلام دصعودڅخه وروسته حواریین وځنګلواولیروسیموته په هجرت مجبوره شول داځکه یهودوغوښتل چی هغه شهیدان کړی وبل لورته هغه داصلی انجیل چې کومې نسخې موجودې وې هغه یهودوپه (۶۰) کلونوکی راټول اوله منځه ئې یوړ، اوله دې څخه ئې وروسته داکتابونه (مروجه انجیلونه) ئې ولیکل اووحوارییونوته ئې منسوب کړل ترڅووخلکوته وښیې چې داهغه الهی کتاب دی (نعوذبالله)، چې دبایبل په هکله به دبنده بل مفصل کتاب (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) وګوری چې دبایبل پرهرکتاب باندی په پوره تفصیل سره څیړنه شوی ده.دبایبل دقدیمې عهدنامې هغه نورپاتی کتابونه دادی:

۶: یوشع، ۷: قاضیان، ۸: راعوت، ۹: لومړی سموئیل، ۱۰: دوهم سموئیل، ۱۱: لومړی پاچهان، ۱۲: دوهم پاچهان، ۱۳: لومړی اخبار، ۱۴: دوهم اخبار، ۱۵: عزرا، ۱۶: نحمیاه، ۱۷: طوبیاه، ۱۸: یهودیت، ۱۹: استیر، ۲۰: ایوب، ۲۱: مزامیر، ۲۲: امثال، ۲۳: جامع، ۲۴: نشیدالاناشید، ۲۵: حکمت، ۲۶: یشوع بن سیراخ، ۲۷: اشعیا، ۲۸: ارمیا، ۲۹: مرثیې، ۳۰: باروک، ۳۱: حزقیال، ۳۲: دانیال، ۳۳: هوشع، ۳۴: یوئیل، ۳۵: عاموس، ۳۶: عوبدیاه، ۳۷: یونس، ۳۸: میکا، ۳۹: نحوم، ۴۰: حبقوق، ۴۱: صفنیاه، ۴۲: حجی، ۴۳: زکریاه، ۴۴: ملاکی، ۴۵: لومړی مکابین، ۴۶: دوهم مکابین.

ددې کتابوپه شمیراونومونوکی دکاتولیکانواودپروتستانو ژوراختلاف شته، خپله دکاتولیکانویوبایبل ۷۲ کتابونه دی، اوبل بایبل ئې ۷۳ کتابونه دی، اوبرعکس پروتستان بیا((طوبیاه، یهودیت، حکمت، یشوع بن سراخ، باروک، لومړی اودوهم مکابین)) نه منی چې دادی دخدای کتابونه شی، نوځکه پروتستان داکتابونه پخپلوبایبلو کی نلری، چې عموماد پروتستانوبایبل یواځی ۶۶ کتابونه دی اوبس، اوهمدارنګه دوی په نومونه کی هم اختلاف لری، لکه کاتولیکان ورته (مزامیر) وایی اوحال داچې پروتستان ورته (زبور) وایی، کاتولیکان ورته (واعظ) وایی، اوحال داچې پروتستان ورته (جامع) وایی، کاتولیکان ورته (هوشیع) وایی اوپروتستان ورته (هوسیع) وایی، کاتولیکان ورته ( راعوت) وائې اوپروتستان ورته (رُوت) وایی، کاتولیکان ورته (اخبار) وایی اوپروتستان ورته (تواریخ) وایی، اوکاتولیکان ورته (مرثیې) وایی اوپروتستان ورته (نوحه) وایی اوداسی نور..... ایایوڅوک دا حق لری چې دخدای دکتاب نوم دی بدل کړی؟ اویادی په هغه کتاب کی چې الله نومولی دی بل څوک دی پکښې

تصرف وکړی؟ یاهیڅ کله نه، بلکې داعیسایان چې پخپلو مقدسو کتابو په متن، بطن، نومونو، اودکتابو په شمیرکې کوم اختلاف لری دوی پرحق دی، چې ویې لری داځکه چې دادانسانانو په لاسو لیکل شوی کتابونه دی چې هریویې پرهره خواکشوی دخپلي خوښې مطابق هغه څه پکښې کولای شی نوځکه دااختلافات به ترقیامته پوری ډیریږی بلکې لږیږی به نه، چې پوره رڼابه په (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) وربانډی واچول شی انشآءالله.

(داڅېړنه دمناظرې وروسته وربانډی شوی ده. جُبیر)

۲: **سوال**: حضرت عیسی علیه سلام انسان دی اوکه خدای دی؟ که خدای دی نوولې انسانی نیمګړتیاوې لری لکه په بایبل کی چې راغلی دی دعیسی علیه سلام په هکله: خدای وژړل، حضرت عیسی علیه سلام یهودوپه ډبروویشتی، یهودوپرعیسی علیه سلام توکړل، هغه خوراک کاوه، اوځښاک ئې کاوه ،انسانی حاجت ئې درلودی، چې داټول انسانی نیمګړتیاوې دی، نوکه دی خدای دی دبایبل څخه داانسانی ځانګړتیاوې ورڅخه لیری کی اوکه دی انسان دی زمااوستاپه شان نوبیاولی ئې تاسی خدای بولی؟

**متی العربی**: دادخدای توری چې موږ استعمالوونوخدای خوپه حقیقت کی یودی، البته بیاپردروبرخووېشل شوی دی، یوخدای بل روح القدوس اودریم ځوی، نودادرې سره یودی.

۳: **سوال**: داددرې ګونوخدایانومعادله تاسی څنګه تعبیروی، یوځل وایاست چې دادرې سره یودی اوبیاوایاست چې دادرې سره بېل دی، اوستاسودبایبل په اندچې تاسوعیسی علیه وځړاوه (صلیب) موکړ، چې دانتیجه ورڅخه لاسته راځی چې تاسوخدای مړکی؟(نعوذ بالله)

**متی العربی**: خدای مونه دې وژلی اودهغه ځوی زموږدګناهونو لپاره کفاره شو، اوبلی هو !دی ددرووړځولپاره مړشو(دازموږخدای)

۴: **سوال**: په بایبل کی راځی چې زوی دپلاراوپلاردځوی دګناهونو پېټې نشی اخیستلای اوهریوبه خپل باروړی، داستاسو دکفارې عقیده دبایبل خلاف نه ده؟ دوهم کله چې تاسی خدای (عیسی علیه السلام) ددرووړځولپاره مړکی نودځمکې اواسمانونظام دچاپه واک کی وو؟، اودریم داچې ستاسودتثلث دعقیدی پربنسټ دخدای یوجزکم نشو؟

یادونه: ځوی دپلاردګناهونوسزانه اخلی اونه هم پلاردځوی دګناهونوسزااخیستلای شی، صادق سړی به دخپل صداقت جزاء اخلی اوبدسړی به دخپل شرارت سزاء اخلی. (حزقیال باب۱۸: ۲۰)

**متی العربی**: ددې ځوا ب اوس نشم درکولای اووخت ته اړتیالرم ترڅوزه خپله څېړنه وکړم اوځواب درکړم.

۵: **سوال**: موږستاسوپرټولوپیغمبرانوایمان لرو، یومسلمان مسلمان کېدای نشی ترڅوپرحضرت عیسی علیه سلام، حضرت موسی علیه سلام پرحضرت هارون علیه سلام ، حضرت یحی علیه سلام ، حضرت ذکریاعلیه سلام اوداسی نور--- ایمان رانه وړی، اوحال داچې تاسی یواځی زموږپرفخرالموجودات حضرت محمدصلی الله علیه وسلم باندی ایمان نه راوړی دامکمله بې انصافی نه ده؟

**متی العربی**:داهم ووخت ته اړتیالری، داځکه چې که زه درته ووایم چې بې انصافی ده نوزه بایدپرمحمدصلی الله علیه وسلم ایمان راوړم ، اومسلمان شم ، داځواب به زه ضروردرته پیداکوم.

۶: **سوال**:تاسی وایاست چې عیسایت دامن دین دی که دبایبل ودې ایاتوته وګورونوداسی معلومیږی په ښکاره سره چې عیسایت دټولوبدبختیو، ظلمونو، فسادونو، دبشریت ضد دټولو ناخوالو سرچېنه ده:

تاسوداخیال هیڅکله مه کوی چې زه دنیاته دامن راوړلودپاره راغلی یم، زه دامن راوړولولپاره نه یم راغلی خودتوری دپاره؛ زه دې ته راغلی یم چې سړی دخپل پلارخلاف شی، لوردموراومږوردخوابښې، اودسړی دښمنان به دهغه دکورخلک وی۔ (متی لسم باب ۳۴۔۳۷)

**متی العربی**:زه دامنم چې داایاتونه په بایبل کی شته،اواوس زه ددې په هکله کومه فیصله نشم کولای؛ زه به دبایبل کالج دپروفیسرانوڅخه ددې په هکله پوښتنه وکړم، که ئې ځواب دقناعت وړؤنوضروربه ځواب درته ووایم۔

۷: **سوال**:عیسی علیه سلام دچاځوی دی؟

**متی العربی**: دخدای ځوی دی۔

۸: **سوال**: ستاسو په بایبل کی حضرت عیسی علیه السلا م څلورپلرونه لری:

ا: یوسف۔(متی ۱: ۱۶)

ب: دخدای ځوی دی۔(مراقس ۱: ۱)

ج:دداود اوابراهیم ځوی دی۔(متی ۱: ۱)

Jesus Christ, the son of David, the son of Abraham.

ستاپورتنی ځواب غلط دی اویوسړی څلورپلرونه؟ داڅه سرچپه اوسرګردانه مفکوره اوعقیده لری؟

**متی العربی:** ددې مطابقت څخه زه اوس عاجزه یم خودځواب پیداکول ئې زماوظیفه ده.دامنم چې داسی ډېرایاتونه شته چې موږئې پخپله سره سرګردانه کړی یو، اوکېدای شی څه ایاتونه چاله ځانه وراچولې وی اوالهی کلام نه وی.

**یادونه:** دلته ښاغلی متی العربی داپه ښکاره سره ومنل چې په بایبل کی تحریف شویدی، داددوی اصول دی چې کله دوی دپړانګ اوپاڼ ترمنځ راشی بیاتحریف منی.

۹: **سوال:** دحضرت عیسی علیه داوینادانه ثابتوی چې دی خدای نه ووبلکې یورسول وو؟

زه پخپله هیڅ نشم کولای زه فیصله کوم څنګه چې ماته ویلی شوی دی اوزما فیصله هم دانصاف ده ځکه چې زما مقصد زمادمرضې نه دی بلکې دهغه مرضی ده چې زه ئې رالېږلی یم. (یوحنا ۵باب ۳۰) بل ځای حضرت عیسی علیه سلام وایی چې (زماخدای ترمالوی دی)، اوهغه ترټولولوی دی.

عیسی وویل: آیاماتاسوته دانه وه ویلی چې که تاسوایمان لری نودخدای جلال به ووینی،نوهغوی ډبره لیری کړه بیاعیسی پورته وکتل اووئې ویل ای ربه ! زه ستاشکراداکوم زماخبره دی واورېدل ماته داجوته وه چې ته تل زماخبره اورې، خومادډې حاضروخلکودپاره سوال وکی چې ددوی داباورراشی چې زه تارااستولی یم.

(یوحنا ۱۱ باب ۴۱-۴۳)

نوعیسی په چیغوویل: که یوڅوک پرماایمان راوړی نوهغه نه یواځی داچې پرمائې ایمان راوړ بلکې پرهغه چائې هم ایمان راوړچې زه ئې رالېږلی یم. (یوحنا ۱۲ باب ۴۴)

چې دی په واضح ډول سره وایی چې زه هیڅ شی نه یم او هرڅه د خدای په امرسره ترسره کوم، که چیری دی خدای وای نوده به بیادبل چا واجازې اوواک ته اړتیا نه درلودای که څنګه؟

**متی العربی:** زه نه وایم چې دی خدای دی، بلکې دی دخدای ځوی دی، خو بیابه هم زه تفصیلی ځواب درکړم۔

۱۰: **سوال:** تاسی ولی پرخاتم الانبیاصلی الله علیه وسلم ایمان نه راوړی، داځکه چې په بایبل کی راغلی دی:

هغه څوک چې زماڅخه وروسته راځی هغه زماڅخه ډېرزورور دی، اوزه دهغه دڅپلو د پورته کولو قابل هم نه یم۔ (متی ۳باب ۱۱)

بایبل بل ځای وایی چې په عربی بایبل داسی متن دی:

**لکنی اقول لکم الحق انه خیرلکم ان انطلق لانه ان لم انطلق لاتاتیکم المُعزی ولکن ان ذهبت ارسله الیکم** (**انجیل یوحنا** ۱۶: ۷)

لکن زه وتاسو ته روښتیا خبره کوم اوداستاسو لپاره خیرده، چې زه ځم اوترڅو چې زه نه یم تلل هغه (المعزی) یعنی مرسته کوونکی اوتسلی ورکوونکی وتاسو ته نه راځی اوکله چې زه ولاړشم هغه درته رالیږم۔

خو مرسته کوونکی راځی او هغه به تاسو ته هرڅه ښایی او بیابه درته هغه څه رایادوی چې ماتاسو ته ویلی دی۔(یوحنا ۱۶: ۲۶)

اوزه دخدای څخه غوښتنه کوم چې وتاسو ته دوهم مرسته کوونکی درولیږی چې ستاسو پوری ترادبده پوری وی۔(یوحنا ۱۶: ۱۴)

دحضرت عیسی علیه سلام نه وروسته څوک راغی؟ فخرالموجودات صلی الله علیه وسلم ولی ئې نه منی؟ ایادا ایات دفخرالموجودات حضرت محمدصلی الله علیه وسلم پرنبوت اوختم نبوت باندی په ښکاره ډول سره دلالت نه کوی؟ ایاترامام الانبیاء صلی الله علیه وسلم

بله هستې او بل د بشریت سترلاربنود راغلی دی ترسیدنا حضرت عیسی علیه السلام وروسته؟

او همداسی تقریباتردرش ځایه زیات په بایبل کی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په هکله وړاندوینې راغلی دی ولی ئې نه منی؟ که بایبل تاسی دخدای کتاب بولی نو پرخاتم الانبیاء صلی الله علیه وسلم ایمان راوړی او ستاسو څخه می داغوښته ده چې مسلمان شه که څنګه؟

**متی العربی**:داهغه ایاتونه دی چې دکشیشانودتل لپاره پکښې اختلاف دی، اوتراوسه ددې ایاتوپه مفهوم څوک نه پوهیږی، دبایبل دوه مفسرین په یوه لاره نه دی؛ اوکه بالفرض دادمحمدصلی الله علیه وسلم په هکله وی نوولی ئې نوم نه دی ذکرشوی؟

**ځواب**: په عربی کی د(المعزی) په یونانی کی ورته د(فارقلیط) نوم راغلی دی چې معنی ئې (احمد ، محمد ، مهربانه، مرسته کوونکی، تسلی راستونکی) ولی تاسی سترګې ورباندی پټوی؟

کله چې ښاغلی متی العربی صاحب ددی پښتونودځوابولوڅخه بې ځوابه شواو په اخرکی ده راڅخه غوښتنه وکړه چې نورې پوښتنې مه راڅخه کوه، اوو ماته وخت راکه چې ستادسوالوځوابونه پیداکړم، ماورڅخه وپوښتل چې څومره وخت غواړی ښاغلیه !؟ده راته وویل چې یوه اونۍ، اوس دیوې اونۍ څخه پنځه میاشتې تېره شوې اوهرڅه چې برېښنالیکونه ورلیږم هیڅ ځواب نشم موندلای، اوهغه دتلیفون شماره چې ئې وماته راکړیده، هغه هم کارنکوی؛ اوده خپل دوه انځورونه ئې هم رالیږلې دی خودواړه سره مخالف دی اوډېرتوپیرلری، دده انځورونه ځکه نه خپروم چې زه شکمن یم چې دده به وی اوکه یا؟ ماخپل اخری برېښنالیک ورولیږ اوورته می ولیکل چې وخت مه ضایع کوه، ددې سوالوځوابونه دنړۍ په سطحه کشیشان نشی راکولای اوته خولادیوې.

کلیساواکمن ئې.

**څېړنه**:په اوسنی بایبل کی دفخرالموجودات حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په هکله تر ۴۰ زیاتې وړاندوینې راغلی دی، زه نه غواړم چې ټولی دلته ذکرکړم، البته غواړم چې څه رڼاورباندی واچوم،

☚زه غواړم چې داایاتونه دیوحنا انجیل څخه دلته راوړم:

خوبیاهم زه وتاسوته رښتیاوایم چې داستاسودبهتری لپاره ده، چې زه ستاسو څخه جلاکیږم، که چیری زه ستاسوڅخه ولاړنشم نومددګاربه رانشی اوکه چیری زه ولاړشم نوهغه به زه راواستوم، کله چې هغه راشی نوهغه به دنیادګناه اودصداقت اوانصاف په باب کښې ملامته کړی، ...خوکله چې دحقیقت روح (پیغمبر) راشی نوهغه به تاسوته داټول حقیقت وښیی ځکه چې هغه به دخپله ځانه هیڅ نه وایی، خوهغه څه به وایی کوم چې هغه اوری اوهغه به تاسوپه راتلونکوواقعاتوخبرکړی، (یوحنا ۱۶ باب ۳- ۱۴)، لومړی جیبی چاپ ۱۹۹۶)

که موږدیوحنا و۱۶ باب اود۳- ۱۴ ایاتونه راشونوډیره ښکاره خبره ده چې داټولې وړاندوینې دفخرالموجودات حضرت محمدمصطفی صلی الله علیه وسلم په هکله دی، چې موږئې مخکی هم ذکروکړ، اوس غواړوچې یوڅه نوره رڼاورباندی واچوو، په انګلیس بایبل

The Holly Bible, Authorized King James Version
Gabriel Publishing, 129 Mobilization Drive Waynesboro, GA 30830
706-554-1594
Printed in England by Glays Ltd, St Ives plc

کی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم لپاره(Comforter) کامفرټر(تسلی ورکوونکی، اوراحت بخښونکی) دی، چې په ځینوعربی بایبلوکی

ورته (المعزی) اوپه نوروعربي بايبلوکې مطبوعه لندن ۱۸۲۱، ۱۸۳۱ او ۱۸۸۴ میلادي چاپ والاوکي (فارقلیط) راغلي دي، لکه:

**[7]لکنّي اَقُولُ لَکُمُ الْحَقّ: انّهُ خَیْرٌ لَکُمْ اَنْ اَنْطَلِقَ، لاَنّهُ اِنْ لَمْ اَنْطَلِقْ لاَ یَاْتِیکُمُ الْفَارَقْلِیْط، وَلکنْ اِنْ ذَهَبْتُ اُرْسِلُهُ الَیْکُمْ.**

اوپه ځینو اردوبايبلوکي هم (فارقلیط) راغلي دي، خووروسته داتوری په شفیع، مددګاره، وکیل، بزرګ، روح القدوس، روح حق باندی تحریف شول، چې زه به دبايبلوحوالي درکړم: په پښتو بايبل اول جیبی چاپ ۱۹۹۶ میلادي کال مخ ۲۷۰ اوانجیل شریف یوحنا چاپ ۱۹۸۱مخ ۶۷، مطبعه پاکستا ن بايبل سوسايټی انارکلي لاهور کي (مددګار) راغلي دي، په اردوبايبل (کلام مقدس) مخ ۱۳۰ چې ۷۲ کتابونه دي، اودکاتولیکانوبايبل دي، پکښي (وکیل) راغلي دي، دابايبل په ۲۰۰۵ میلادي کال کي دبايبل سوسايټی له لوری په لاهورکي چاپ شوی دي، دپروتستانوپه بايبل(کتاب مقدس) کي چې ریفرنس ریوایزډ ورژن دي،مخ ۱۰۱ چې په ۲۰۱۱ کال کي دبايبل سوسايټی له لوری په لاهورکي چاپ شوی دي لومړی (مددګار) راغلي دي، چې لاندی ورته (یاوکیل ، شفیع) راغلي دي، داپه انجیلونوکي تحریف دي، چې بیان شول په اصل یوناني کي ددې لپاره (پیرکلي طوس) ؤچې معنی یې (احمد صلی الله علیه وسلم ) ده، چې (فارقلیط صلی الله علیه وسلم) یې معرب دي، کله چې عیسایي نړۍ پوه شوه چې داخری نبي نوم پکښې راغلي دي نوځکه یې تحریفات پیل کړل چې دوه یوشانته نه دي، اوپه انجیل برناباس کي پخپل حالت داهرڅه پاته دي. دبايبل ځیني پوهان په دې اند دي چې اصل توری (فارقلیط) دي په سریاني ژبه کي، اوکله چې دیوحناانجیل ویوناني ژبې ته وژباړل شونودوی ددی (**فارقلیط**) پرځای (**پارکلیطوس**) (Parkletos)استعال کې چې معنی یې

د(**احمداومحمد**) ده، کله چې دوی پوه شول چې داداخری نبی کریم صلی الله علیه وسلم نوم اوواړاندوینه ده نوداتوری یې په(**پاراکلیطوس**) (Parakletos)بدل کړ، چې تسلي ورکوونکی ته وایي، اوهغه بایبلونه چې دپخوانۍ یوناني بایبلوڅخه ژباړل شوي دی لکه ځنی عربي، اردواوفارسي بایبلونوپه هغو کې داتوری پخپل اصلي بڼه سره چاپ شوچې (فارقلیط، فارقلیطا) دی، اوکله چې دوی پوه شول چې دا(**فارقلیط**) هم د(**احمداومحمد**) په معنی سره دی نوځکه یې داتوری په (وکیل، شفیع، مددګار، حق روح، روح القدوس، اونـورو...) بدل کړلکه مخکې چې ماورباندي رڼاواچول.

☜که موږداایات پخپل اوسني حالت پرېږدواوله ده څخه **شفیع** مراد شي نودسیدناحضرت عیسی علیه السلام څخه وروسته څوک شفیع راغی؟ څوک مددګارراغی؟ څوک حق روح چې دانجیل په اصطلاح وپیغمبرته وایي څوک راغی؟ ایاترسیدناحضرت عیسی السلام څخه وروسته ترفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم ماسوی بل کوم پیغمبرراغی؟که خپله حضرت عیسی السلام شفیع وایي نوده به داسي ویلي وای چې زه شفیع یم، اوبرعکس په ایات کې راغلي دی چې زه ترهغونه ځم چې شفیع نه وی راغلی، ایاترامام الانبیاء صلی الله علیه وسلم بل شفیع څوک دی؟؟؟

☜ اوکه عیسایي نړۍ وموږته وایي چې دده نوم نه دی ذکرشوی په بایبل کې نوځکه دی نعوذباالله پیغمبرنه دی.نوموږورته وایوچې لومړی خووړاندوینې ډیری راغلي دی، اوکه یې تاسي نه مني نودحضرت ابراهیم علیه السلام، حضرت نوح علیه السلام، حضرت اسحاق علیه السلام، حضرت یعقوب علیه السلام، حضرت داودعلیه السلام، حضرت شمعون علیه السلام، حضرت جدعون علیه السلام،

حضرت افتاح علیه السلام، حضرت یسعیاه علیه السلام، حضرت یرمیاه علیه السلام، حضرت حزقیل علیه السلام، حضرت حبقوق علیه السلام، حضرت حجی علیه السلام، حضرت میکاه علیه السلام اونورداټول په حقه سره پیغمبران وه اوحال داچې له هریوه څخه مخکې دهغوذکرنه دی شوی، زه به دهغوټولوڅخه وسیدناحضرت عیسی علیه السلام وورډاندوینې ته راشم چې دعیسی علیه السلام دراتګ څخه مخکې موجوده وه، اوهلته هم دده نوم اولقب نه دی ذکرشوی لکه:

ای دیهودودمځکې بیت الحم ښاره!

ته دیهودوپه لویوښارونوکې هیڅکله هم کوچنی نه یې، ځکه چې ستانه به هغه سردارراوځي چې زمادخلکواسرائیلوشپون به وی.

(متی، ۲ باب ۶ ایات).

دادحضرت عیسی علیه السلام وړاندوینه ده خونه یې نوم شته اونه یې لقب شته اوحال داچې دی پیغمبروو، نوداشرط نه ده چې خامخادی دراتلونکې پیغمبرنوم اولقب پوره ذکرشي. دلته وسیدناحضرت عیسی علیه السلام ته دسردارتوری راغلی دی، چې په همدغه شان عیسی علیه السلام وایي:

داسی کس راتلونکی دی چې زماڅخه ډیرطاقتوردی، اوزه دهغه دڅپلو دتسمودپرانستلوجوګه هم نه یم. (لوقا ۳باب ۱۶)

ډیره ښکلې وړاندوینه ده، ایاترحضرت عیسی علیه السلام بل څوک وروسته په ټوله نړۍ کې څوک طاقتورراغلی دی؟ ایاتاسی مقدس **پولس** ترحضرت عیسی علیه السلام غوره ګڼې؟ په عیسایی نړۍ کې ترپولس غوره شخص نشته، اوکه تاسی واياست چې نه پولس دومره درجه نلری نوتاسی به ضروردااعتراف کوی چې دسیدناحضرت عیسی

علیه السلام ددی وړاندوینې څخه یوائی اویوائی فخرالموجودات صلی الله علیه وسلم مراددی اوبس۔

☚ حضرت سیدناموسی علیه السلام په تورات کی وایی:

**هغه پیغمبرچې رائی هغه به داهل فاران څخه وی.** (استثناء ۳۳: ۲)

فاران دمکې معظمی نوم دی، یعنی دانبکلی پیغمبرچې رائی دابه دمکی معظمی دخلکوڅخه وی، تردی سپینه اوښکاره وړاندوینه؟؟؟ داوړاندوینه په دی دحضرت عیسی علیه السلام سره سمون نه خوری چې هغه دمکی دښارڅخه نه ؤ، نوګرانولوستونکی تاسوقضاوت وکی.

ددې ټولووړاندوینوڅخه داولاسته راغلل:

۱: دانبی صلی الله علیه وسلم به دمکی معظمی له ښاره وی.

۲: دانبی صلی الله علیه وسلم به دحضرت عیسی علیه السلام وروسته وی.

۳: دانبی صلی الله علیه وسلم به دحضرت عیسی علیه السلام دقول مطابق ترحضرت عیسی علیه السلام طاقتوروی.

۴: دانبی صلی الله علیه وسلم به شفاعت کوی په آخرت کی، په دي نړۍ کی به تسلی راولی.

۵: دانبی صلی الله علیه وسلم به اسلام پرمخ بیایی.

۶: دانبی صلی الله علیه وسلم به مرسته کوونکی وی، په دی دنیاکی اوخلک به دجهالت څخه وهدایت ته رهنمایی کوی، اوله دوږخ څخه وجنت ته.

۷: دانبی صلی الله علیه وسلم به دیهودو وروریعنی داسماعیل علیه السلام له اولادې څخه وی.

۸: دانبی صلی الله علیه وسلم به دحضرت موسی علیه السلام په شان شریعت، جهاد، هجرت اوصاحب ازواج به وی.

۹: هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم به ترآبده ستاسره وی یعنی (خاتم الانبیاء) به وی.

۱۰: هغه پیغمبر صلی الله علیه وسلم هیڅ له ځانه نه وایه بلکې هرڅه چې اوری(وحی ورته کیږی) هغه به درته وایی.

۱۱: هغه به داخلک دخپلوګناهونو(چې شرک) دخدای سره پیداکوی، یالکه تاسی چې وایاست عیسی ابن الله(عیسی علیه السلام دخدای ځوی دی نعوذبالله)، په صداقت کی چې تاسی رښتنی نه یاست اوزماتکذیب مووکړ، اوپه انصاف کی چې زه مودالله ځوی کړم، اوداسی نور... په دی کی به تاسی ملامت کړی(ای عیسایانواویهودو)، یعنی تاسی په دی ټولو کی پرناحقه یاست اودغه پیغمبرپرحق دی.

۱۲: داپیغمبر صلی الله علیه وسلم دحقیقت روح( واقعی پیغمبر) دی.

۱۳: داپیغمبر صلی الله علیه وسلم به راتلونکی وړاندوینی وکړی، لکه پیغمبرصلی الله علیه وسلم چې ډیری وړاندوینی کړیدی، چې یوڅه رڼابه پرواچوو:

که موږڅه دعقل اوانساینت په سترګوسره داوسنی بایبل وایاتوته وګورو نوداثابته شول چې بنی کریم صلی الله علیه وسلم په حقه سره پیغمبردی، دلته دیوه پیغمبرلپاره دوه شیان ذکرشویدی، یوداچې دی به هغه څه وخلکوته وایی چې وحی ورته کیږی، نه دخپله ځانه څخه جوړې شوې خبرې اوقرآن عزیزدنبی کریم صلی الله علیه وسلم په هکله وایی:

وَمَا يَنطِقُ عَنِ ٱلْهَوَىٰٓ ۝٣ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْىٌ يُوحَىٰ ۝٤ عَلَّمَهُۥ شَدِيدُ ٱلْقُوَىٰ ۝٥ (ایات: ۳، ۴، ۵ النجم)

اوخبرې نه کوی (محمد ) له هوا(خپلې ) نه ، نه دی دغه (قرآن) مګروحی ده چې ورته لیږلی شوې دې، ښوولې ده ده ته دسختوقوتونومالک(جبرائیل)چې خاوند دښه قوت صورت عقل دی-

اودوهم داچې داپیغمبربه څه وړاندوینې کوی، یعنی څه داسی پیښې به بیانوی چې وروسته به پیښیږی، چې داهم وتولې نړې ته معلومه ده چې داسلام خوږپیغمبرصلی الله علیه وسلم زښته ډیرې وړاندوینې کړیدی، چې ټولې پخپل مهال رېښتنې شوی دی، اوټولې رښتېنې ختلی وی، چې زه صرف د قرآنکریم څخه دوې بېلګې ذکرکوم،

اول داچې قرآن عزیز وايي:

إِنَّ ٱلَّذِى فَرَضَ عَلَيْكَ ٱلْقُرْءَانَ لَرَآدُّكَ إِلَىٰ مَعَادٍ (القصص ۸۵)

بېشکه هغه (الله) چې فرض (نازل) کړی ئې دی پرتا(احکام) دقرآن خامخابیرته ببوونکی دی دتاهغه ځای دوعدې (مکې) ته- د(معاد ) څخه مراد مکه معظمه ده، داهغه وخت نازل شوچې نبی کریم صلی الله علیه وسلم دمکې معظمې څخه ومدینې منورې ته هجرت کاوه، اوحضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه ورسره وو، داوخت ډېرمایوس کوونکی وو، نوچې کله دوی و(جحفه) نومی ځای ته ورسېدل داایات مبارک نازل شو، اوونبی کریم صلی الله علیه وسلم ته ئې تسلی ورکړل چې ته به بیاودې ښارته راځی، چې دادمکې فتح ده چې دده مبارک په ژوندکی ورته په برخه شوه-

دوهم داچې:

الٓمٓ ﴿١﴾ غُلِبَتِ ٱلرُّومُ ﴿٢﴾ فِىٓ أَدْنَى ٱلْأَرْضِ وَهُم مِّنۢ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ﴿٣﴾ فِى بِضْعِ سِنِينَ --(روم، ۱-۴ )

مغلوب کړی شو(اهل ) دروم په متصله (نژدې) ځمکه کښې (دعربو په مځکه کی)، اودغه (رومیان) وروسته له دغه مغلوبیت ددوی ژربه بیاغالب شی په (پارسیانو ) په څو کلو کی، -

یعنی د(۹ ) کلونو په موده کی به رومیان غالب شی، داځکه چي په لغت اوحدیث کی (بضع) اطلاق له دریو څخه ترنهوپوری دی، په دغه ایات کی دقرآنکریم عجیبه اوغریبه وړاندوینه روښتیاشول چي تراوسه ټوله نړۍ ورته حیرانه ده، چي د(۶۰۲ ) میلادی کال څخه تر(۶۱۴ ) میلادی کاله پوری د (فارس ) او(روم) پاچهانې په جنګ سره اخته وې، پردې ایات باندی حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه له ځینومشرکانو سره شرط وتړی، اوپه دغه وخت کی لاشرط تړل نه ووحرام شوی، اوشرط داووچي که تر دومره کلونو پوری رومیان بریالی نشول نوزه به سل اوښه تاسی ته درکوم اوکه کامیابه شوه نوتاسی به سل اوښه راکوی، دروم هرقل پرخپل ځان باندی داسی نذرکښېښود چي ((که الله تعالی پرپارس باندی وماته بري راکی نودحمص څخه تربیت المقدس پوری به په پښوولاړشم))دالله تعالی شان اوقدرت ته وګوری چي دقرآن دوړاندویلوسره سم برابردنهوکلونوپه موده کی یعنی دهجرت څخه یوکال وروسته دبدرپه ورځ چي مسلمانانوومشرکانوته ماته ورکړل اومسلمانان دخوښې په حالت کی وه، دروم کتابیانوته الله جل جلاله پرپارسیان(مجوسیانو )باندی بری ورکړ چي په نتیجه کی ئې دمکې مشرکان نورهم ذلیله شول اوحضرت ابوبکرصدیق رضی الله تعالی عنه دمکی دمشرکانو څخه هغه سل اوښان واخیستل چي درسول الله صلی الله علیه وسلم دحکم سره سم ئې خیرات کړل-

☚ دیهودو څخه به دپاچاهۍ عصاء بیله نشی اونه به ددوی دنسل څخه دحکومت لکړه واخستل شی ترڅوچې شیلوه(Shiloh) نه وی راغلی اوقومونه به دهغه فرمانبرداره شی. (پیدایښت ۴۹: ۱۰)
که موږ ودې پورتنی ایات وګورونو دادتورات دلومړی کتاب پیدایښت ایات دی، چې موخه ئې داده چې ترهغه وخته پوری به په اسرائیلوکی الهی سلطنت وی (دپیغمبرانوسلسله به جاری وی) ترڅوچې شیلوه راځی، اوکله چې هغه راغی بیادپه یهودوکی دالهی سلطنت لړۍ بنده شوه، بیابه قومونه دهغه تابعداری کوی.
په ایات کی لفظ د(شیلوه، شیلا) راغلی دی، چې ددې لغوی معنی (امن، سلامتیا) ده، چې په ښکاره ورڅخه اسلام مراددی، داځکه چې داسلام یوه معنی دامن اوسلامتیاده، ویوې بلې خبرې ته موپام رااړوم هغه داچې داسلام څخه مخکی چې هرنبی راغلی دی نوهغه دیوه ځانګړی قوم لپاره راغلی دی، لکه حضرت ابراهیم علیه السلام ویوه قوم ته وو، اوپه همدغه وخت کی حضرت لوط علیه السلام وبل قوم ته ؤ، اودبایبل مطابق حضرت عیسی علیه السلام هم یوائې وبنی اسرائیلوته رالیږل شوی ووچې قرآنکریم هم پردی باندی ګواه دی؛ اودغه اسلام چې راځی نو قومونه به دده تابع کیږی، چې معنی یی ده چې دابه نړیوال دین وی، یاپه بل عبارت همداپیغمبرصلی الله علیه وسلم چې راځی دابه رحمة اللعلمین وی.
☚ موسی علیه السلام وویل: خدای ستاسولپاره ستاسوڅخه ستاسودمنځ څخه ستاسودورونوپه شان زماغوندی یونبی رالیږی تاسی(ای یهودو) هغه ته غوږشی اوقبول ئې کړی. (استثناء ۱۸: ۱۵)
☚ خدای وموسی علیه السلام ته وویل: زه ددوی دمنځ څخه ددوی دورونوڅخه یونبی رالیږم، اوزه خپل کلام دهغه په خوله کی اچوم اودی

(پیغمبر)چې څه حکم کوی هغه ومنی، اوهغه څوک چې زماکلام ونه منی زه دهغه څخه حساب اخلم. (استثناء ۱۸: ۱۸- ۲۰)

➜په دې ایاتوکی (ورور) راغلی دی، چې مطلب ئې دادی چې ای یهودوهغه به ستاسوورووری، یعنی تاسی داسحاق علیه السلام اولاده یاست اوهغه به دااسماعیل علیه السلام له نسله وی، لکه څرنګه چې حضرت اسحاق علیه السلام اوحضرت اسماعیل علیه اسلام دحضرت ابراهیم علیه السلام ځامن اودوی سره وروڼه وه،نوراتلونکی پیغمبربه هم ستاسوله ټبره نه وی، بلکې هغه به دحضرت اسماعیل علیه السلام له ټبره وی اوستاسوورورربه وی.لکه څرنګه چې دوی دوه (حضرت اسماعیل علیه السلام اوحضرت اسحاق علیه السلام) سره وروڼه وه همداسی به همدغه پیغمبرستاسوورووروی.

➜په دې ایات کی بله خبره داده چې تاسی ورته غوږشی، دهغه خبره ومنی، پرهغه ایمان راوړی، دهغه دنبوت تصدیق وکی، دائکه چې ودغه پیغمبرته الله وحی کوی، نوځکه تابع داری ئې اړینه ده.

➜بله خبره داده چې الله به خپل کلام دهغه په خوله کی کښیږدی، یعنی وهغه ته به وحی کیږی اوهغه به ئې وخلکوته بیانوی، اودی چې هرڅه وایی هغه به داالله له لوری وي، قرآنکریم چې په ۲۵ کلونوکی نازل شو، دقرآنکریم لومړی پیل په (**الحمدلله رب العالمین**) ده، چې ترهر څه وړاندی ثنااوصفت والله پاک ته ده، اوبله داچې داکتاب والله ته منسوب دی، دادیوشخص کتاب نه دی، لکه انجیلونه چې دهرلیکوال په نامه سره دی، اودشجروډک دی، لکه انجیل متی چې متی لیکلی دی، انجیل یوحنا چې یوحنالیکلی دی، انجیل مرقس چې مرقس لیکلی دی اوانجیل لوقاچې لوقالیکلی دی، بلکې قرآنکریم چونکې الله نازل کړی دی نوځکه داداالله جل جلاله کتاب دی.

➔په دې ایات کی بله خبره داده چې که چاداحکام ونه منل نوالله جل جلاله به حساب ورسره کوی، چې داایات بیاپه ښکاره سره داسلام دمبارک دین تائیدکوی، دقیامت په ورځ به څوک مجازات کیږی اوڅوک به مکافات کیږی، هرڅوک به دخپلواعمالوسزاوینی، یابه نیکمرغه وی وجنت به ځئ اویابه هم بدبخته وی ودوږخ ته به ځئ، اوبل لورته عیسایان وایی چې که هرچاپرحضرت عیسی علیه السلام ایمان راوړنوهغه به جنت ته ځی، اودده دټولوګناهونوکفاره حضرت عیسی علیه السلام دی، اوبس.

➔بله مهمه خبره په دې ایات کی داده چې ای موسی داپیغمبربه ستاغوندی وی، ستاپه شان به وی، اوس به موږوګوروچې حضرت عیسی علیه السلام دحضرت موسی علیه السلام په شان ؤ اوکه حضرت محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان ؤ.

➔حضرت موسی علیه السلام او حضرت محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم دواړدموراوپلاره پیداشوی دی، مګرحضرت عیسی علیه السلام یواځی دمورڅخه پیداشوی دی، چې بایبل هم پردی ګواه دی.نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان شونه حضرت عیسی علیه السلام.

➔ حضرت موسی علیه السلام اوحضرت محمدصلی الله علیه وسلم دواړه په عادی اوطبعی ډول سره پیداشوی دی، مګرحضرت عیسی علیه السلام په معجزانه ډول سره پیداشوی دی چې پردی باندی هم بایبل ګواه دی، نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان شونه حضرت عیسی علیه السلام.

➡ حضرت موسی علیه السلام اوحضرت محمدصلی الله علیه وسلم دواړه ودونه وکړل اوکوچنیان ئې درلودل اوبرعکس حضرت عیسی علیه السلام نه واده کړیدی اونه ئې هم کوچنیان درلودل نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان شونه حضرت عیسی علیه السلام.

➡ حضرت موسی علیه السلام او حضرت محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل ژوندکی خپل قوم قبول کړل، که څه هم دتکلیفونوسره مخامخ شول، اوبل لورته حضرت عیسی علیه السلام خپلوخلکوقبول نکړ، لکه چې بایبل پرګواه دی (یوحنا ۱۱:۱) نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان شونه حضرت عیسی علیه السلام.

➡ حضرت موسی علیه السلام او حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دواړه نبیان هم وه اوپاچاهان هم وه، دپاچاڅخه مطلب دادی چې پرخلکوئې دمرګ اوژوندقدرت درلودی، یعنی دوی وخلکوته دمرګ سزاګانې ورکولې نوځکه دوی پاچاهان وه، لکه دموسی علیه السلام په هکله چې (عدد۱۵: ۳۶)، اوبل لورته حضرت عیسی علیه السلام داسلطنت نه درلودی لکه (یوحنا ۱۸: ۳۶)، نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان شونه حضرت عیسی علیه السلام.

➡ حضرت موسی علیه السلام او حضرت محمدصلی الله علیه وسلم وخپلوقومونوته نوی شریعت راوړ، اوبرعکس حضرت عیسی علیه السلام نوی شریعت نه ده راوړی لکه بایبل چې ګواه دی (متی ۵: ۱۷-۱۸)

➜ حضرت موسی علیه السلام او حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په قدرتی اوطبعی مرګ مړه شول، مګرحضرت عیسی علیه السلام دعیسایانو په عقیده په زوره مړشو(صلیب شو ) نعوذباالله.
نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم د حضرت موسی علیه السلام په شان شو نه حضرت عیسی علیه السلام.
➜ حضرت موسی علیه السلام او حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په مځکه کی ښخ دی، برعکس دعیسایانوله نظره حضرت عیسی علیه السلام په جنت کی دی، نوځکه حضرت محمدصلی الله علیه وسلم دحضرت موسی علیه السلام په شان شو نه حضرت عیسی علیه السلام.
ددې پورتنۍ خبرې مطابق حضرت موسی علیه السلام د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم غوندی دی، نوځکه داوړاندوینه دتورات درسته ده، اوله دې څخه په ښکاره ډول سره حضرت محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم مراددی نه حضرت عیسی علیه السلام.
➜ حضرت سلیمان علیه السلام وایی:
زمامحبوب سوراوسپین دی، هغه په (۱۰۰۰۰ ) لس زروکی افضل دی، دهغه سرخالص سره زردی، دهغه زلفې ولول دی، اوتوری دی، غاښونه ئې داسی سپین لکه شیدی، اودهغه رخسارډیرخوشبوه دی، خوله ئې ډیره خوږه ده اوداسی نور...(غزل الغزلات ۵: ۱۰-۱۶ )
چې په دی کی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم صورت مبارک اوڅهره مبارکه بیان شوی ده، زلفې مبارکې ئې توری وې، غاښونه مبارکان ئې ډیرسپین وه، اودنبی کریم صلی الله علیه وسلم مبارک بدن دګل ګلاب خوشبويې درلوده، اوکله چې به پریوه لاره تیرشونوترډروورځوپوری به پرهغه لاره دګل ګلاب خوشبويې وه، په لسو زروکی افضل دی، چې ورڅخه دمکې فتحه مرادده، کله چې مکه فتحه شول نودنبی کریم صلی

الله علیه وسلم سره ۱۰۰۰۰ صحابه کرام ورسره وه، چې دی په ټولوکی دی افضل ؤ اوداسی نور.....

**په برناباس انجیل کی دنبی کریم صلی الله علیه وسلم په هکله بیان:**

دبرناباس پیژندنه اوشخصیت:

دبرناباس اصلی نوم یوسف وودسیدناعیسی علیه السلام حواریینو دانوم(برناباس) ځکه پرکښېښودچې ده ډیرنصیحت اودعوت کاوه (برناباس) یعنی ددعوت اونصیحت ځوی، یامرسته کوونکی چې بایبل وایی:

اویوسف نومی یوسړی ووچې رسولانوبه ورته برناباس(برنابا ) وایه چې معنی ئې مرسته کوونکی، اوهغه له اصله دقبرص اوسیدونکی ؤ اودهغه یوپټی ووکوم چې هغه خرڅ کړاوهغه پیسې ئې راوړی اوهغه ئې درسولانوپه پښوکی کښېښوولې. (اعمال درسولانو ۴: ۳۶، ۳۷)

چې بایبل په ښکاره وایی چې هغه څومره دحوارییینوسره جوړ اوڅومره خدمت ئې کاوه، هغه یوه ټوټه ځمکه ئې درلوده هغه ئې هم دالله درضاء لپاره خرڅه کړه اوددین خدمت ئې پرمخ بیوی. یوه بله خبره دیادونې وړده هغه داچې دالقب ئې ځکه وده ته ورکړل شوچې په دغه وخت کی ده ډیره مرسته وکړه اوترده زیات دعوت هیچا نه دی کړی داځکه چې هرڅوک له یهودوڅخه په ویره کی ؤاوهغوواڅه، نوځکه برنابس خاص ارزښت لری.

خلکوبه دبرناباس په نامه قربانۍ کولې اوخلکوورته دیوتا وایه، چې دی ورسره مخالف ووله دی کاره سره لکه په (اعمال درسولانو ۱۴: ۱۲ ) اوبیابایبل وایی:

موږدافیصله کړی ده چې خپله خوښ کړی نماینده ګان دخپلوخوږوملګروبرناباس اوپولس سره درولیږو، چې دوی خپل ځانونه دعیسی علیه السلام لپاره قربانی کړیدی.
(اعمال درسولانو ۱۵: ۲۵).
برناباس یوښه سړی ؤ اوپه روح القدوس معموروو اوایمان ئې مضبوط وو، نوډیروخلکوپه مالک باندی ایمان راوړ.
(اعمال درسولانو ۱۱: ۲۴).
چې ددې ایات څخه ښکاره شوه چې برناباس لکه عیسی علیه السلام په روح القدوس معموروو، ښه سړی وو، اوایمان یي دومره ټینګ وو چې کله به خلکوده ته وکتل اودده نصیحت به ئې واوریدی نوایمان به ئې راوړی، چې په ټولوکی دی یووتلې څهره وه اوخلکوبه دده په نامه قربانۍ کولې چې دی بیاددې کارسره مخالف هم ؤ
دعیسایانودارُالتبلیغ انطاکیه وه چې په هغه برناباس معلم وو، اوده نصیحت کاوه لکه په (اعمال درسولانو ۱۳: ۱-۴)
په عیسایت کی خاص نوم اولقب لری، نوځکه دده انجیل هم دنوروډیرو انجیلوڅخه غوره اوښه دی، داچې دی دسیدناعیسی علیه السلام په ژوندکی ترټولوښه نصیحت کوونکی وونوځکه دده هره خبره سندده، داځکه چې که چیری ده سمی خبری نه کولای نوکیدای سی چې بایبل ورباندی پټه خوله وای، اوبرعکس اوسنی بایبل دده پرښه والی اوغوره والی اعتراف کوی، نوځکه دده انجیل واصل انجیل ته نژدی دی اودده په انجیل کی چې کومی وړاندوینې شوی دی دحضرت محمدصلی الله علیه وسلم په هکله داټولې رښتنې دی.
چې دلته په ښکاره سره جوتیږی چې برناباس ترسیدناعیسی علیه السلام څومره ځان قرباناوه، اوڅومره ارزښت ئې ورته درلودی.

## په انجیل برناباس کی دفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم په هکله رښتني اوسپيني وړاندويني:

⬅ژرده چې خدای له دغه یوموټی خاورې څخه یوسلوڅلویښت زره پیغمبران په نښه کړی اورسول الله هم په نښه کړی، خدای درسول الله صلی الله علیه وسلم روح له ټولولوژوندیوموجوداتو څخه مخکی یعنی شپیته کاله مخکی وړاندی پیداکړ. دوی ټول پیغمبران راغلل ، خورسول الله به ژرراشی ځکه چې دغه خدای غواړی چې دهغه لاره برابره کړی.
(انجیل برناباس فصل ۳۶: ۶ )

⬅نوخدای انسان ته هغه لیکنه ورکړه، دښی لاس دګوتی په نوک چې نص یی (**لااله الاالله**) دی، اودهغه دچپ لاس په نوک (**محمدرسول الله**) لیکلی ؤ، نواول انسان (آدم علیه السلام) دامچ کړل اوپرسترګوئې ومښوول اووئې ویل چې رحمت اوسلامتیادی وی پرتاپه هغه ورځ چې ته ودې نړۍ ته راځی. (انجیل برناباس فصل ۳۶: ۶ )

⬅کله چې آدم پرپښوروان شونوپه هواکی ئې دلمرپه شان یوځلانده کلمه ولیدل چې په هغه کی نویشته وه(**لااله الاالله محمدرسول الله**).
(انجیل برناباس فصل ۳۹ )

⬅آدم علیه السلام وویل: ای خدایه ! زه وتاته په دې کلمه سره دعاکوم، محمدرسول الله. (انجیل برناباس ۳۹ )

⬅آدم دجنت پردروازې ولیدل چې لیکل شوی وه( **لااله الاالله محمدرسول الله**). (انجیل برناباس فصل ۴۱ )

⬅اوازپورته شواوخلکووویل ای خدایه ! خپل پیغمبرژرراولیږه، ای **محمدصلی الله علیه وسلم** ژرراشه اودې نړۍ ته نجات ورکه.

(انجیل برناباس فصل ۹۷ )

➔کله چې دخدای سپیڅلی پیغمبر **محمد** راشی، نورسوایی اوبدنامي به ختمه شي. (انجیل برناباس فصل ۱۱۲ )

➔کله چې دی (محمدصلی الله علیه وسلم) راشي نوټول شیطانان به چیغې کړی، اووبه وایی چې ترسکروټولاندی شي اویودبله به ووایی چې والوځی، اوله دغه ځایه څخه زموږ دښمن **محمد** راځی.
(انجیل برناباس فصل ۱۳۶ )

➔حوارییونوویل ای باداره ! داڅوک دی چې ته ئې په هکله خبرې کوی اودې نړۍ ته راځی؟ عیسی دزړه په خوښۍ سره ځواب ورکړ چې هغه **محمدرسول الله** دی، اوکله چې هغه راشي نوداداسی مثال لری لکه چې پریوه مځکه چې باران وشی اوهغه مځکه ډیره ښه میوه وکی اوبیاشاړه نشي. (انجیل برناباس فصل ۱۶۳ ).

په انجیل برناباس کی ۶ ځلی نورهم دمحمدصلی الله علیه وسلم نوم راغلی دی، چې دلته پورتنی ایاتونه کفایت کوی انشآءالله.

په **انجیل برناباس** کی ۱۵ ځلی دمحمدصلی الله علیه وسلم نوم مبارک راغلی دی، چې په قرآنکریم په همدومره اندازه سره دفخرالموجودات صلی الله علیه وسلم نوم نه دی راغلی، چې بیاهم عیسایی نړۍ ورباندی سترګې پټوی، اودوی داوایی چې دابایبل برناباس نه دی لیکلی اویومسلمان لیکلی دی،داځکه چې دبرناباس دانجیل احکام وقرآن ته نژدی دی، اوحال داچې داانجیل دسیدناحضرت عیسی علیه السلام یوحواری برناباس لیکلی دی، اودلومړی پاپ جلاسیوس په واسطه منع شو، اوتاریخ ګواه دی چې لومړی پاپ جلاسیوس داسلام دسترپیغمبرصلی الله علیه وسلم څخه مخکی تیرشوی دی، اونه

داانجیل یومسلمان لیکلی دی اونه یی هم لاس پکښې وهلی دی، دانجیل بله نسخه په ترکیه کی وموندل شول دغه په طلایی آب لیکل سوې لاسی نسخه چې ۱۴ ملیونه پاونډه قیمت لری ، او د عیسی(ع) په خپله مورنۍ یعنی آرامي ژبه لیکل سوې ده ، د ده پخوانۍ ښوونی لری او هم د راتلونکی پیغمبر پیش ګویی پکښی کوی.

دغه کتاب چې د حیواناتو پر پوستوکو لیکل سوی دی ، په کال ۲۰۰۰ کی د ترکي پولیسو لخوا د قاچاقبرانو پر ضد په عملیاتو کی پیدا سوی دی. هغه تر ۲۰۱۰ کال پوری په ښه ټینګه ساتل کېدئ ، څو چې د انقرې « د نژادونو څیړنیز موزیم « ته وسپارل سو ، او ډیر ژر به په لږ قیوداتو سره د خلکو پر مخ پرانیستل سی. د دې لرغونی لاسی نسخې د صرف یوې صفحې فوټوکاپي کول به څه نا څه یو نیم ملیون پاونډه وی.

اواوس ئې داانجیل په ۲۰۱۲ کال کی اعلان کړداانجیل ۱۵۰۰ کاله مخکی لیکل شوی انجیل دی، پاپ شپاړسم بن ډیک په رسمی توګه دترکیې دحکومت څخه غوښتی دی چې داانجیل له نژدی څخه وګوری، اودې انجیل دوی هم حیران کړیدی؛ په دې انجیل کی نه تثلیث شته، نه دعیسی علیه السلام الوهییت شته، نه دحضرت عیسی علیه السلام صلیب شته، بلکې د دغه انجیل په متن کی ویل سوي دي چې هغه یو اسقف یعنی پادري ته داسی وویل شول : هغه مسیح به څه نومیږی ؟ راهب ځواب ورکړ: مبارک نوم یې محمدصلی الله علیه وسلم دی .نړیوالوڅیړونکوچې دانسخه دنژدې لیدلې ده په دې اندډی چې دانسخه تراسلام مخکی لیکل شویده،دوی شواهدوړاندی کوی چې دلیکنو، طلایی آب، پوستکواولیکدودڅخه داپه ښکاره جوتیږی چې

دادبرناباس رسول انجیل دی، چې ټوله عیسایي نړۍ ئې حیرانه کړې هم ده اوډیرژربه په نوروژبووژباړل شي اوپه نړۍ کې به خپورشي.

(داخیړنه دمناظرې وروسته شوی ده)تاسی کولای شی چې ددې په هکله نورمعلومات زماپه نوروکتابونوکی وګوری.(جُبیر)

نوګرانولوستونکوتاسو قضاوت وکې ، دوی دتل په شان پرمسلمانانوداسی سوالونه کوی چې هغه حیران کړی، اوکه علمیت اوڅه دخدای جل جلاله سره اخلاص وی نوبیاالله جل جلاله درسره مل دی اوداسی بېهوده پوښتنوته زموږمخکنیوعالمانوغاښ ماتوونکی ځوابونه ورکړیدی، یواځې شهیدعلامه سیدجمال الدین افغان په مصرکی ددوی سره ۲۴ مناظری کړیدی اوپه هرمناظره کی ئې ودوی ته ماتی ورکړی اوپه هرغونډه کی ئې ډېرعیسایان مسلمانان کړیدی، چې تاریخ ګواه دی.

**یادونه**: که چیری تاسی غواړی چې دعیسایت په هکله مکمل معلومات پیداکړی اودقرآن دحقانیت په اړوندڅه ولولی نوتاسی کولای شی چې زمادا کتابونه ضروروګوری:

۱: ماولی اسلام قبول کړ؟(چاپ)

۲: اسلام اونوې ساینسي څېړنې (لومړی ټوک)چاپ

۳: اسلام اونوې ساینسی څېړنې (دوهم ټوک )چاپ

۳: ایابایبل دخدای کتاب دی؟ (ناچاپ)

۴: دعیسایت حقیقت(ناچاپ)

۵: سوال ځواب(ناچاپ)

۶: حضرت محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم اوسیدناحضرت عیسی علیه السلام په قرآن اوبایبل کی.(ناچاپ)

په سوال ځواب کې د غیرمسلمانانو د پروسوالوځوابونه په معقول ډول سره ورکول شوی دي، په ځانګړي ډول سره د عیسایانو، یهودواومشرکینو، چې دوی په مختلفووختوکی پراسلام اومسلمانانوکړیدی.

په دې کتابوکی تاسی په بایبل کی تحریفات، غلطیانې، نیمګړتیاوې، دعیسایت بنسټ، اوحقیقت ډېربنه موندلای شی.

داوس لپاره (ایابایبل دخدای کتاب دی؟) کارپرشروع دی اوډېرژربه انشآءالله چاپ کړل شی اوستاسوترلاسونوپوری دروررسیږی.

پای

په اسلامي پاکه مینه

ستاسوورورعبدالغفارجُبیر

چهارشنبه، ۲۰۱۲/۰۱/۱۱

## دنړۍ له ګوټ ګوټ څخه دمناظرې په هکله نظرونه

دټولو مينوالونه يوه نړۍ مننه ! ! !

چې خپل نظرونه ئې زموږسره شريک کړل،په دې نظروکې ګرانودوستانوخپل داخلاص نه ډک احساسات ښکاره کړي دي، چې زه اوزماټول همکاران ورڅخه ډيره مننه کوو.

وموږته دافغانستان، پاکستان، سعودی عربستان، ایران، کویټ، بحرین، مصر، اردن، سوډان، امریکا، کاناډا، برازیل، برطانیه،ایټالیا ، فرانسه، جرمنی، هالنډ، ناروی، سویډن، روسیه، هندوستان، تاجکستان، استرلیا، ډنمارک، قطراوجنوبی افریقاڅخه تر۴۰۰ زیات نظرونه راغلل، چې دانظرونه په عربی، پښتو، دری، فارسی، انګلیسی، ایټالوی اوروسی ژبوباندی وه، چې ددې ټولوښکلونظرودغورچاڼ لپاره موږيو کميسون درلودی چې دې کميسون ۱۷ نظرونه غورچاڼ کړل، اواخری انتخاب ئې دروندمشروروړډاکټرنثاراحمدصاحب کړيدی ؛پاته ټول نظرونه به انشآءالله په انټرنيټ کی خپاره کړو. لوی څښتن جل جلاله دی وټولوپراسلام مينواو خوږوملګروته چې زموږسره ئې په دې مناظره که نظرونه ، احساسات اومشورې شريکې کړې، مناظره ئې خپره کړه، اوددې مناظرې لکښت ئې پرغاړه اخيستی وی داددوی لپاره دآخرت پوره توښه وګرځوی، اوپه دې دنياکی دی ددوی دسرلوړۍ اوسوکالۍ سبب هم وګرځوی.

ستاسودپوره سوکالۍ اونيکمرغۍ
په هيله، ستاسوورورپه اسلامي
پاکه مينه
عبدالغفارجُبير.

# نظرونه

## دنظرونو اخری انتخاب، او دنظرونو لومړی مقام، دوهم مقام او نور...
## دروند مشرورور ډاکټر نثاراحمد صمد صاحب تاکلی دی.

۱: (زما مناظره له یوه عیسایي راهب سره )

دا چې زمونږ هیواد افغانستان همدا اوس اوس تر صلیبي اشغال لاندې دی او صلیبي یرغلګر لګیادي دخپلو نورو ناولیو اهدافو دتحقق ترڅنګ په افغانستان کې دتنصیر لورته خلک دعوتوي او ددې کار لپاره تربیلا بیلو نومونولاندې منظم دعوتي او تعلیمي پلانونه په مخ بیایي.
په ۲۰۰۶ کال دمارچ په میاشت کې دواتیکان په دستور دافغانستان له جزایي مقاماتو څخه دمرتد عبدالرحمن خلاصون او واتیکان ته په ځانګړې الوتکه کې دهغه رسول او بیا په ۲۰۰۷ کال دد جولای په میاشت کې دافغانستان په غزني ولایت کې دمجاهدینو لخوا د ۲۳ تنصیري مبشرینو ګرفتارکول ټول په افغانستان کې دصلیبي انحرافي هلو ځلو ښکاره نښې دې چې دبهرنیو صلیبي ځواکونو تر سرپرستي لاندې ترسره کیږي.
په دغسې حساسو شرایطو کې ډیره پرځای خبره ده چې افغانان دصلیبي یرغلګرو دپوځي یرغل ترڅنګ دهغوئ فکري او کلتوري یرغل ته هم متوجه او په علمي معقولو استدلالونو سره یې مقابله وکړي.
چې دمحترم ورورعبدالغفار جبیر لخوا په روانه اوخوږه پښتو کې ژباړل شوې هغه ګټوره علمي سلسله ده چې دعلم او استدلال په اساس ترتیب شوې محاوره ده او لوستونکي ترې ښه علمي استفاده

کولای شي.
له لوي څښتنه غواړم چې زمونږ نور په اسلام مین غیرتي ځوانان هم دصلیبي یرغلګرو دصلیبي هلو دمخنیوي په لاروکې دغسي علمي هلي ځلې وکړي ترڅو دخپل ولس ځیني ناخبره ځوانان په صلیبي لوموکې دلویدلو له فتنې وژغوري او په دې لاره کې خپل اسلامي او اخلاقي دین اداء کړي.
والسلام
ورورمو فداء دنن ټکي آسیا چلوونکی

۲: دیوه عیسایي راهب سره دجُبیرصاحب مناظره
الحمد لله وکفی وسلام علی عباده الذین اصطفی
امابعد: څرنګه چې دنړۍ کفاروپه اتفاق سره متې رانغښتی دی چې داسلام دحقاني دین هرراز مقابله وکړي اوپه دې لاره کی ئې دژبې، قلم اوټوپک څخه کاراخیستی اوبل لورته مسلمانانو یاخوچوپتیاغوره کړی اویاددکفاروسره په جنګ ولاړدی، له دې امله می احساس مړاوله زیاتې ناامیدۍ سره مخ وم، خوکله چې می دګران ورورمناظراسلام بااحساسه عبدالغفارجُبیر صاحب مناظره ولیدل چې دیوه عیسایي راهب سره ئې کړی وه، اودجُبیرصاحب دقیق اوزړه دانښکونکی ځوابونه می ولوستل اومقابل لورته می دراهب نیمګړتیاوې اوپه زیاتوځوابونوکی چوپتیاولیدل یونوې ساه می په بدن کی وچلیدی، روح اودماغ می تازه شو، احساس می ژوندی شو، ناامیدې می په امیدبدله شوه، اوزیات خوشحاله شوم چې تراوسه لاهم په افغانانوکی دزیاتوکړاوونواو مشکلاتوسره – سره دجُبیرصاحب په شان احمددیدات ته ورته څیرې شته، چې دکفارودفاسدومفکوروڅخه په

ژبه اوقلم سره دفاع وکړی؛ لکه څرنګه چې ئې مجاهدین په ټوپک سره دفاع کوی.

دجُبیرصاحب دوه نورکتابونه هم چاپ شوی دی، یو ئې (ماولی اسلام قبول کړ؟) اوبل (اسلام اونوې ساینسې څېړنې لومړی ټوک) چې موږلوستی دی، چې لوستل ئې وانسان ته نوی ژوندوربخښی.

په پای کی وجُبیرصاحب ته ددې سترخدمت مبارکې وایو، اوالله جل جلاله دی وده ته زیات توفیق ورکړی چې خپل خدمت جاري وساتی اودالله جل جلاله څخه ورته دزیات عمرسوال کوو.

والسلام علیکم وعلی من لدیکم

ستاسوورورالحاج مولوی عبدالعلی ((مظهری))

فاضل جامعه عربیه مظهرالعلوم شالدره- کوئټه.

۳: د ۱۳۹۱ لمریزکال په دوبي کي مي په غرب کي د مسافری ۱۴ کاله پوره کيږي ، په ۱۴ کلونو کي سړئ په خپل هیواد کي هم له ډېرو لوړو ژورو څخه تېریږي خو زه دغه سفر د ځینو مجبوریتونو پر بنسټ له خپل اسلامي هیواد څخه زرګونه کیلومتره لیري په یوه غیراسلامي ټولنه کي په داسي حالت کي تېروم چي الحمدلله ورځ تر بلي ورځي هم د اسلام مبارک دین او هم مظلوم هیواد او هیوادوالو ته ځان نژدې احساسوم او تر څنګ يې ورځ تر بلي ورځي د اسلام د مبارک دین په اړه د معلوماتو کمبود هم احساسوم ، علت يې دادئ د هر عالم اومدرس د درس طریقه فرق سره لري ، یا په ښوونځیو کي تعلیم کیږي چیري چي زیاته پاملرنه عصري علومو ته کیږي ، دغه سبب دی چي د ښوونځیو څخه فارغان هغسي چي ښایي اسلامي پوهه نلري او اسلامی ځانګو څخه فارغان د ټولو عصري علومو څخه محروم پاتیږي. که څه هم ما د

ښوونځی تر څنګ اسلامي سبق هم ويلی دی خو دغه اسلامي درس مي تر هغه ډېر لږ ويلئ دی چي ما د يوه تنکي ځوان په توګه اړتيا ورته درلوده. داځکه چې د وخت بلواکو حکومتونو دې برخې ته لېوالتيانه درلوده ، په پايله کي يې زما غوندي مليونونه ځوانان يا خو بيخي له تعليمه پاته سوه يا به يې مور او پلار دې ته خوشاله وه چي زوی مي ليک لوست کولای سي.

په يوه اسلامي هيواد کي چي په ښوونځی ، مدرسه ، مسجد او ورځنی چاپيريال کي سړی څه اوري ، څه زده کوي د يوه غير اسلامي هيواد سره کاملاً توپير لري.

هغه مسلماني کورنۍ او اشخاص چي د لويديځ په سرګردانه ماحول کي اوسيږي که له لومړي سر څخه د خپل ځان او د کورنۍ غړو کړو وړو ته په ټوليزه توګه پام ونکړي يا به له خپلو ارزښتنونو څخه تېريږي او يا د نه جبرانېدونکو زيانونو سره مخامخ کيدای سي چي هغه وخت يې په کفاره ورکولو هم ټولي ستونزي نه حليږي ، خصوصاً کله يو مسلمان د يوه عيسوي ، يهود او يا نورو دينونو د پيروانو لخوا د اسلام په اړه د پوښتنو سره مخامخ کيږي ، ددغي مناظرې لوستل د هر مسلمان سره د اسلامي معلوماتو په زياتېدو کي ډېره چټکه مرسته کوي په ځانګړې توګه د هغو ځوانانو لپاره چي تر نورو زيات د غيرمسلمانانو سره مخامخ کيږي او د اړتيا وړ اسلامي تعليم يې نه وي کړئ.

زما په نظر د معاصرو تعليماتو تر څنګ او هم مهاله اسلامي زده کړي د هر مسلمان لپاره د ژوند په چارو کي داسي مهيمي دي لکه د انسان دوه لاسونه ، ځکه زه ددغي مناظرې د چاپيدو د خبر په اوريدو خوشاله سوم او هيله ده چي په لراوبر افغان وطن کي په پراخه کچه تر خلکو پوري ورسيږي.

د ښاغلي عبدالغفار جُبیر دغه مناظره نه یوازي په پښتو ژبه د اسلام د مقدس دین د ډیرو ژورو معلوماتو ټولګه ده بلکي د هر مسلمان او مسلماني ، تنکیانو ، ځوانانو او مشرانو لپاره یې لوستل ډېر ګټور تمامیدائ سي په ځانګړې توګه په اوسنیو وختونو کي زموږ ګران هیواد افغانستان او مسلمان ولس د نړۍ د تاریخ د یوه خورا عبرتناکه او خطرناکه حالت څخه تیریږي.

لیکوال ته یې دعا کوم چي خپلو هیوادوالو ته د هغوی په خپله مورنۍ پښتوژبه د اسلام د مبارک دین بېلابېل نور مهیم اثار هم په دغسي خوږه پښتو ژبه وژباړي چي زموږ راتلونکی نسل د معاصر تعلیم تر څنګ د اسلام د مبارک دین په اړه هم د ژورو معلوماتو څخه برخمن سي او د دغو دواړو تعلیمونو پر اساس هم خپل ځان وپیژني او هم خپل خدای او د خدای تعالی جل جلاله قدرتونه.

په درناوي

عبدالله احسان کاکړ

د لراوبر ویبپاڼي مشر

د امستردام هوايي ډګر هالنډ - ۲۸ مارچ ۲۰۱۲

۴: وټولو مینوالواوهیوادوالوته !

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته !

ډیرخوښ شوم چي دګران ورورعبدالغفارجبیردامناظره می په بینواویب پاڼه کی ولوستل، دامناظره ډیره هیښونکې، زړه وړونکې، معلوماتی اودعیسایت په دین پوه کوونکې وه، ډیرداسی دعیسایت بنسټیزې عقیدې پکښې وې چې زه نه په هیدم، اوددې مناظرې څخه می ډیرڅه زده کړل، ترټولویوشی دحیرانتیاوړوهغه دعبدالغفارجبیرقناعت بخښونکی ځوابونه اودمتی العربی خاموشی،

زه په دې نه پوهیږم چې پوښتنې ئې داسې ژورې کړې دي او په ځوابونو کې بیا چوپ دی، چې له دې څخه دعیسایت تحریف او داسلام حقانیت په ښکاره وینو.
زه وجبیرصاحب ته دزړه له تله مبارکي وایم او هیله مندیم چې په راتلونکی کې داسلام لپاره نورخدمتونه هم وکړی.
ډاکټرایمل- جرمنی
۵: ګرانه وروره عبدالغفارجبیره !
مسنونه سلاموه موومنی !
داچې تاسودنظرغوښتنه کړی ده، نوزه خولومړی ستاسوددی ویاړلپاره کوم الفاظ نلرم، داچې تاسوداسلام شمله رالوړه کړل نومبارکې درته وایو.
په عیسایت څه ناڅه خبروم خوداسی په تفصیل سره نه وم په خبر، دبایبل په غلطیانو، خرافاتو، اونوروناوړوشیانوزه حیران کړم اواوس کوښښ کوم چې دلته په ریاض کی دعیسایت په هکله ګټورکتابونه پیداکړم اوکه دکوم مشکل سره مخامخ کیدم نوضروربه درسره تماس نیسم.
زه په دې مناظره ډیرخوښ شوم اووخپلوټولوملګروته می دفیس بوک له لاری ولیږل زه ددی بری مبارکی درته وایم.
دوکتورمحمدابراهیم– سعودی عربستان ریاض

۶: نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد:
مادتکړه لیکوال، نامتوادیب، دهیوادپانګه اودمفکراسلام قدرمند ورورښاغلی عبدالغفارجُبیرصاحب (حفظه الله ورعاه) هغه علمي اوله

معنویته ډکه مناظره ولوستله چې دیوه عیسایي راهب متی العربی سره ئې کړېده.

په دغه مناظره کی ښاغلی جُبیرصاحب عیسوی راهب ته غاښ ماتوونکی ځوابونه ورکړی اوداخبره ئې ثابته کړی ده چې نه اوسنی بایبل دالله پاک کتاب دی اونه هم حضرت عیسی علیه السلام ته منسوب عیسویان دحضرت عیسی علیه السلام منونکی دی، بلکې حقیقت دادی چې دوی دحضرت عیسی علیه السلام دُښمنان دی اویوازیني دحضرت عیسی علیه السلام په صحیح معنی منونکی خلک هغه څوک دی چې اسلام ته وفاداردی اوپرجناب محمدرسول الله صلی الله علیه وسلم ئې ایمان راوړی دی.

داپه داسی حال کی چې صلیبیان دمسلمانانوسره یواځی په وسله واله مبارزه بوخت نه دی، بلکې دوی په نوروبرخوکې هم دمسلمانانوپه خلاف توندې هلې ځلې کوي؛ اودعیسویت دمنسوخ اومحرف دین په لورئې په پراخه پیمانه سره تبلیغات پیل کړیدی اودمسلمانانودعیسوي کولوپاره په زرګونومؤسسې په فعالیت بوختې دي. زمونږ په هیوادافغانستان کی هم(چې پخوادایوه معماوه چې هغه کوم هیواددی چې کلیساپکښې نشته؟ په ځواب کښې به دافغانستان نوم راتلو ) اوسددوی کلیساوې پکښې جوړې شویدی.

له بلی خوازمونږدهیواد ډیروګړي دعیسویت په اړه لازم معلومات نلری، نوپه داسی حالاتوکی وداسی لیکنوته ډېره زیاته اړتیاشته چې خلک راویښ شي، څوددوی له سادګۍ څخه څوک غلطه اوناوړه استفاده ونه کړي.

له محترمولوستونکوڅخه هیله کوم چې دغه مناظره په غورسره ولولی،انشآءالله دعیسویت په هکله به ورته کافی معلومات په لاس

ورشی، دیادونې وړده چې دښاغلی جُبیرصاحب ټولې لیکنې ډیرې ارزښتناکې اوله معنویته ډکې دي، اوټولې ئې داسی موضوعات څیړلي دی چې اړتیاورته شته.

الله پاک دی محترم جُبیرصاحب ته مزیدتوفیق ورکړی چې داسی ارزښتناکولیکونوته ادامه ورکړی اودغه سترخدمت دی خدای تری په خپل عالی دربارکی قبول کړی.

وصلی الله علی نبینامحمدوعلی آله وصحبه اجمعین

په درنښت

ستاسوورورمولوی عصمت الله عزام

فاضل جامعه عربیه احسن العلوم کراچی

۷: محترمه وروره جبیره !

سلامونه مووءمنی !

ترهرڅه نه وړاندی به زه خپل تعارف وکړم:

زه فاطمه محمد چې په الازهرالعالمیه کی می داحادیثوتخصص کړیدی، اواوس دالازهرپه یوه ښاخ کی دښځوپه یوه دینی مدرسه کی داستادۍ په حیث کارکوم.

یوې افغانې ملګرې (عایشه احمد ) چې په کویټ کی ده اوپه روانه عربی کی پوره مهارت لری وماته ستاسوټوله مناظره هره برخه په عربی ژبه رالیږله، چې ماهره ورځ درته دعاوې کړی اودوه رکعته لمونځ می هم کاوی چې یاالله خیرچې داسی نه شی جبیرصاحب په یوه پوښتنه کی ګیرراشی، کله چې می دمناظری په پیل کی داحمددیدات نوم ولیدی نومی له ځانه سره وویل چې انشآء الله که داحمددیدات شاګرونوهرڅه ورته اسانه دی.

ګرانه وروره جبیره !

باوربه کوی چې دخپل ځان لپاره می دومرې دعاوې نه دی کړې لکه وتاسو ته می چې کړیدی، لوی خدای مودتل لپاره داسلام سپروګرځوی اوزه دادعادرته کوم چې دتل لپاره سوکاله واوسه اویوه غوښتنه می داده چې دتل لپاره داسې ښکلی معلومات دټول امت مسلمه سره شریک کړی، اوومانه زماګرانې خور(عایشه احمد) ستادنورولیکنوخبرهم راکی چې ډیره خوشحاله شوم.

ستاسو دهمیشنی بری اوپوره سوکالۍ په هیله

ستاسو خورفاطمه محمد له جمهوریه اسلامیه مصرڅخه

ژباړه: عایشه احمد - کویټ

۸: خوږه جبیره !

ترهرڅه نه مخکی سلامونه اوتبریکونه !

ستاسو پرقلم دی خدای نوربرکت هم کښیږدی چې داسلام پوره خدمت وکړی، ستاسودعلمیت اوپوهې څرک وموږته دیوه کاله راهیسی رارسیدلی دی، اوستاسو لیکنې موږپه ادبی بهیر، لراوبراوبینواکی تل لولو، ډیرې معلوماتی لیکنې دی، په ځانګړي ډول سره (موسیقې په اسلام اوساینس کی)، (دزمزم اوبه په اسلام اوساینس کی)، (روژه په اسلام اوساینس کی) اوپه ځانګړې ډول سره مناظره؛ ستاسودامناظره دهرافغان اومسلمان لپاره پوره هدایت دی، چې هرچالوستې ده هغه ورڅخه اغیزمن شوی دی، خویوه غوښتنه موداده چې که په انګلیسې ژبه باندی هم خپره شی نوډیرښه به وي.

په درنښت

محمد معصوم هوتک - بحرین

۹: دښاغلي عبدالغفارجبیرمناظره، له یوه راهب سره
داپه زړه پورې مناظره چې دانټرنیټ له لارې په ۱۲ برخوکې خپره شوې
او اوس قدرمن جبیر صاحب غوارې په چاپې بڼه یې ترکتونکوپورې
ورسوي
واقعا دایو داسې کټور کتاب دئ چې هرسوال او ځواب یې په یادولو
ارځې اوباید هرمسلمان ددې کتاب هرسوال او ځواب یادکړې ترڅو
وپوهیږي چې اسلام دامن وروروليۍ او سولې دین دئ او په دې مناظره
کښې په ډیر ښه ډول د لم یلد او لم یولد ذات په اړوند او هم
دسرورکاینات صلی الله علیه وسلم په اړوند په ډېرښه انداز
عیسوی راهب ته ځوابونه ورکړل شوي دي
دبیلګې په توګه
دبي بي مریمې رضي الله عنهانوم په قرآنکریم ۳۴ ځلي راغلي دي اوحال
داچې دنبي کریم صلي الله علیه وسلم دمورنوم یوځلي هم نه دي راغلي،
نوموړئې څنګه دوښمنان یو؟ په قرآنکریم کې ۱۹ سورت دحضرت
عیسي علیه سلام دموردبې بي مریمې په نامه سره دي(سورت مریم)،
اوحال داچې په ټول بایبل کې دمریمې په
نامه سره کتاب یاسورت نشته
او همدا رنګه
۱۴۰۰ کاله وړاندي دبشریت سترلارښوداودخداي سپېڅلي استاذي
صلي الله علیه واسلم فرمایلي دي چې شي په راسته لاس خوري او۱۴
پېړۍ وروسته هم دده صلي الله علیه واسلم یوورکي سنت تراوسه
ژوندي دي اوامت مسلمة ئې پلي کوي ایاتردې ستره معجزه؟؟؟
ښاغلی عبدالغفارجبیر چې کوم ځوابونه دې راهب ته ورکړي دي

هرځواب دومره په زړه پورې دي چې سړي ته خندا ورولي
زه نه غواړم چې پردې کتاب باندې څه ولیکم
خو الله ج دې وکړي چې داکتاب دمسلمانانو په مېنځ کښې یو درسي شکل پیداکړي، اوپه کارده چې داکتاب په انګریزي ، عربی، او نورو ژبو هم چاپ شي ترڅو هغه خلګ چې نعوذ بالله عیسی علیه السلام دخدای زوي بولي، ددې کتاب له لارې په حقیقت پوشي، خودکتاب چاپول څه اسانه کارنه دئ بیا دیو لیکوال دپاره دهغه چادپاره چې ټول وخت یې قلم ته ورکړئ وي حتما له هغه سره اقتصادي ستونزي وي ، اوس به دا خدمت هغو ویښ وجدانه اوپر دین مینو پښتنو ته پریږدو چې ددې کتاب په چاپولو کې پوره برخه واخلي ترڅو داکتاب په نورو ژبو هم وژباړل شي
ددې کتاب په چاپولو کې که هرڅوک برخه اخلي دابه د برخه اخیستونکي دپاره صدقه جاریه وي
ځکه چې قدرمن عبدالغفار جبیر ناچاپ اثار هم لری لکه

۳ :ایابایبل دخداي کتاب دي(ناچاپ(
۴ :دعیسایت حقیقت(ناچاپ(
۵ :سوال ځواب(ناچاپ(

نو که نوموړي لیکوال وس درلودای نو بیا ولې ترداوخته پورې درې ناچاپ اثارلري
پکارده چې موږ یواځې ومسجدشریف ته په ورتګ سره بس والې ونکړو بلکه ددین دخدمتدپاره تبلیغاتي اقدام وکړو
محمدعلی، عمری مسلم باغ

۱۰: ګران خوږوروره مناظرته!

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

زه ستاسوددې بې ساري خدمت څخه مننه کوم، اوترهرڅه نه مخکې درته مبارکي وایم.

داسلام حقانیت ترلمرروښانه دی، اویوبې عقل سړی به سترګې وربانډې پټوي، داچې اوس لاهم وصهیونستانو، عیسویانو، ملحدینواونورورمشرکینوته داسلام په حقانیت کې شکونه شته نوزماپه عقیده داددوی په ناپوهۍ دلالت کوي، که څه هم دوی وځانوته دنړۍ متمدن خلک وایي، ځانونه دښه تهذیب وارثان بولي، ځانونه ښه تعلیم یافته بولي،اووځانوته ترټول بشریت لوړمقام ورکوي، وبل لورته دوی پرداسې الهي کتاب باندی ړانده دی، اوچې کله مې دلومړۍ ځل لپاره په بینوااولراوبرویب پاڼوکې دامناظره ولیدل نوډیرخوښ شوم، چې په افغانانوکې هم داسې اشخاص پیداشول چې دعیسایانو سره مناظرې کوي، اوودې ته متوجه شول چې مناظرې وکې اوپرعیسایت باندی لیکنې وکړي.

داچې ګران وروړجُبیرصاحب داسلام لپاره لیکنې اومناظرې کوي، وبل لورته زه وټولو مسلمانانوته که په غرب کې دي اوکه په شرق کې چې له ده سره اقتصادي همکاري وکې ترڅودې وکولای شي چې خپل ټول کتابونه چې لیکلي ئې دي اویایې په راتلونکې کې لیکې هغه چاپ اودنړۍ ترګوټ ګوټ پورې ئې ورسوي، چې داغوره صدقه جاریه ده.

وخدای ته دادرخواست کوم چې ولیکوال ته نوره حوصله ورکړي ترڅوداسلام لپاره تل خدمت وکړي اودکفارولاسونه رالنډکړي، زه دخدای جل جلاله څخه له درباره غواړم چې ګران لیکوال ته ښه صحت، خوشحاله ژوند اواوږدعمرورکړي.

پـه مینه
عمرعلی رضا مشهد - دایران اسلامی جمهوریت

۱۱: ښاغلی د اسلام ولوی عالم ته!

زه ډیرخوښ شوم چې کله می ستاسومناظره دیوه عیسایي مبشرسره ولیدل، زه په هیوادکی دننه وتاسواوستاسووټولو ملګروته مبارکي وایم.

داچې زه یوافغان یم اونه پښتواونه هم دری لیکلای شم نودخپل ځان لپاره شرم محسوسوم، داچې زه په ایټالیاکی زیږیدلی یم نوځکه له داسی کړاوونوسره لاس اوګریوان یم.

ایټالیادکاتولیکوعیسایانومرکز(واتیکان) ته ډیره نژدی (نښتې) ده، اودلته یواځی اویواځی دکاتولیکې کلیسا خبری کیږی، اوځینی خولاداسی عیسایان هم شته چې خلک تروراووژنی(که ددوی خلاف یوڅه عکس العمل وشی)

کله چی مادځینوعیسایي ملګروسره ستاسودامناظره شریکه کړل نودوی داهرڅه راسره تصدیق کړل اوویی منل.

مونږکه څه هم په ایټالیاکی یوخوبیاهم داسلام سره مینه لرو، وتاسوته داوږدعمرغوښتنه کواوپه ټینګه درڅخه غواړوچې داسلام چوپړپه پوره زیاراوکوښښ سره وکړی، ښه دزړه داخلاصه، بله غوښتنه موداده چې تاسی بایدنورې مباحثې اومناظری هم وکړی، داځکه چی مونږوینواوپوهیږو چی عیسایي مبشرین هلته وافغانستان ته درځی اوهلته عیسایت خپروي، اومونږکره معلومات اوشواهدلروچی دوی دایټالی اوواتیکان څخه په لکونوټوکه بایبلونه په پښتواودری هلته دروړی اوهلته یی ویشی؛ نوځکه ستاسومناظری اوداسلام لپاره نه ستړی کیدونکی هلی ځلی ضروری دي.

موږلطفادرڅخه غوښتنه کووچې کله تاسی داکتاب دمناظری چاپ کړی نوراویی لیږی اویوه قربانی به موږورکړو چی فوټوکاپیانی به یی واخلواودخپلوافغانانوورونوسره به شریکی کړو، که تاسی وهرډول کتابوته اړتیالری نوموږته دیوه کشرورورپه ډول سره راڅخه غوښتنه کولای شی.

نیکی هیلی
ستاسوورورپه ایټالیاکی-اسد
ژباړه: محمدابراهیم افغان-ایټالیا

۱۲: ښاغلی تکړه لیکوال جبیرصاحب !
اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته
ډیرخوښۍ احساس کوم چی کله می ستاسومناظره په ګڼوویب پاڼوکی ولیدل، زماپه نظرمناظره دحق اوباطل په منځ کی تله اوترازودی، هره پله چی درنه شول نوهغه حق دی، اوهرپله دترازو چې سپکه شول هغه ناحقه دی، داچې اسلام حق دین دی نوځکه چې ماهرڅه مناظری لیدلی دی په ځانګړي ډول سره دمرحوم احمدديدات مناظری نوپه ټولوکی مسلمانان اتلان راوتلی دی، اومناظره دمسلمانانوپه ګټه تمامه شوی داځکه چی داسلام پله درنه اوحقه ده.
ایاداستاسولومړی مناظره ده؟
که مونوری مناظری هم کړی وی، نوولی یی زموږسره نه شریکوی؟
ایادعیسایانوڅخه ماسوی دنورومذهبودعالمانوسره لکه هندو، بودایی، یهودی، کانفیوشی، اوداسی نوروسره هم دمناظری تکل لری؟
که موځواب هو ! وی نولطفایوڅه معلومات راکړی.

داستاسومناظره یوائې دافغانانواوپښتوژبې لپاره نه بلکې دټولې اسلامي نړۍ لپاره ده، اوداسلامي نړۍ پوهان بایددرسره مرسته وکړي چې وډیروژبوته یې وژباړي، ترڅوګټه یې نړیواله شي.

ګرانه استاده !!!

که تاسې وموږته هرډول خدمت سپاري موږورته لبیک وایو، داځکه چې داسلام خدمت یوائې ستاسوزمه نه بلکې دهرمسلمان نراوښځې زمه ده، داچې تاسې پوهه لرې نوداسې ډیرورونه شته چې ثروت اوشتمنې لري، بایدهغوی دومره پوه شي چې زموږمسئولیت څه دی؟

دمناظرې هرلوستونکې بایدداحساس په ځان کې ژوندی کړي اودرسره اړیکې ونیسي اوستاسواقتصادی مرسته وکړي ترڅوستاسوهرکتاب چاپ کړل شي، خپورکړل شي، وژباړل شي اودنړۍ وهرکونج ته ولیږل شي.

دښه ژونددرته دعاکوو، دښه صحت درته دعاکوو، دښه ساعت درته دعاکوو، دښه پوهې درته دعاکوو، دښه نیت درته دعاکوو، لوی خدای موپخپلوټولوکارونوکې سوکاله ولري، اولوی خدای دې وکړي ستاسوهره لیکنه داسلامي نړۍ دنوی نسل لپاره هدایت شي.

انجینرمحمود - له استرلیانه.

۱۳: وګران ورورتکړه لیکوال عبدالغفارجبیرته !

سلامونه اودپسرلي په رارسیدوسره ګلونه !

زه ستاسودمناظرې څخه ډیرمتاثره شومه، په لیدویې ډیره خوښه شوم، داچې دحق اوناحق دین ترمنځ څومره واټن شته، زماپه انددځمکې اواسمان دواټن څخه هم زیات دی، داچې تاسې دامناظره چاپوی،

نولطفاموغوښتنه داده چې دچاپه وروسته زموږترلاسه پوری راورسیږی، موږبه کوښښ وکړوچې ستاسوپه اجازه سره ددوهم ځل لپاره چاپ کړو، داځکه چې که یې تاسی دلته ومسکوته رالیږی نوکیدای چې ډیره خرچه درباندی راشی، هیله منده یمه چې غوښتنه مو ومنی.

ستاسودامناظره په حقیقت کی یوهدایت دی، اوداوهغوکسانوته چې عیسایان دی، عیسایت خوښوی، اویاهم تکل لری چې عیسایان شی ورته پوره لارښوداوهدایت لاره ده، داچې اوس عیسایت په ګران هیوادافغانستان کی پیل شوی دی،نو زماپه باورداډیرښه کاروشواوکوښښ وکړی چې دچاپه وروسته دامناظره په داخل کی دافغانستان کی نشرکړی.

ستاسوددی چوپړ نه یوه نړۍ مننه

ستاسویوه افغانۍ خور

ثریا- مسکو

۱۴: ګرانه استاده !

لکه څرنګه چې دغه مناظره ترډیره تاسو د یوه عیسوی راهب سره ترسره کړه او هغوی ته مو د هغه د پوښتنو ځوابونه او ستاسی د پوښتنو ځوابونه ویل سوی وه خو حقیقت یو څرګند څیز دی چې ترډیره هرکس پری پوهیږی نو ستاسو پوښتنو اوکلکی مطالعی دا وښودله چې داسلام مبین دین یو څرګند حقیقت دی او عیسوی نسی توانیدلی چې ددغه مبین دین پروړاندی بدی خبری وکړی.

خو ترډیره د عیسوی راهب ځوابونه دومره قوی نه وه او هغه هم نه توانیدی چې تاسی ته دی قوی قوی ځوابونه درکړی خو دا یو ښکاره حقیقت سوو چې ترډیره د عیسوی راهب هغه دین چې دوی یی پرمخ وړی او ورته کارکوی ریښتینی دین نه دی داځکه چې د هغوی کتاب اوس منسوخ سوی او په نامه کتاب دی.

نو هیله ده هغه کتاب چې تاسی یی ددی مناظری په هکله چاپوی دا ترډیره د یوه لوری له اسلام مبین دین سره مرسته ا و له بل لوری به هرکس وه پوهیږی چې بایبل څومره تحریف شوی اوعیسایت تش نوم دی اوبل لورته ئې معنویت له منځه تللی دی.

مننه صفت الله زاهدی

په سهیل لویدیځ زون کی د سلام وطندار او انټرنیوزخبریال

پای.

This document was created with Win2PDF available at http://www.daneprairie.co
The unregistered version of Win2PDF is for evaluation or non-commercial use or